موخه «زده کړه د ټولو لپاره» يوازې هغه وخت د تحقق وړ دی چې چارواکي، ښوونځی او ټولنې د ټولو ماشومانو په وړاندې خپل قانوني او اخلاقي مسؤليت وګڼي.

د ماليزيا لپاره د يونيسکو ملي کميسيون

# EENET Asia خبرلـــيک

## ۲ او ۳ فصل
## ۲۰۰۸ کال



کال ۲۰۰۸

د مطلبونو ...

د ليکونکي د ...

د ميلمه سرمقاله ... انو زده کړ ... ژو ...

زمونږ د خپل راتلونکي څخه مراقبت................................................................
د بنګله دیش د سیمه ایيزې پراختیا د کمیټې په یو ښوونځي کې د هر اړخیزې زده کړې اړوند د زده کوونکو نظریې..........................................................................
تاهیه محبوب.........................................................................................
څرنګه یې EENET Asia ته لیکی..................................................................
د خبیځې اندونیزیا په ښوونځي کې ناسوبوالی (غیر حاضري).........................................
د زده کړې موخه څه ده؟...........................................................................
هغوی اوس زما درناوی کوي........................................................................
د هند په جنوب ختیځو غرنیو ولایتونو کې د ماشومانو د ګډون د کچې لوړوالی....................
عیب پیژندنه- ملګری دکه دښمن؟ د هر اړخیزوالي او عیب پیژندنې تر مینځ اړیکې..............
هر اړخیزه زده کړه، د اوسمهال اړتیا..............................................................
هر اړخیزه زده کړه، د اوسمهال اړتیا..............................................................
ډیوید، د هیلو سرچینه.............................................................................
ټولنیز منل د ښوونځی څخه پیل کیږي: هغه ماشومان چې سره یو ځای زده کړه کوي، یو له بل سره ژوند کول زده کوي......................................................................
زما هیله: ...........................................................................................
ولې مونږ باید یو ځانګړی او مجزا زده کړه نیز نظام ولرو؟.........................................
په لائو کې د هر اړخیزې زده کړې پروژه (۲۰۰۸-۱۹۹۳).........................................
د پاکستان د دولتي ښوونځیو د اغیزمنې روغتیا لپاره له اړینو منابعو څخه د ښوونکو لاسته راوړنې.........................................................................................
زده کړه نیز فلمونه................................................................................
پیښې..................................................................................................
د هر اړخیزې زده کړې لپاره ګردی میز: ستونزې او د حل لارې چارې.........................
مرستندویه ټکنالوژیکي کنفرانس...................................................................
د ژبنی پراختیا په اړه دویم نړیوال کنفرانس، په ژبنی-قومي ټولنو کې د ژبې او د څو ژبو د زده کړې وده...........................................................................
بهرني ښوونکو پورې اړوند مسلکي زده کړو ته لنډه کتنه.......................................

د نړیوالې زده کړې د ۴۸مې ناستې په اړه د اقیانوسي آسیا د سیمه ایز کنفرانس چمتووالی....

د آسیا په سویل کې د (ټولو لپاره زده کړې) په ترڅ کې د سیاست د مرور کنفرانس.............

لوستونکو ته ځوابونه.........................................................................

ګټوري خپروونې..........................................................................



د پوښ انځور د الکساندر او فسنکو له لوري، یونیسیف-مسکو

۱ او ۲ انځورونه د IDP Norway او ۳،۴ او ۵ انځورونه د سیمون بیکر لخوا

د لیکونکي ډلې په قلم:

ګرانو لوستونکو، د EENET Asia شپږمې ګڼې ته ښه راغلاست. ونیتا کاول ته مو بلنه ورکړې چې د میلمه په توګه یو مقاله د ( زده کړه، د ماشومتوب په دورې کې د ژوند پوړ ). تر عنوان لاندې ولیکي. د افغانستان بنګله دیش او تاجکستان له ښوونځیو څخه د ماشومانو غږ ، د زده کړې د هر اړخیز کولو په اړه د ښوونکو لاسته راوړنې او د افغانستان، پاکستان او قرغزستان په ښوونځیو کې ماشومانو ته د مناسبې فضا چمتو کول د دغې خپروونې له لارې ټولو ته رسیږي. دغه کار په سیمه کې چې کوم پرمختګونه په دې ورستیو کلونو کې شوي دي څرګندوي. هغه ګزارشونه چې په کلمبیا، هند، لائو، پاکستان او تیمور لسټ د هر اړخیزو زده کړو له برنامو څخه تر لاسه کوو، دې ته مو هڅوي چې مخ پر وړاندې ولاړ شو. او په هغو هیوادونو چې هیڅ سرچینه نه لري مونږ ته د هر اړخیزې زده کړې د برنامو تر سره کولو د څرنګوالي په اړه تصور راکوي.

درې خیرنیزې برنامې په افغانستان کې د ښوونځیو د سلامتیا، د مرکزي آسیا او ازبکستان د هر اړخیزې زده کړې او عیب پیژندنې تر مینځ د اړیکو، او کوم خنډونه چې په اندونیزیاې ښوونځیو کې د حاضرۍ او نومونو د ثبتولو په لارې کې شتون لري په دې مقاله کې ځاې پر ځاې شوي دي.

هیله من یو چې دغه مالومات ، تاسې وهڅوي چې لا زیات څیرنیزې چارې تر سره کړې او لوستونکو ته یې ورسوی. د هند یوه مقاله د فلمونو ارزښت د ماشومانو لپاره د هر اړخیزې او مناسبې زده کړې په اړه د خبرتیا د کچې په لوړوالي کې څرګندوي.

زمونږ د ډیرو همکارانو زړورتیا په جنګي سیمو کې له کار کولو څخه مونږ ته الهام راکوي. طالبانو په سلګونو انجونې ښوونځیو ته د تللو له کبله وژلي دي او د نړیوالو ژغورنې په کمیټه (IRC) کې زمونږ څلور تنو همکارانو د روان کال په لومړیو کې ډیرې سربښندنې وښودلې، او په دې توګه توګه شوي هیواد کې ماشومانو ته د زده کړې له کبله د طالبانو

لخوا ووژل شول. پر هغه غم سربیره چې په زړه کې یې لرو دا هم هیرنه کړو چې د هغو او نورو ټولو دولتي او غیر دولتي سازمانونو د بې شمیره غړو د هڅو په نتیجه کې ۲،۱ میلیونه افغانیو انجونو په ښوونځیو کې نومونه ثبت کړل، چې دغه شمیره ۷ کاله پخوا صفر وه.

د هغو پیښو ګذارشونه چې له دارالسلام، هند، اندونیزیا، نیپال، تاجکستان او تایلند څخه بهر واقع شوي دي زمونږ لاسته راغلي دي د EENET Asia خبرونو وروستۍ ګڼه به د مارچ په ۲۰۰۹ نیټې خپره شي. هیله لرو چې خپلې مقالې، ځوابونه او د هغو پیښو ګزارشونه چې ستاسې په ښار یا هیواد کې پیښیږي مونږ ته یې راولیږئ مونږ سترګې په لار یو.

د میلمه سر مقاله: د ماشومانو زدکړه، ژوند ته مخه کول دي.

وینتا کانول

آیا تر اوسه پورې مو د یو ماشوم یا کوم انسان د لومړني کلونو د ژوند اهمیت ته فکر کړی. لکه څرنګه چې چا په ریښتني توګه اشاره کړې ده دا د هر ماشوم لمړني کلو نه تر وروستني عمره پورې یې ورسره پاتې کیږي همدا رنګه زمونږ آسیائی فرهنګی میراث 5 لمړني د ماشومتوب کلونه شکل اخیستنه ګڼي چې په دې لړ کې ماشوم اړزښتونه منی او خپلو کړنو ته شکل ورکوي چې د عمر تر پایه به ورسره پاتې شي او همدا رنګه وروستۍ څیړنې د روانی علومو په برخه کې خاصتاً د مغز د پرمختګ په هکله تاکید کوی چې د ماشوموالي لومړی نی کلونه په ژوند کې اساسی رول لری. د دې لپاره چې د مغز پرمختګ په دې کلونو کې له لیږ او د لوړ پرمختګ لرونکی دې شواهد شته چې ښايي چې هغه تجربی د مغز د پرمختګ لپاره په د یوسر په لومړنیو کلونو کې عصبی رشتې زیست (اوسیدو ځآی) پیژندنه مینځ ته راوړي جې د یو کس په صحت زدکړې د ژوند په اوږدوکې تاثیر لری.

زیات شواهد شته ښايي چې ژوند په لومړنیو کلونو کې د دورو پړاونه موجود دي چې له هغو څخه د مهمو او اساسی دورو د توسعې پیژندنې ځانګرتیا او ټولنیز چارچلند او روان سنجي تر عنوان لاندې یادیږي، چې د هر چا د ژوند وروستۍ بریالیتوب اساسی سبب ګرځي.دا دوره د ژبې توسعه او ټولنیز مهارتونه، لوړ فکرونه او هغه مهارتونه چې د مقایسې پر ډول دی د ځانګړنې په توګه رول لري. چې دا ټول د ښونځي پر مهال او د هر سړي په ژوندانه کې اهمیت لري.

که پدې مهمه دوره کې یو ماشوم له داسی یو څرګند چاپیریال غنی فزیکی او رواني ټولنیزه ګټو څخه برخمن نشی، د هغه د مغزی پرمختیا فرصت د امکان په لوړ حد کې په نظر وهل شوي توګه او وروسته په غیر قابل جبرانی توګه کموالی مومي.

دغه ساحوی څیړنې په ځانګړې توګه د توسعی په حال کې پیژندلی دی. چې په هغوی کې د ژوند فرصتونه او موقعیتونه د ماشومانو د رسیدو په زیاتو هیوادونو کې چې ماشومان یې په غریبۍ او بیچاره ګۍ ښونځي ته د ورتللو عمر ته رسیږي د اجتماعی او پیژندنې د توان له کمزورتیا سره مخامخ دي. کوم کارونه چې باید منطقاً په دې کلونو کې تعقیب شي د ماشومانو د یو مناسبه محیط د تضمین په خاطر حیاتی اهمیت ته پانګه اچونه ده چې په پایله کې یی د یو سالم او ښه ژوند اساس دي دا خبره نه یوازی د یو ماشوم حق دی بلکه دا د هیواد لپاره د اوږد مهالي انسانی کیفیت پانګه ده په خاص ډول زمونږ په سیمه کې (چې په راتلوونکی کې زمونږ لپاره د قوی او تکړه ځوانانو د لرلو ویاړ وي) تاثیر اچوي. خو څرنګه کولای شو اطمینان حاصل کړو چې د ټولو ماشومانو ژوند له یوې روغې او سالمې مرجع لرونکي وي؟ د دې لپاره چې د یو ماشوم د ژوند د لمړیو کلونو د ښې پانګې اچونې پخاطر وکولای شو سر ته ورسوو استفاده د یو باکیفیته برنامې (زده کړی او د ماشوموالی پړاو ساتنه) (ECCE) د نړیوال تحقیقات ډېری څرګندوني په دې کوی کومو ماشومانو چې پورتنۍ برنامې په شا پرایښي وي په خپل ژوند کې په خاص ډول د کورني ژوند د کیفیت په اړه، کاری وضیعت او ټول مطابقت له ټولنی سره موافق شوي دي. د اجتماعي، اقتصادی او جمعیتي تغیرات په وروستنیو لسیزو کې د غالب ګمان هغه کورونه چې د ماشومانو د ښی روزنې لپاره نه دي برابر شوي شامل دي، په ماشومتوب کې د باکیفیته تعلیم او تربیې ضرورت ته تردي چې ډېر اهمیت یې هم پیدا کړی. مزبوره تغیرات خاص د هغو تغیراتو سره په اړیکو کې دي چې د کورنۍ په جوړښت کې مینځ ته راغلی، د ګډو او لویو کونیو څخه تر هسته یي کورنۍ، د دې لپاره چې مخکې د یو ماشوم لویدل د ګډ او لویې کورنۍ مسؤلیت و خو اوس یوازی د مور او پلار په غاړه دی. حتی تر دې چې دغه مسئولیت د طبقه بندي شکل غوره کړی په دی مفهوم د ماشومانو طبقه د اقتصادی ټولنی د حقوقی کسانو په لاس چې په خاص ډول زدکړی یې

لاسته نه وي راوړي او په مؤقت ډول په داسی حال کې چې سپارل کیږي په کمو اقتصادی ټولنیزو برخوکې د ماشومانو د ساتنی مسئولیت معمولاً د لویو خویندو په غاړه وی. چه په غالب ګمان د هغوی روزنه د ښونځی څخه بهر کیږي او د ماشوموالی وخت یې عیث او له تحصیل څخه پاتې کیږي. علاوه پر دې د ښار اوسیدني پرمختګ د میندو دندې د کور څخه د باندې زیاتوي چې د ماشومانو روزنه په کور کې یعنی په غیر رسمي ډول له منځه وړي. دغه ټولنیزه تحولات د ژوند د لمړنیو کلونو د اهمیت سره په ځنګ کې دي چې د یو باکیفیته ژوند په لرو سره، په کوچنی والی کې زدکړې او ساتنه (ECCE) څرنګه دی؟

یو باکیفیته برنامه په کوچنې والی کې زدکړې او ساتنه (ECCE) مهمه برنامه ده چې د ماشومانو ټول ضرورتونه لکه روغتیا، تغذیه او لمړنې زدکړو څخه حمایت کوي. په داسی حال کې چې د ژوند په لمړنیو دریو کلونو کې د ماشومانو تغذیوی ضرورت لومړیتوب لری. د دې لپاره چې د ژوند دغه پړاو خورا مهم پړاو دی ډېر امکان لری ماشوم ښه تغذیه شي.

د ماشومانو د مناسبی روزنې برنامه د 3 تر 6 کلونو عمر پورې لومړیتوب لری چې په اوسني وخت کې د نړی په ډېرو هیوادونو کې دغه پړاو تر 8 کلنی پورې ادامه لری، د دې لپاره چې باور په دې دی چې رشدي ضرورتونه او د ماشومانو شخصیت د 6 څخه تر 8 کالو د ابتدایی دورې د روزنې په زیات مطابقت ولری د ماشوموالی د کم عمره دورې سره ګډې اړیکی لری نو د میتدولوژۍ زدکړی او په لوبو او فعالیتونو کې یادول د ماشومتوب دوری د روزنی او ساتنی برنامی په لار کې دوام ولري .

په مسلمه توګه باید د 6 نه تر 8 کلنی پوری د پرېښودونکی دورې په توګه وکتل شي چې د امکان تر پوړه د ماشومانو لپاره د خوښی دوران اوسي تر څو وکولای شی د زدکړې ډېرې رسمی غوښتنې په لومړینو زدکړو کې په بریالیتوب سره ځواب کړي. د یوې مناسبی پرنامې (د ماشوموالی په لړ کی زدکړه او ساتنه)، په ټولو دوروکې د ماشومانو عمده روزنه توسعه ده او د حرکتی او فزیکی توسعی لپاره شامل فعالیتونه، ژبنې وده، ټولنیزه او عاطفی وده ولري. د پیژندې وده او همدارنګه د ښایست پیژندنې او خلاقیت (نوښت) قدرتی توسعه په ماشومانو کې وي.

د زدکړی د متخصصینو په اند په دی مرحله کې لوبې د زدکړې تر ټولو غوره وسیله ده. په دې خاطر چې لوبی د ماشومانو لپاره طبیعی امر ګڼل کیږي او تر څنګ یې د ماشومانو اساسی علاقه او د خلاقیت (نوښت) کنجی نسبت زدکړی ته ده. ښه په دا وی چې په ماشوموالی کې د زدکړی او ساتنې دوران د ماشومانو په مورنې ژبه وی د دې لپاره چې د پیدایښت نه تراوسه ورسره آشنا وي. په دې ډول هغوی کولای شي نوې پوهه په آسانی سره زده کړی او پرمختګ وکړی د ماشومانو فعالیتونه باید وسائل شي او تشویق کړای شي. او باید داسي فورمول طرح شی چې د توسعې ټول جانبونه وڅیړي په داسي ډول چې د ماشوم پرمختګ په کې ګام په ګام وي.

همدا رنګه د هغوی دشدي غوښتنی په پیچلي شرایطو کې ډېر والی مومي د همدي لپاره د لوړ تشویق لپاره ضرورت لري. هغه فعالیتونه د لوبی په ګروپونو کې محسوسیږي عبارت دي له: داستانونه، شعر، تربیتي لوبی، عددی لوبې او وړاندی عددي، موسیقي او تحرک، د هر پیدا کوونکی او مهارتونه، له نانزکو او د لوبو سپك سامان، د حرکتی برخې پیاوړتیا او ودې لپاره فعالیتونه، د یو نمایش ښودنې پیدا کول او هغه فعالیتونه چې مد ماشومانو لپاره د کشفولو اجازه، د تجربې ټولول (جمع کول)، پوښتنه کول دلیل ویل او د وړو ستونزو حلول دی ورکوي. د لوبو لپاره لازمه وسایل زده کوونه چې عبارت دی له: د تصویر لرونکو داستانونو کتابونه، د داستانونو کارتونه، ساختمانی قطعات، او نور په لاس جوړ شوی وسایل پازل، نانزکې او د لوبو سپك سامان د تفکر او، تخیل لپاره، د ژبی اعداد او ارقامو لپاره د زدکړی کارتونه، د تصویرونو د لوستلو لپاره وسایل، باید یکننې شوی او آزادو لوبی ترمینځ میزان، د ټولګی دننه لوبی او له ټولګي څخه بهر لوبی، له ځان سره لوبی کول، وړې او غټې ډلې همدا رنګه هغه فعالیتونه چې په غلي (خاموش) ټوګه ترسره کیږي او هغه چې د زیاتي انرژۍ ته ضرورت لری تر مینځ توازن برقراره شي. کوم ماشومان چې د 5-6 کلنی پوری وی هغوی د ښوونځي ته د تړ لپاره ضرورت لری د مهارتونو او مفاهیمو په هکله مخکی له لیکلو، ویلو او اعدادو د شمیرلو څخه باید فعالیتونه ولري په دې خاطر د ماشوم ځرخونی لپاره به برنامه هغه برنامه چې د ماشومانو د رشدی ضرورت پر مبنا، خصوصیات او علایق یې طراحي شوی او همدارنګه د لومړنیو او رقابتي مهارتونو برخو لوړوالی چې ماشومانو ته تیار شوی وی چې د دې له مخې هغه ماشوم د ښوونځي تړ او همدارنګه د ژوند په چاپیریال کې ننوتو ته تیاریږي. د دې فعالیتونو د یوې برخې لست د آسانه پیدا کیدو لپاره د دې چپټرو پاڼې ته منځنی برخې کې شتون لري. ښوونکی کولای شی چې دغه لست د یو دیوالي چارت په ډول په ټولګی کې ځآی پر ځآی کړي تر څو تل د کوم هدف لپاره چې زحمت وباسي په یاد کې وساتی چې په دې حالت کې د ښوونکی د تدریس د تمرکز د له منځه وړلو احتمال شته. متاسفانه که چیرې مونږ ځیر شو نو دغه پرمختللی برنامه (په ماشوموالی کې د زدکړی دوران) د خوراکمنو ماشومانو په برخه شوی، په داسی حال کې په ډېری غریبه ټولنه کې د دغې برنامې څخه برخمن نه دي او په خصوصي وړکتونونو کې چې د سمارغ په شان دي ځای پر ځای شوی. د پیژندنې د سیستم یا د مقرراتو د شتون خلا، معمولاً د دې وړکتون د اداري مربیانو په واسطی کیږي. چې د ماشوموالی د زدکړي د دوران د مهارتونو او زدکړې څخه بې برخی دي. چې په پایله کې په دغه وړکتون کې رسمي زدکړی سوادي او د اعدادو شمرل (چې قایدتاً په لمړنې ښوونځی ښودل کیږي) تدریس کیږي. دا زدکړې په داسی حال کې ده چې ماشومان نظر په بلوغیت او

تجربوی آماده ګی نلري چې دا کار ﭙیات اکادمیك فشارونه په ماشومانو راوړي چې د هغوی د رشد او پرمختګ لپاره زیانمن دی، پلټونو ښودلی ده چې کله ماشومان وغواړی چې کوم شیان یې یاد کړی حتی هغه شیان چې په مصنوعی او د طوطي په شان په یادو یاد کړي، عملی کړی دا د دې سبب کیدای شي د هغو شخصیت په رشد باندې ناوړ اغیزې وکړی. د هغو څخه دا هیله کیږي چې تر هرڅه یې وړاندې زده کړي چې دا به د هغوی د بریالیتوب خنډ شي چې په پایله کې په دا یوه (احمقانه زدکړه) ونوموو، په دې معنا چې ماشوم په حقیقت کې ناپوهه (نادان) نه دی. خو د دې ناوړه توقع په دلیل، په دې باور کوی چې نادان دی او په حقیقت کې د ژوند د اعتماد سطح له لاسه ورکوی او دویم معکوس تاثیر دا دی چې په لوړو زدکړو کې ضعیفوالی ښایي چې لاندی ټولي زدکړې او لوړی زدکړی د دې فشار لاندې ماشومان د طوطی په شان زدکړه کوي چې دا کار د ماشوم د توازن له مینځه وړل دي. ځکه چې نور ژبنې او پیژندل شوی مهارتونه یې په هغه حد کې چې پکار دې، نه دې رسیدلي او رشد یې نه دی کړی. تر ټولو مهمه دا چر د (پدیدۀ) به شاهد یو چې د (علاقې د تخریب په فرضیې) پیژندل شوی دی. یعنی ماشومان کوښښ کوی چې کوم مهارتونه د هغی څخه غوښتل شوی دی. زده کړي خو د زدکړې د بې ځایه دلیل د فشار په سبب هغوی خپل علاقمندي او هڅې د مهارتو څخه د ګټې لپاره له لاسه ورکوي. آیا تر اوسه پوری مو نه دي اوریدلی چې زیاتره ښوونکی او مور او پلار شکایت لري چې ماشومانو یې پرته له خپلو هیلو څخه لوستل زده کړی دي خو دا هیله نلری چې خپل درسي کتابونو نه پرته بل کتاب ولولي! د پر مختللی مناسبه زدکړې برنامه له سره نیول شوی مناسبه وی او د اوږدمهال لپاره ماشومانو ته پایلې ولري نو ډیر مهم دی چې مونږ ښوونکی د یو بل سره د مشورې په اړخ کې خپل معلومات او علم دیوی ښی برنامې (په ماشوموالی په دوران کې ساتنه او زدکړه) لرونکي او سونو په ډیر ساده توګه کولای شو د یوې ښې برنامې غوښتونکي شو او په سرته رسولویې د هر ماشوم حق ادا کړو.

میرمن ونیتا کائرل، په نوې دهلي کې د جنوبی آسیا د جهانی بانك د بشری انکشاف مرکز د بخش د زدکړی تر څنګ د ماستری لرونکې ده. د هغې سره په لاندی پتې کولای شی چې اړیکه ونیسی.

Vkavi@worldbank.org

The World Bank. To Lodi Estate, New Delhi 110 003 India

د نیکول دایل Nicole Dial په یاد او خاطرې کې ، شیرلی کیس Shirley Case، محمد ایمل، ذبیح الله (IRC Afghanistan) او جکی کیرك (مرکزی دفترونه IRC Afghanistan) او د ټولو ملی او نړیوال مدرسونو ښونکو، میندو او پلرونو پیاوړو زدکونکو او هغه متعهدین چې د ماشومانو د زدکړی په خاطر زیانمن شوی خاصتاً د هغو هیوادونو چې جنګ ځپلي او د نظامی جګړو ښکار شوی دي. په جنګ ځپلي هیوادونو کې د زدکړې ښه کوول:

په جنګ ځپلي هیوادونو کې د زده کړې پیاوړي کول: د مناسبې زده کړې لپاره بیاجوړونه

**د لیکونکې ډلې هئیت**



د سویډن د ماشومانو د ژغورنې موسسې له لوري

زده کړه د بشري حقوقو یو اصل دي چې ټول ماشومان حتي هغوي چې په جګړه ځپلو هېوادونو کې ژوند کوي باید هغه ته لاسرسی ولري. زده کړه کومه د خیرغوښتنې چاره نده بلکه د بشري او ملي پرمختیا بنسټ جوړوي. په بېړنیو شلایطو کې باید د زده کړې چارې رواني وي یا د شونتیا په لومړنی موقع کې له سره پیل شي. ماشومان د خپلو زده کړه ایزو حقوقو او اړتیاوو څخه د برخمنتیا لپاره د جګړو اوشخړو پاي ته رسېدو ته منتظرپاتې شي. (( له جګړو څخه د اغېزمن شویو ماشومانو د زده کړې سیسټم)) له اسنادو او زده کړه ایزو پلانونو، نړیوالو ښوونیزو کنفرانسونو او د (( زده کړه د ټولو لپاره)) د اړونده مذاکراتو څخه برخمن ندي. سره لدې چې په 2000 کال کې د ډاکار عملي کاري چوکاټ بیانوي چې نړیواله ټولنه د (( زده کړه د ټولو لپاره)) د پلان د پلي کولو لپاره باید د جګړه ځپلو هېوادونو د ښوونیزو نظامونو، طبیعي بلاګانو، او د عامه زده کړې اړتیاوې پوره کړي. په دغه ډول شرایطو کې پدې موخه نړیوال همکاران د دولتي او غیر دولیت شریکانو په مرسته باید زده کړه له سره پیل کړي.

پوځې شخړې او نښتې د یو زیات شمېر خلکو د بې کوره کېدو لامل کېږي او ماشومان له جدي ګواښونو سره مخ کوي. هغه ځوانان چې د جګړو او نښتو په شرایطو کې ژوند کوي، د رواني ټکان او مرګ له ګواښ سره مخ دي اوهمدارنګه پر دوي اجباري استثماري کار یا پوځي خدمت ته جذب کېدل یا هم له دوي څخه د جنسي مریونو په توګه ناوړه ګټه اخیستنه له تمې لیرې نده. په اصل کې ماشومان په دغه شرایطو کې له نویو مسئولیتونو سره چې د لویانو اړوند دي، لکه دژوند د لګښتونو پوره کول، یا د کوچنیو وروڼو او خویندو ساتنې سره مخ کېږي. حتي هغه وخت چې جګړه او شخړه پاي ته ورسېږي هم د دوي ژوند تباه شوي دي ځکه چې د هغوي د زده کړې سن تېر شوی دی او فرصت یې له لاسه وتلی دی.

په جګړه ځپلو هېوادونو کې د زده کړې له ځانګړو ننګونو سره مخ دي. پوځي نښتې پر زده کړه ایزو نظامونو بده اغېزه کوي، کورنی تیتوي، پایښت او ژوندي پاتې کېدل تر ټولو اړینه چاره ګرځوي او د زده کړه ایزو نظامونو د له منځه تلو لامل کېږي. سره لدې هم زده کړه کولاي شي مهارتونه او لازمه پوهه چې د دوي د ژوندي پاتې کېدو لپاره اړینه دي د ماشومانو په واک کې ورکړي او هغه وخت چې لوي شي د پوځي شخړو د بیا پېښېدو د شونتیا کچه راکموي. د یوه رسمي یا غیر رسمي ښوونځی په محیط کې ماشومان کولاي شي د دوي د بیاروزنې او د رواني غمونو د بیاجوړولو بهیر پیل کړي او همدارنګه پرته له کومې وېرې د هغوي احساسات بیان کړي. ښوونځی د ماشومانو په ملاتړ او د هغوي د احساساتو درک او همدارنګه د هغیو ټولنیزه پرمختیا د سوکالۍ، امن او فرصت د چمتو کولو له لارې چې د هغوي لپاره ښوونکي هم زده کړې او ملاتړ ته اړتیا لري، حیاتي او ارزښتناک دي.

هره ورځ ښوونځی ته تګ د نورمال او طبیعي والي حس راپیداکوي او یوازې پداسې چاپېریال کې دی چې ماشومان اجازه مومي چې دیوه ماشوم په ډول کړنې وکړي. په جګړه ځپلو ټولنو کې زده کړې ته باید د اوږدمهالي سولې او سوکالۍ د اړتیاپه توګه وکتل شي.

که څه هم د هغه ماشومانو شمېر چې لومړنیو ښوونځیو ته د تګ په عمر کې دي مګر ښوونځی ته نه ځي، پدې وروستیو کې له 100 میلیون څخه 72 میلیون کسانو ته راکښته شوی دي، مګر د جګړه ځپلو هېوادونو وضعیت په کمه کچه ښه شوی دی. په حقیقت کې د هغه ماشومانو چې په ټوله نړۍ کې ښوونځی ته نشي تللاي نیمه برخه پدې هېوادونو کې ژوند کوي.

په کلونو کلونو وخت نیسي چې یو زده کړه ایز نظام چې په جګړه کې وي بېرته ښه والی ومومي اولومړني وضعیت ته وګرځي؛ حتي شوني ده چې یو نسل له زده کړې او د هغه له ګټو په ټولیزه توګه بې برخې شي، همدارنګه په جګړو ځپلو هېوادونو کې د زده کړې په برخه کې کمه نړیواله پانګونه یوازې په کمه کچه کولاي شي اوضاع تسکین کړي. د هغه شلو هېوادنو په منځ کې چې په 2008 کال کې د ګواښ سره مخ هېوادونو په توګه اعلان شویدي د افغانستان، پاکستان، سریلانکا او شمالي کوریا نومونه لیدل کېږي. زیات شمېر هېوادونه د ناکامو هېوادونو په نوم لړ کې راځي چې خپله د دغه پیغام لېږدوونکي دي چې شخړې او جګړې د بېوزلی لامل کېږي او برعکس؛ په همدې حال کې تاریخ هم مونږ ته را زده کړې چې د هغه هېوادونو چې د سولې لاره یې غوره کړې نیمایي یې له پنځه کلونو وروسته له جنګ جګړو سره مخ شویدي. سریلانکا او ختیځ تیمور دوه هېوادونه دي چې د شخړو او بېړنیو حالاتو د تګ او راتګ سره مخ دي. ماشومان زیاتره د خپل ماشومتوب دوره په بېړنیو حالتونو کې تېروي. په دغه ډول شرایطو کې د زده کړې

ملاتړ ، پراخې زده کړې ته په ځانګړې پاملرنه د ټولو لپاره لومړيتوب نلري. په هر حال تجربې ځرګندوي چې حتي په تر ټولو ننګوني شرايطو کې هم د لوړ کيفيت زده کړه شوني ده. په افغانستان کې په تېرو څو کلونو کې د نوم ثبتولو کچه په بيا بيا زياته شوېده. لومړنيو ښوونځيو ته د 7.1 ميليون نجونو تګ د افغانستان په تاريخ کې تر ټولو زياته شمېره او په حقيقت کې د دغه هېواد په تاريخ کې يوه ارزښتناکه مرحله ګڼل کېږي. سره لدې لا اوس هم زيات شمېر نجونې د دوې د زده کړې په لار کې له لويو ستونزو لکه ، د ښوونځيو نشتوالی، د ښوونځيو واټن او ليرې والی او په ټيټ عمر کې ودونو سره مخ دي. د افغانستان په سويل او ختيځ کې د امن نشتوالی او همدارنګه پر ښوونځيو تنظيم شويو بريدونو ښوونځيو ته د ماشومانو لاسرسي له ستونزو سره مخ کړيده، د دې تر څنګ چې لږکي (اقليتونه) او معلول ماشومانو د عمومي زده کړې له حق څخه بې برخې دي.

اوس مهال په افغانستان کې ملي او نړيوال سازمانونه د ښوونځيو د رغولو او بيارغولو، د ځاي او همدارنګه د بکسو او کتابونو د چمتو کولو له لارې اوهم د هغه ماشومانو چې ښوونځی ته نه ځي د هغوي د سني ډلې سره د همغږي کولو د پلان جوړولو د چټکتيا له لارې د پوهنې وزارت د پياوړتيا لپاره هڅه کوي. برسېره پردې د کوچيانو، سکانو لږکيو، معلولو ماشومانو، کورني بېځايه شويو ماشومانو او هغه ماشومانو چې له ګاونډيو هېوادونو ته راستنېږي، په ګډون ځنډو ته د شړل شويو ماشومانو پرمختګ لپاره نارسمي او پراخ پروګرامونه په پام کې نيول شويدي.

اوسنۍ هڅې په حقيقت کې دوه ګوني کړني دي چې د هېواد د عملي او سملاسي زده کړه ايزو اړتياوو، او د اوږدمهاله زده کړه ايزو اړيتا تر منځ انډول رامنځته کړي او د ملي پرمختيا په موخه بنسټ ايښودل شوي وي. د بېلګې په توګه افغانستان څو سوه زره ښوونکو ته اړتيا لري چې د هغوي له ډلې 48 زره يې بايد ښځينه وي، البته په هغه صورت کې چې د نوم ثبتوني د کچې د لوړتيا شاهد وو. په افغانستان کې د ښځينه ښوونکو يوازې دريمه برخه د اړينو زده کړو څخه برخمنې دي. کابو27 زره ښځنيه ښوونکي چې همدا اوس په ښوونه بوختې دي د پوهې او ښووني په برخه کې مسلکي ملاتړ ته اړتيا لري.

په جګړه ځپلو هېوادونو کې د ماشومانو وضعيت د هغه کېښتۍ د غرقېدو وضعيت په څېر دی چې نجاتي قايق ته اړتيا نلري. ددغه ماشومانو برخليک د هغه لومړني قايق په ګرو کې دی چې د هغوي د خلاصون لپاره د دوي لوري ته راځي. د نجات دغه قايق کېداي شي يوه پوځي ډله، جنايي ډله، تندلارې ډله يا هم يوه ښوونځی وي. که هېڅ يوه ښوونځی هغوي خلاص نه کړي يا د خلاصون قايق د ښوونځی په عمر د ټولو ماشومانو د پورته کولو لپاره ځاي ونلري، دغه فرصت په حقيقت کې نورو ډلو ته پرېښودل کېږي چې اغلباً تخريب کوونکي دي او اجباري ټاکنه پر هغوي تحميلوي.

د دغه ننګونو سره سره افغان ماشومان او د هغوي کورنيو په ډاګه کړې چې د جګړو، شخړو او ناامنۍ سره په مخ کېدو د زيات انعطاف منونکي دي. اوس بايد زده کړه د سولې د ټينګښت او د جګړو او شخړو د مخنيوي د يوې وسيلې په توګه وکارول شي. د ځانګړو مداخلاتو پلان او ترسره کول چې ښايي د هېواد په مختلفو سيمو کې سره توپير ولري، ( ددې ترڅنګ سيمه ييز امن، د حکومت ظرفيت، هغه سيمو چې تر ټولو زيات اړ دي او د بسپنه ورکوونکو سره د ښې همکارۍ ځرنګوالي او همدارنګه پدې برخه کې سيمه ييزو هڅو ته په پام) د زښت زيات ارزښت لرونکي دي.

د افغانستان په کليو کې د زده کوونکو د نوم ثبتولو کچې په 2002 کال کې په سلو کې د 400 د پام وړ سلنۍ زياتوالی موندلی دي. سره لدې هم يوازې نوم ثبتول او ښوونځی ته تګ بسنه نه کوي او دغه ډول کلي بايد له نورو معيارونو سره چې ددې ځرګندوي دي چې په ښوونيز ټولګې کې د زده کړې او پوهې په برخه کې څه پېښېږي، وسنجول شي. د زده کړې د ځانګړې غبرګون هم بايد همدارنګه انعطاف منونکی وي او په ټوليزه توګه د روغتيا، تغذيې، د ځښاک د اوبو او همدارنګه د ناپاکو اوبو د تخليې، ښوونيز چاپيريال، ملاتړ او نورو بنسټيزو او حقوقي اړتياوو راچاپيروونکی وي او ټول بايد د دغه ځانګړې د ظرفيتونو پر بنسټ وي. د ښوونکو روزنه، د ښوونيز چاپيريال په پلانونو او مديريت کې د ټولنې ورګډول او د تبعيض له پلو د ښوونيزو توګو بياکتنه او همدارنګه په عين وخت کې د داسې پروګرامونو په پام کې نيول چې د بشر د حقوقو او سولې زده کړې او تمرين ورکړي، د ښووني د کيفيت د لوړلو لپاره اړينه چاره برېښي. ښوونه بايد په افغانستان کې د ملت جوړوني له بهير سره يو ځاي کړل شي.

د عدم تبعیض پر بنسټ ولاړه ښوونه باید د هرې مسئولانه چارې سره ادغام شي. هغه ښوونیز پروګرامونه چې په مناسبه توګه پلان شوي وي، د مسئلې، شخړې او نښتې د مسئلو د حل، د ماشومانو د هویت پېژندنې، رواني او ټولنیز او فزیکي پلوه د سولې ،برابرۍ او د بشر د حقوقوانډولتیا هم باید ملاتړ وشي. په دغه پروګرامونو کې همدارنګه د ژوندانه د مهارتونو ښوونه او د ماین پوښل شویو ځمکو او همدارنګه ایډز او د HIV ویروس په اړه د پوهاوي ورکول پکې راځي. حتې د سولې په وخت کې د زده کوونکو ځینې ډلې لکه نجونې، معلول ماشومان او لږکي(اقلیتونه) ښایي د ټولنیزه پلوه څنډو ته ووهل شي او د عمومي زده کړې له حق څخه بې برخې شي. په بېړنیو حالاتو کې ښايي هغه ډلې چې له خپلو حقوقو څخه بې برخې کړل شوي زیاتې شي او د ځانګړو اړتیاوو لرونکي ماشومانو نوې ډلې لکه سرتیري ماشومان، په ځمکو کې د ابښودل شویو ماینونو په وسیله معلول ماشومان، له کورنیو څخه ګوښې شوي ماشومان، کورنۍ بېځایه شوي ماشومان، کډوال او یتیمان راښکاره شي. د ښوونیز نظام بیارغونه د باکیفیته ښوونې چې د ټولو ماشومانو د اړتیاوو ځواب ورکړي، د وړاندې کولو لپاره تر ټولو غوره وخت دی. دا هغه فرصت دی چې افغانستان یې باید له لاسه ورنکړي.

| |
|---|
| نیکول، شرلي او جکي دغه فرصت موندلی چې په نه ستړې کېدونکې توګه د داسې ښوونې د وړاندې کولو لپاره چې د زده کړې تر ټولو غوره حالت ولري، کار وکړي. د دغه کسانو سره مرسته د افغاني ټولنې د افرادو، کارکوونکو، د هغوی د همکارو ډلو په زړونو او ذهنونو کې انځور جوړ کړی دی. موږ ځانونه ژمن ګڼو چې د هغوی کار ته دوام ورکړو او هغه ارزښتونه چې هغوی رامنځته کړي، ژوندي وساتو. |



د سیمون

پر ماشومانو پاملرنه

زمونږ د خپلې راتلونکې پاملرنه ده

فریدا توروبکوا

د درې ورځو ښوونیز پروګرام وروسته مې پام شو چې په هېواد کې د ماشومانو مختلفې ډلې ژوند کوي؛ معلول ماشومان، د بېوزله یا زیاتواولادونو لرونکو کورنیو ماشومان، کارکوونکي ماشومان یا هغه ماشومان چې نور نو د خپلو پلرونو او میندو تر سرپرستۍ لاندې ندي. لدې کبله موږ ښوونکې باید د میندو او پلرونو، ټولنې او دولتي چارواکو په مرسته داسې فضا رامنځته کړو چې په هغه کې ماشومان وکولای شي د نورو ماشومانو تر څنګ زده کړه وکړي او په کورنیو کې یې ژوند وکړي. (( پر ماشومانو پام ساتنه په حقیقت کې زمونږ خپل راتلونکي ته پاملرنه ده. ))

د لمړنيو اصولو او د پراخه زده کړي مفهوم د لمړني پلان په بشپړېدو سره کابو ټولو ښوونکو د مربيانو لپاره دغه شان فورمي ډکي کړي دي. د (( په زده کړه او پرمختګ کي د ماشومانو د حقوقو ملاتړ)) پروژه د يونيسيف (د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق) لخوا رامنځته او د 2008 کال د مي په مياشت کي پيل شوه. د دغه پروژې لمړنی موخي د ماشومانو سره د ښوونکو د ښه سلوک پراختيا او د بتکن اوبلاست د کادامجيا په سيمه کي د پراخه زده کړي په بهير کي د هغه کارول وو.

په بريالي توګه د ماشومانو يوځاي کول د هغه ميندو او پلرونو ملاتړ ته اړتيا لري چي په لومړيو کي بايد په هغه کلي کي چي په کروندو کي کارکوي د ماشومانو د زده کړي په ارزښت پوه شي.

کلبو مونولوا، د لمړنی ښوونځی ښوونکي، د ميدان ښوونځی

د دغه پروژې د يوې برخي په توګه 129 ښوونکي وروزل شول او د هغه ماشومانو د پېژندو په اړه يي خپل کار پيل کړ چي د مختلفو لاملونو له کبله ښوونځی ته نه ځي. دغه ښوونکي پدې وپوهېدل چي ماشومان د هغه لاملونو له امله چي مخکي يي چا فکر نه کاوه، ښوونځی ته تګ څخه بې برخي دي. په لومړی اوونی کي د لمړنيو لاسته راغلو پايلو له مخي د مذهبي کورنيو ماشومان مدرسه غوره ګڼي او لدې کبله په متداولو ښوونځيو کي زده کړه نه مني. زيات شمېر معلول ماشومان نن ورځ کولاي شي د منفردو لپاره د ښونيز سيستم په کارولو سره په کور کي زده کړه وکړي. مګر څرګنده ده چي پدي صورت کي معلول ماشومان د ښوونځی ژوند او فعاليتونه تجربه کړي، دوي نشي کولاي خپل وخت له نورو ماشومانو سره يو ځاي تېر کړي، چي دغه موضوع خپله د باکيفيته زده کړي په وړاندي کولو کي زيات ارزښت لري. ميندي او پلرونه د اقتصادي دلايلو له کبله غوره ګڼي چي ماشومان يي روزنتونونو ته ولېږي د پروژې په پلي کولو کي مونږ له حادو مواردو سره مخ شوو. د اروابوهني او عليم کميسيون د غړو لپاره د ښوونيزې غونډې په بهير کي له يوې ښځي څخه وغوښتل شول چي خپل 7 کلن زوي د اوخکورګون له روزنتون څخه وباسي. د کميسيون ټولو غړو دغه هلک وکاته او دي پايلي ته ورسېدل چي هغه بشپړه روغتيا لري او لدې کبله بايد معمولي ښوونځی ته ولاړ شي. مونږ د اوږده وخت لپاره د دغه هلک له مور سره خبري وکړي تر څو هغه قانع کړو چي 24 ساعته ښوونځی کي زده کړه د اروايي او عاطفي اختلالاتو سره يوځاي ده او پدي ډول زده کړه د هغي له زوي سره مناسبه نده. څرګنده وه چي دغه مور د بېوزلی له کبله دغه شان کار ته اړه شوي وه مګر مونږ ورته روښانه کړه چي د خپل زوي يو خوشاله ژوندانه ته لومړيتوب ورکړي، هغه څه چي د کورنی او پلار او مور څخه د ليري ژوندانه سره ناشوني کېږي. د دغه بحث په پاي کي مور پدې قانع شوه چي خپل زوي کور ته راوګرځوي.

پدي پروژه کي د دغه شان موضوعاتو د څېړلو لپاره دکدمجايي د سيمي په 5 آزمايښتي کليو کي د والدينو او ښوونکو ټولني او د ماشومانو ټولني جوړې شوې دي. په دغه ټولنو کي والدين، ښوونکي، مرستندويان او د سيمه ييزو چارواکو استازي شامل وو.

د دغه ټولنو اصلي دندي:

- د ماشومانو د حقوقو او ګټو ملاتړ
- د ماشومانو د زده کړي او ګډون لپاره د اړينو شرايطو په رامنځته کولو کي د سيمه ييزو چارواکو سره مرسته
- د ټولو ماشومانو لپاره د زده کړې په موخه د والدينو او ټولني همغږي کول

د پورتنيو دندو د سرته رسولو لپاره ټولنو پرېکړه وکړه چي د سيمه ييزو جوماتو د ملاامامانو سره نږدې همکاري ولري څو لدې لارې مذهبي پلرونه د ټولو ماشومانو د زده کړې د کيفيت په ارزښت وپوهوي. په کور کي د ماشومانو دپراخه

زده کړي د چمتو کولو لپاره د اروزبکو د کلي د ټولني غړو پرېکړه وکړه چي د اوخنه په سالون کي د مرجع یوه ډله جوړه کړي. دلته مخکي لدې چي ماشومان په بشپړه توګه د پراخه زده کړي نظام ته ننوزي، د ښوونکي سره فردي ټولګي لري او وروسته د متداولي زده کړي بهیر ته ورګډېږي. مونږ همدارنګه مېندو او پلرونو ته د سلا ورکولو په ارزښت پوه شوو، ځکه چي زیاتره یي د ماشومانو د حقوقو څخه خبرنلري او په زیاتو مواردو کي د ماشومانو حقوقو ته پاملرنه نه کوي. راځئ د ماشومانو ګټي په پام کي ونیسو.

> که رښتیا ووایم لدې ښوونیزې دورې مخکي مي هېڅکله د هغه ماشومانو په اړه چي ښوونځی ته نه ځي فکر کړئ نه ؤ. او فکر مي کاوه چي یوازې دادي چي ماشومان د مختلفو دلایلو لکه معلولیت، بیوزلي، په کور کي کار او نورو له کبله ښوونځي ته نه ځي. مګر اوس زما پام شوی دی چي دغه موضوع چي ماشومان ښوونځی ته ولاړ شي ډېر اززښتناک او حیاتي دي، ځکه چي دوي ټول د ګډو او واحدو حقوقو څخه برخمن دي.
>
> سلیمه زیکیروا د لمړنی ښوونځی ښوونکي، د اوخنه هوګن ښوونځی

د ماشومانو ټولنه څه ده؟

د ماشومانو ټولنه هغه ځاي دی چي هلته ماشومان کولاي شي خپل لیدلوري بیان کړي او د زیات شمېر نورو زده کوونکو سره په جالبو فعالیتونو کي ګډون وکړي، د ښوونځی او په کلي کي د ژوندانه د اړونده مسائللو په اړه له یو بل سره بحث وکړي. لدې کبله دغه ډول ټولني ښوونځی ته د ماشومانو د تګ په هڅولو کي رغنده ونډه لري. پدې وروستیو کي د والدینو او ښوونکو ټولني د ماشومانو په ټولنو کي د سالم، خپلواک چاپېریال او په ښوونځیو کي د جذابي فضا د رامنځته کولو په اړه بحث او د نظر راکړه ورکړه کړېده. دغه چاره پانګي او بودیجي ته اړتیا لري او ډلي د پروژو د پلان او د هغه دلګښتونو د منلو او د خبرتیا د کچي د لوړولو د فعالیتونو غوښتونکي دي. په پایله کي ټوله ټولنه لدې موضوع څخه ګټه اخیستلاي شي. ښوونځی ته د هر ماشوم ورتګ په حقیقت کي د ښوونځی لپاره یو فرصت دی چي هغه انعطاف منونکی او د فکري پلوه خپلواک وګرځوي، دغه فعالیت پدې وروستیو کي پیل شوی دی. پدې باور یم چي که د یو بل او ماشومانو په مرسته د هغوي د ګټو لپاره ګام پورته کړو، ګټوري پایلي تر لاسه کولاي شو.

مېرمن فریده تورروبکوا د ماشومانو د نجاب د کمیټي مسئوله ده. له هغي سره په لاندې پته اړیکه نیولاي شی. farida@savechildren.kg

یا هم پستي پته: د اوش ښار، 1/7 ګنه، د مامیرو سړک، قزاقستان

**د بنګلادیش (BRAC) د سیمه ییز پرمختیا کمیټه د یو ښونځی د هر اړخیزخانګړو زدکړو د زده کونکو نظریې.**

**تاهیه محبوب**

تیر کال، جویتای، 10 کلنه ماشومه چي ړنده وه او په معصومیت سره یي ماته وویل غواړم چي ټول وکولای شی لوړی زدکړی وکړي.

د خپلی تجربي په لومړی وار دیو پیغلی تردکونکی سره په ټول زدکړي دوره کي مخ شوم چي په پوره ډول ددې انجلی هیلي څه دي . د هر اړخیزی زده کړي د کار په دوام کي دا وس د هغي انجوني د جملو په اهمیت او د نورو د احساساتو چي د زدکړو څخه بی برخی دي د یو هیلي په توګه چي درک کړه. یوازې په جنوبی آسیا کي 17 میلیون څخه زیات ماشومان تر اوسه پوري نشي کولای ښوونځي ته ولاړ شي غیر دولتي سازمانونه د ماشومانو سره د مرستي په خاطر د دولتی نظامونوډېر کار، ټولنیز تبعیض او

ساحوی مامور په غالب ګمان د بیا لیدني لپاره راځی هغه دلته د زدکوونکو سره د مرسته کوي چې د ریاضی مسئله حلوي



پټي لاسته راوړشی رزکړی نه شي کولای ښونځي ته ولاړ شي ګامونه پورته کړي. د بنګلادیش د سمیز انکشافی کمیټه په بنګلادیش کي غیر دولتی لوی سازمان ، د زدکړو په برخه کي هر اړخیز فعالیت کوی د هند اسیا سیمی په فلج اخته ټولنه Spastics Society India په دې اړه د کړی زده کړی برنامه د هر اړخیزه زدکړی د هدف ته د ریدو لپاره پیل کړی په پای کي به ټول بنګلادیش کي د بنګلادیش سمیز انکشافی کمیتی لخوا 50000 منځنی ښوونځی او وړکتونو ته د یو نیم میلیون ماشومانو لپاره جوړ شوی تر نظر لاندی نیسی. معمولاً ښونځی له یوی کوټي چي د بامبو له مرګی ختینی څخه لوړ شوی دی. او یوازی د یو ښونکی لخوا اداره کیږی، دغه ښونځی پرده کوونکو له کورونو څخه دغه په 1Km کی لری واقع دي او دهغوی کاری ساعتونه دنده کوونکی دراتللو سده سم تنطمیږی، د 2003 کال را په دی خوا د بنګلادیش د سیمیز انکشافی کمیتی ښونځي د هر اړخیزو زدکړو لخوا اداره کیږي. هر اړخیزه زده کړي داسی اداره ده چي په دی معمولی وضیعتونو درسی ټ،لګی کي د ټولو زده کوونکو ضرورتونه برسیره کوي، په خاص ډول د زدکوونکو د ضرورتونو د قبولولو د قابلیت سره ماشومان، معلوله ماشومان غریب ماشومان او وړي انجونی یي په نظر کي نیولی دي.

دا مقاله انعکاس کوونکو د ماشومانو دلیرني څخه په ښوونځیو کي ده چي د بنګلادیش د سیمیزې انکشافی کمیتی تر نظر لاندی دی. دغه ښونځی د متحد دو زدکوونکو نویو کم عمره د جنسیت له مخی او معلولو ماشومانو په کي شامل دي. زه د هر اړخیزه زدکړي د مدل د استفادي څخه ، د ترکیبی کردارونو د مطالعي مورد د لیدلو کرونکی، د ماشومانو لپاره ځانګري تکتیکونه او فن (د نقاشیي کولو او د پیغام لیکلو په شان)، پوښتنلیک، متمرکزه ګروپي پحیث مي طراحي کړ او فرهنګ، کړن لار او د ښونځي فعالیتونه د مطالعی لاندي ونیول. د خپل د زدکړو او کتنو څخه چي ما بررسی کړي دلته نقل کوم.

**فرهنګ**

د یو ښونځي فرهنګ په وافقیت کي هغو غړو له فلسفی څخه اخیستل کیږی چي به هغه کي ښوونځي فرهنګ مونږ ته دا اجازه راکوی چي حمایت، تعلق نیول او محیط ته د احترام لپاره ټولو ښوونکو، کارکوونکو او زده کوونکو ته ته مهم دي چي هغه درک کړي.

زیاتره د ښوونځی ماشومان احساس کوي چي د هغوی ښونځی ثبت فرهنګ لري. او په هغه کي ښوونکی او زده کوونکی د احترام احساس او د خاطر تعلق لري. کومي کلمي چڼ په ادامه کي یی راځی د احساساتو بیلګه ده:

کله چي په لومړي ځل زه دي ښوونځي ته راغلم ټول زده کوونکی هم راغلل، هغوی (نورو ماشومانو) له ما سره لوبی کولي نه دعوې او جګړي آیا (ښونکي ما ته درس راکړ هغوی غوښتل چي زه هلته ووسم، تردي چي یوه ورځ زه ښوونځي ته ورنه فلم، اپا نګران کیده، ټولو غوښتل چي زه دلته راسم او هره ورځ زه ښوونځی ته تللم شامالیا، 10 کلنه.

کله چي کوم شعر یاد کړم هغه وخت ښوونځي ته ځم او آپا ته وایم چي نوی شعر مي زده کړی او وروسته هغي زما څخه غواړی چي نورو ټولګیوالو ته هم زده کړم هغه له څخه غواړی چي شعر مي د خاطراتو په کتابچه کي هره ورځ ولیکم، هغه وخت آپا هم کولای شي شعر یاد کړی او زه د خوښی احساس کوم. ساممالیا، 10 کلنه. په دي حال، د زده کونکو تر مینځ د احترام نه کول ښکاره و په ځانګري توګه د سرګروپونو او غیر سرګروپونو. شاید زده کوونکی چي سرګروپ ندي، نه خوښوی تر ځو تل سرګروپان لویان، هوښیاران یا زیرکه وي.

سرګروپان په ښوونځی کې تر ټولو زیات خبری کوی او کله چې مونږ ورانی (شیطاني) وکړو مونږ کنترولوي. خو هیڅ څوك د هغوی خبروته غوږ نه ږدي. او نور زده کوونکي هغوی په خط کش او یا څپیړه وهي که چیری سرګروپان له زده کوونکو څخه وغواړی چې یو کار وکړي نو زدکوونکی هغوی په کوتك وهي. (رونګون 12 کلنه)

په دې مهال کې د زده کوونکو احساس له دې څخه حکایت کوی چې دخپل خوښی زده کړی د مډل په ارتباط د احترام وړ نه ګرځي.

کله چې زه په وړو ګروپونو کې نه غږیږم ټول را ته وایي چې ولې نه غږیږم؟ یا ولی په څه نه پوهیږم یا ته نه شی کولای چې دا کار ترسره کړی ولی مونږ کولای شو ټول ماته وایي چې درس ووایه او ددې لپاره زه درس ویل نه خوښوم (شلو 8 کلنه).

شوونکي د توقعاتو لپاره ډیرې هڅې کوی. او په لازمه صورت کې ډیر مهال زده کوونکو ته ځانګړی کوی ډیری زده کوونکو زیاتي هیلي نسبت یادولو (زده کولو) ته لری. (په بوطل کې پیام) په فعالیت کې زده کوونکو 35 مضوعګانی چې مایلند د هغه په هکله چې په ښونځي کې او لوستل زده کړي لږ کړي. د دې په لرو سره نه په نظریږي چې دغه فعالیتونه کولای شی چې د معلولو ماشومانو کې هیڅ نوی شی نه دې زده کړي. هغې ویل چې په دومره وخت ږې یو کتاب هم نه درلود. او ورته توجه نه ده شوی او هغې د پوښتنو ځواب ورکولو ته پوره وخت نه دې ورکړل شوی نه دی.

**سیاستونه او کړنلارې:**

سیاستونی او کړنلارې د طحو نوعی د اجرا کولو په حال کې چې د اقداماتو او تصمیماتو تعین کوونکی په ښوونځی کې دې ځانګړې کوي.

د سیاستونو د درك لپاره دا موضوع مهمه ده چې پیدا کړو چې آیا زده کوونکی احساس کوي چې قوانین او مقررات د هغوی ودې څخه حمایت کوي. او د مطمئني زده کړی د محیط لرونکی دی یا نه. کوې مسئلی چې د ښونځي د محیط سره خوی اخیستل، د ښونځی فزیکی ښکاره کیدل او ریشخند کیدل هم د مهمو موضوعاتو څخه دي. د ماشومانو لپاره د ښوونځی سره د خوي اخیستل په دې معنی ده چې دنویو ملګرو سره صمیمیت دی. هغوی په هوښیارتیا شده بیا نوي چې په څه ډول د ملګرو سره مرسته کړی. تر څو د هغوی سره د ښوونځی په لومړی ورځ خوی واخلی. معلولو ماشومانو لپاره دا موضوع ډیر د څنګ ټولګیوال پوري اړه لری.

یو د زده کوونکو اشاره کړی چې کله چې زه په لومړی وار ښوونحی ته ولاړم آیا ما ته زده کړه چې څرنګه زه خپل کتاب وګنډم. چې د هغه پاڼې بیلی نه شی ددی لپاره د ښوونځی د محیط سره خوی اخیستل د ډیرو لپاره یوه د خوښی وړ یو میاشتنی پروسه وي. چې په تر څه کې یې ښوونکي او زده کوونکی په ټولنه کې د فعال غړیتوب د حس پیدا کولو پلټنه وکړي. د لاسته راوړنې، د ښوونځی کاری ساعتونه او فزیکی اوسیدنه د ماشومانو تر منځ درې عمده موضوع ګانې دې ماشومان واقعاً مینه لری چې د درس ویلو لپاره ځای ولری.

زه خپل ښوونځی سره مینه لرم که چیری مونږ ښوونځی نه درلودله نو مجبور و چې بهر کې د باران لاندی کښینو مونږ کولای شو چې د یو بل ترڅنګ په ښوونځې کې درس ووایو. (کوم کوم 10 کلنه).

ددې سره هم ځینی زده کوونکی د کلك تفریحي هغوی پری کښیني او ناکافي رڼا او بی ځایه غږونو څخه چې د ذهن د تمرکز د اخلال سبب ګرځی ګڼه من دې. ځینی نور د ښوونځی او کاری ساعتونو څخه ګیله کوي. د عهوان په توګه د یو معلول ماشوم لپاره د کور څخه تر ښوونځی پوره 5 دقیقی هم وخت دی. په داسی حال کې چې ټولو زده کوونکو ته 20 دقیقی پلی تلل تر ښوونځي پوری، لږ وخت دی د کاری ساعتونو په هکله د تونجی ښوونځی له 1 بجی څخه تر 5 بجو پوری برانستې وي. ځکه چې ښوونکی په امتحانونو کې بند و ټولګی د نهو بجو څخه تر یوې بجې پوری د یو ښوونکی لخوا اداره کیده دغه ساعتی تغیرات خوښوي په داسی حال کې چې ځینی یې نه خوښوي یو د زده کوونکو څخه وایي وروسته له غرمې مناسبه وخت دی ځکه چې آیا کولای شي له پوهنتونه راشی او مونږ ته درس راکړي. زده کوونکی په ډك زړه د تجربو په هکله یې په ریشخند خبری اتری کوي. ریشخند وهل او ورانیې کول د ښوونځي د سیاست جوړونی مهمه برخه ده، ځکه چې عامل د کنترول وړ دی ددې سره حتی په ښوونځی کې د دومره ریشخند کولو سره د ماشوم د لومړني ژوند برخه ده. یو ماشوم وویل: کله چې زه انګریزي نه پوهیږم ټول پر ما ریشخند کوی انګریزی زما لپاره ستونزمن دی. په داسی حال کې چې ټولګیوال مې پر ماخاندي. (۱۰ کلنه سامایلا).

کتنی ښايي کله چي تتله (د ژبي معلولين) ماشومان غواړی خبري وکړي د تمسخر (خندا) لاندي راځي. په متمرکزه ګروپی بحث کي څرګندونه کړي چي د (خر) غیر طبیعی او (احمق) په ډول عبارات او لیونه د زده کوونکو تر مينځ پکارول کيږي. تر دې يي ځینی زده کوونکی د ریشخند وهلو او توهینول د ګروپی کار په وخت کي ګذارش ورکوي: ددي لپاره تاکید پردي موضوع د اهمیت وړ دي. چي ټول زده کوونکی د هوسا ژوند احساس وکړي چي د ریشخند کولو په وخت د ښوونکی سره خبره یاده کړي.

که څوك ما ریشخند کړي، زه کولای سم آپا ته ووایم وروسته آپا هغه چاته چي پر ما ریشخند وهی وايي ته ددي لپاره چي یو څه پوهيږي نور ریشخند وې، آیا دا ښه کار دی او وروسته له هغه زده کوونکی نور دا رنګه عبارتونه له خولی څخه نه وباسی (12 کلنه رونګون).

**تمرین:**

تمرین ورکول د درس ورکوني او زده کړي یو غوره طریقه ده چي په ټولګي کي سر ته رسول کیږي د یوه ټولګي که کتني څخه په ډاګه شوه چي زده کوونکی په حقیقت کي څخو درسونو ته یي په مستقیم ډول د دوی اړتیاوې پوره کوي اړين نه دی.

هغوی د متن د حفظولو علاقمن دي په داسی حال کي ښوونکی ورته لارښوونه وکړي، که چیری و نشم کړای چي پوه شم آپا هغه راته څو واري تکراروي او ما له ډير وخت راکوي ولی زه باید مخکی له دې چي دویمی پاڼي ته لاړ شم لومړی پاڼه په یادو یاد کړم. (18 کلنه شامایلا).

آپا ماته دوه ګړی زیاد وخت راکوی، تر څو متن حفظ کړای شم او بیا ځلي يي ورته ولولم. (۸ کلنه شلو).

په ښوونځي کي په میخانیکی ډول زده کړه ټولو زده کوونکي د یو بل د مرستي څخه خوښ دي. ټولګیوال می را سره مرسته کوی هغه ما ته بحثونه پر تختي ترسیموي. او ماته وایي دا یو مثلث دی، چي دري ضلعي لری (10 کلنه جوتیا).

زه سرګروپه یم، او په دي هکله مسئولیت لرم کله چي آپا مونږ ته ډير درس راکوی او خورینې چي نه شی کولای په هغه ټولو وپوهيږي او زه کولای شم چي هغوی ته د بیا ځلي درس ووایم (۱۰ کلنه کوم کوم).

د ښوونځی د شته وو منابعو د استفادي څخه ماشومان خوښ دی په بحث کي د متمرکزه ګروپ زده کوونکو ویلی دي. ددي لپاره د مجبور نه دي چي د زدکړي منابع په بیره واخلي خوښ دي. همدارنګه هغوی ویلي دي د تحصیلی کال په پیل کي د زده کړی د منابعو ویشنه په عادلانه (برابره) توګه سر ته ورسیده او تري راضي و یو ماشوم ګذارش ورکړی چي د دریم ټولګی د درسی کتابونو او د مشقی کتابچو څخه یو هم نلرم، یو مشر شري د هغه کتابونه بل زده کوونکی ته ورکړي و او په پایله کي هغه و نه شو کړای چي خپل کورنی او د ټولګی کارونه ترسره کړي.

ښوونځی د هر ماشوم لپاره ځانګړی تجربه ګڼل کیږي نو ډيره مهمه ده چي د ماشومانو غږ او غوښتني د ټولو تر غوږه کړو او کوښښ وکړو چي د هغوی هیلو ته حساس اوسو د کوم شی چي جویتا غوښتنوونکی ده تر اوسه د بنګلادیش په ټولنه کي د لاس څخه وتلي هیله ده څو د بنګلادیش د سیمیز انکشافی کمیټه او نور غیر دولتی سازمانونو واړه ګامونه په دې لارکي د هدف د ترسره کولو لپاره اخیستی دي. مونږ لا تر اوسه ډیرې اوږدې لارې پر مخ کي لرو که چیری وکړای شو چي ماشومان درك کړو کولای شو اطمینان لاس ته راوړو. چي هر اړخیزه زده کړي به په سمه توګه او سمي لارې دوام وموومي.

خام تاهیه محبوب د خپل د ماستری زده کړي په فلسفه یي ځانګه کي د هر اړخیزه زده کړې په برخه کي د کمبریج پوهنتون کي پای ته رسولي او د انګریزی پوهوني او په شمال – جنوب پوهنتون کي په زده کړې بوخته ده او د هغي سره کولای په لاندي پته اړیکه ونیسی.

tmahbub05@cantab.net

او په لاندي پستی پتي

37, Road, 9, Sector 4, Uttara Model Town Dhaka 1230; Bangladesh.

توسط سیمون
بیکر



**څرنګه EENET Asia لپاره ولیکی:**

هیله من یو چې د دغې ګڼې او تیرې ګڼی مقالې او خبر پاڼې تاسو ته ګټورې وی. آیا د لیکلو او د ویشلو د هر اړخیزې زده کړې په هکله تیاریاست؟ پو هیږو چې ډیری خلك علاقمند دي چې خپلی مقالې EENET Asia ته ولیږي ولی ځینی نه پو هیږو چې ډیري نه پو هیږی چې خپلی مقالې له کوم ځایه پیل کړي او یا مسئولیت کري چې خپلی مقالی مونږ ته ولیږي نو ددې لپاره باید لاندې ټکو ته پاملرنه وکړئ.

څومره خلك کولای شی EENET Asia لپاره مقاله ولیکې؟

ټول: مونږ خپل ټول لوستوونکي د مقالو لیکلو ته هڅوو، مونږ واقعاً د لیکوونکو څخه په مستقیم ډول هر اړخیزې زده کړی موضوع په هکله (د ښوونکي، مور او پلار، زده کوونکی، ځوان کار کوونکی، یو فعاله، د زده کړې سیمه ایز او یا غیر دولتی کار کوونکی) تجربه ولري غواړو چې مونږ لپاره مقاله ولیږي.

که چیری مخکې مو مقاله نه وي لیکلی څه باید وکړي.

مسئول اووسی: لازم نه ده چې یو لیکوونکی حرفه یي وي EENET Asia کولای شی له تاسو سره مرسته وکړي. تر څو خپل نظریو ته پراختیا ورکړی او کوم شی چې لیکی اډیټ کړې که چیری داسی مقاله مو ولیږله چې زمونږ لپاره د چاپ وړ نه وه نو تاسوته فکر در کوو او پوښتنې ی‌رح کوو تر څو تاسو سره مرسته وشی که چیری له تاسو څخه مو وغوښتل چې لږ ډیر په مقالې کار وکړې ناراحته او بی باکه نه شی ټولې مقالې چې چاپیږي بیا لیکنه او اډیټ کیږي.

څوك د مقالو د نشرولو په هکله تصمیم نیسي.

EENET Asia: د مقاله لیکوونکو ټیم لرو چې د لیکوونکو سره مرسته کوي او هغوی ته مشوره ورکوی په هره ګڼه کې هغه مقالی چاپووچې:

- له هغو هیوادونو څخه ده چې مخکې مقاله نه وي لیکلي
- د هر اړخیزو زده کړو هغو برخوته یې مخه کړی چې پخوا پاملرنه وه.
- د ماشومانو او مور او پلار نظریات له ځان سره لري.
- د بیلابیلو طریقو څخه لکه جدول او یا تصویر (عکس) کارول د خپل لپاره تر استفاده لاندی راوړی. د کومو موضوعاتو په هکله چې کولای شی لیکنه وکړئ.
- کولای شی چې د هرې اړیکی لرونکې باکیفیته هر اړخیزې زده کړې د موضوع په هکله ولیکی.
- تا سو د هغو مقالو لیکلو ته چې عملی توصیه ترسره کوی، هڅوي، مونږ غواړو چې وپو هیږو چې تاسو څه کړي څه مو یاد کړي او ستاسو په شرایطو کې د ماشومانو پر زده کړې څه تاثیر لری.
- دوې لپاره چې وپو هیږئ چه څه ډول مقالی چاپیږي مخکینیو ګڼوته پاملرنه وکړئ.

- مونږ په ځانګړي ډول هغه مقالې چې د هر اړخيزې زده کړې په هکله وي اړتيا لرو چې لاندې مواردو سره اړيکې لري.

- غير منتظره شرايط او مهاجرين
- په ماشوموالی کې رشد (وده)
- د ليسې او يا لوړې زدکړې
- اوږد مهالې زده کړې (د ژوند په اوږدو کې) او حرفوي زده کړې.
- خصوصي ښوونځي (غير انتفاعی)
- غير رسمی زده کړې.

مقاله بايد څومره وي.

۶۰۰ وييونه يوې مقالې لپاره يوه پانه ايزه او 1200 وييونه د دوه پانه ايزې لپاره مناسبه ده که چيرې غواړی چې په هغه کې عکس يا جدول زيات کړی، وړه مقاله وليکئ.

خپله مقاله بايد څرنګه وړاندې کړي.

- خپله مقاله په يو نرم فايل (Word) او په ۱۲ سايز خط، مونږ ته ايميل کړئ.
- که چيرې کمپيوټر يا ايميل ته لاس رسی نه لرې کولای شئ هغه تايپ کړی او يا په لاس يې وليکئ او په لاندې پته يې مونږ ته وليږئ.

EENET Asia. Julan, Panglim polimX No-9, Kebuyorum Baru Jakarta-Selatan 12160 Indonesia.

- همدارنګه کولای شی خپل مقالی په کست يا بريل ليك کې وليږئ.
- مقالې بايد په انګريزی ژبه وی که چيرې به بله ژبه مو ليکنه کړې وي هڅه کوو تر څو څوك يې په داوطلبی سره وژباړي پيدا کړو.
- په ياد ولرئ چې خپل ټول نوم، پستي پته، د ټيلفون شميره او خپل ايميل مونږ ته وليږئ او په يوه کوچني پاراګراف کې د خپل په هکله چې څوك يا ستئ او څه کار کوئ معلومات وليکئ.

- نوري مشورې: د ساده ژبې او لنډو جملو څخه استفاده وکړئ د ډير علمي ليکنی، ماتي ژبې او اختصاری حروف د کارولو څخه ډډه وکړئ.

- خپلی مقالی په ټيټرونو يا عنوانونو وويشئ او يا په انډو برخويې وويشئ.

- د خبری نقلول، د مثال په توګه د زده کوونکو د خبرو نقلول، په خپلو مقالو کې استفاده کړئ.

- که چيرې په خپل مقاله کې د چا د نوم يادونه کوی له هغه څخه اجازه واخلئ او يا يې نوم په مقاله کې تغيير کړئ.

- که چيرې د مقالی سره عکس ليږئ حتمي ده چې خپل ډاډ خاصل کړئ چې کوم کسان پکې شامل دي د عکاس د عکاس رضايت لرې او د کوم ماشوم عکس چې اخيستل شوی وی د هغه مور او پلار څخه اجازه واخلئ.

ستاسو د مقالو د لاسته راوړلو په هيله يو.

د ختيځې اندونيزيا په ښوونځيوکې-

کيم هالتوز:

د ماشومانو د ژغورولو *برېټانيا* کمېټه په ښوونځيو کې د نوم ليکنې و ټل مشارکت په برابر کې د موانعو د ښه درک په خاطر، د يوې مشارکاتی پلټيزې پروژې په ترسره کولو د ۲۲ ښوونځيو سره او د دريبو ولسواليو بهيرونه چې يو د اندونيزيا د ولاياتو څخه يو د نوساتنګاراتيمور په نوم

اندونيزيا په دې دليل چې لس ګونی کلونه کيږي چې د منځني هر اړخيزې زده کړې ته لاس رسی کړې ته لاس رسی کړی او نامتو دی کله چې د مشارکت تله په 70 او 80 لسيزې کې دولت يو چابکه برنامه د ښوونځې جوړوني تر سره کړه په هرګډ د نړۍ کې د پاملرنې وړ شوه.

د 1994 کال را په دې خوا اندونيزيا 7 نه تر 10 کلن ماشومان لازم ګڼل تر څو ښوونځی ته نوم ليکنه وکړي. او اجباری زده کړی يې درې کاله ډيرې کړې وې تر دريو کالونو په منځنی دوره کې زده کړی ډيرې کړي وې ددې قانون په وضع کولو دولت %96 نوم ليکنې په منځنی پړاو کې تر 2009 کال پوری خپل هدف ګرځولی وه. آخيرينی رسمي رقمونه (200516) ښودل شوی دي چې پورتنې هدف ته د رسيدو په هڅه کې دي %87 ماشومان د 13 کلنو څخه تر 15 کلنو پوری نوم ليکنه کړی خو يوازې %62 يې په منځنی مقطعې په دريم کال نوم ليکنه کړې ده.

د رقمونو (ارقامو) تر مينځ توپير ښايي چې 13 نه تر 15 کلن ماشومان په لومړنی دوره کې دي دا هغه ماشومان دي چې ناوخته ښوونځی کې داخل شوي يا يو او يا هم دوه کاله ناکام شوي او بيا ځلي يې وايي د يو کال بيا ځلي ويل (پاني کيدل يا ناکاميدل) په اندونيزيا کې معمول دې او ډير فشار د زده کړی په سيستم وراچوی.

د زده کوونکو د ناکاميدو اصلی لامل غريبی او ناسوب والی دی. هغه زده کوونکی چې په منظم ډول ټولګې نه تعقيبوي زياتره له درس څخه شاته پاتې کيږي سره ددې چې يو تعداد زده کوونکی غريب دي په کمښت سره د وروسته والی لامل دې ولې دوامداره غريبې د نوم ليکنی موثر شميره بی معنی کوي يعنې شمير يې لږ وي.

د ماشوما د ماشومانو د ژغورنې انګليسی کمېټه د لا پوهيدو لپاره چې ولې نوم ليکنه نه کيږي او د دوامداره غريبی، مشارکتی پلټنې پروژه د اندونيزيا هيواد په يو ولايت کې چې د نوساتنګاراتيمور په نوم يادېږي پيل کړې ده لری نه ده چې دغه غټ هيواد د ښه اقتصاد سره بيا هم د مشارکت ميېان د هر ځای د ښوونځيو يو شان نه ده او ممکنه ده چې د ولاياتو په داخل د ولايتونو په مينځ کې زيات تنوع لرونکی وي لکه څرنګه چې بحث مووکړ چې سيمه ايز ښوونځی او لری پراته ښوونځې د زده کوونکو په جذبولو کې د خورا کمو امکاناتو لرونکې دي.

**و نو سائنګارتيمور ولايت**

آمار او ارقام د (2005-6) پوی ښايي چې په نوسائنګارتيمور کې يوازې %94 او 7-12 کلن ماشومان او %77 د 13-15 کلونو پوری په ښوونځيو کې نوم ليکنه کړی ده چې دا تله د دواړو ګروپونو اوسط څخه لږ والې لري.

نوسانتکاراتیمور یو د انډونیزیا د غریبو او بی وسو ولایتو څخه دی ښوونکی، ښوونځي او په ډیرو نژدې سیمو او نورو لرې سیمه ایز ځآیونو کې د اړتیا وړ د زده کړی نور منابع شتون نلری، څرنګه چې په انډونیزیا کې دغه برنامه په 2002 کې پیل شوی، دولت د زده کړه ایز خدمتونو لپاره مئوول ګرځیدلې د نوساتنګاراتیمور ولایت د ولسوالیو د زده کړه ایز ریاست په شتون سره هم د دولت د بودیجي سده ډیر تراو لرې او دغه بودیجه د هغوی اړتیا نه پوره کوي.

د کورنیو د نوسانتګاراتیمور د عوایدو کچه د ملی میانګین 1/3 ده که څه هم په انډونیزیا کې د ښوونځیو اجباری فیس په دې وروستیو کې له مینځه تللی، د ښوونځیو ځینی مصرفونه لکه یونیفورم ، کتابونه لیږد را لیږد د غرمی د ډوډۍ پیسې هم د غریبو سمیو پر کورنیو یو دروند بار دی او همدا راز ښوونځي ته د ماشومانو لیږدول خنډ دی.

**پایلې:**

پر 3 ولسوالیو (سومبا بارات دایا، ګوپانګ او بلو) باندې څیړنې شوې دي. سومبابارات د زده کوونکو د نوم د ثبت او د هغو د غیبت په اړه د نورو ولسوالیو په نسبت خورا ځانګړې ستونزی لرې. د SCUK څیړنې څرګندوي چې د سومبابارات دایا د ښوونځي په ټولو مقاىعو کې یوازې 89% له 7-12 کلنو ماشومانو د ګوپانګ د 99% او د بلو د 95% په مقایسې نومونه ثبت کړي دي، دغه واټن هغه وخت لا زیات شو چې 13 او 14 کلن ماشوم هم پرې ور زیات شول.

د ناسوبوالی په کچه کې اختلاف خورا شدید هم و. هغه څېړنه چې د سومبابارات د ایا په یوې ښوونځی کې شوې وه، څرګندوي چې په منځنې کچه 1/5 یو پر پنځمه د ښوونځي ورځی د ناسوب والي له کبله له لاسه ځي په بله وینا په منځني کچه زده کوونکی 48 ورځې یا 8 اوونې د 2007 جولای څخه تر 2008 پورې ناسوب وو. ددې په مقایسه په کوپانګ کې زده کوونکې په منځنی کچه په نوموړې ټاکلې نېټې کې یوازې شپږ ورځې ناسوب وو. دا شمیرې د دې ټ،لنو د ښوونځو په اړه څه شی بیانوي؟ له ډیری اړخونو څخه ټولنې یو د بل انډول دي، ټول یې سیمه ایز او ببرته پاتی سیمی دي، او به او هوا یې سره ورته ده. او د خلکو نقدی درآمد (عواید) یې خورا ټیټ دي، او د شتمنې کچه یې سره یو شان ده. له دی سره سره زمونږ د څیړنی لاسته راوړنې د مور او پلار له مخی او له مور او پلار ښوونکو او ماشومانو د متمرکز د ګروهي بحثونو په اساس په ښوونځیو کې د ګډونوالی په توپیر سره مهمه نکات دا را ښیي چې کولای شو د هغو په مرسته د سومبابارات دایا په ښوونځیو کې د ماشومانو د نه ګډون توضیح کړو.

د نا سوبوالی / حذف لاملونه:

- په سومبابارات دایا کې مور او پلار د اوبو د لاسته راوړنې لپاره ډیرو ستونزو سره مخ دي د اوبو نه لاسته راوړل په دې معنا دي چې د اوبو تیارول پرداسې کار دی چې ډېر وخت نیسي او دغه کار د اندونیزیا په لرې سیمو کې د ماشومانو پر غاړه وي.
- یوازې په سومبابارات دایا کې مور او پلار زده کوونکو او ښوونکو په متفقو نظر یو سره وویل چې ماشومان په ندرت سره د سهار چاى څښي ښوونکو لیدل چې ددې سیمې زده کوونکي معمولاً نیم ماړه وو او نه یې شو کولای چې تمرکز ولرې په ټولو سیمو کې مور او پلار دا منې چې ماشومان له ښوونځي تګ څخه د مخه معمولاً څه شی خوري.
- په سومبابارات دایا کې په زاد و وار باندې نرخ را څرګندې چې هره کورنې په منځنی کچه 4,5 ماشومان لرې چې باید ورته خوړه جامې او د ښوونځی وسایل چمتو کړي په ټولو سیمو کې د ماشومانو شمیره 3.8 و 3.6 وې زده کوونکو څرګنده کړې ده چو ان که ښوونکې اجابه هم ورکړې هغوی د خپلو همزولو د حج او فشار له کبله نه خوښوي چې بې له یونیفرم څخه ښوونځي ته ولاړ شي.
- د زا د وولد د نرخ له امله د سومبابارات دایا ښونځي له ټولیو څخه ډک دي او د نریوال ګډون د موخې د مرستې لپاره کم زده کړه ورکړل شوي ښوونکي لرې د زده کوونکي – ښوونکي او زده کوونکي – ټولګي منځنی نسپت په ترتیب سره 70 پریو او 64 پر یو دی چې د ولایتي ساحو درې برابره وې ډیرې زده کوونکي اړ دي چې د ښوونکو د کمښت او د ټولګي د فضا له امله په ټولګي کې و دریږی او زیاتره وخت غوره ګڼي چې بیرته کور ته ولاړ شي.
- د میز او څوکی کمښت تر دې حده و چې ډیری زده کوونکي د ځمکي پر مخ کیناستل په داسې حال کې چې ټولو ټولګیوالو یې میز او څوکی درلودلې د ښوونکو د وینا له مخې رفتاري ستونزې هغه مهال څرګندیږي چې ښوونځی نه شی کولې د ټولو په اړه برابرې اجرا کړي.

- په ځانګړې توګه په سومبابارات دایا کې یوازې 28% له میندو او 16% له پلرونو څخه لومړنی یا لوړې زده کړې لري. (په کوپانګ کې 3/4 میندې او 2/3 پلرونو لومړنی یا لوړي زده کړې سرته رسولې دي) اوسنې کړنې د نسلو تر مینځ امتیازونو نا برابرې څرخې له منځه وړل دي.
- د محرومیت د ترټولو لوړې سطحې لاسته راوړنه داده چې د سومبابارات دایا ښوونکي او مور او پلار ګزارش ورکوي چې ماشومان خپلو والدینو سره د پیرلو په زخت کې مرسته کوي او یا هم کله چې والدین د پیرلو کار یا اوبه راوړلو لپاره بیرون تللي دي هغوی په کور کې پاتې کیږي ز له خپلو وړو خویندو او ورونو څخه پالنه کوي.
- په دریواړو ولسوالیو کې خو په سومبابارات دایا کې لازیات چې سنت پر ورځني ژوند غوره دیۍ ډیری ماشومان په ډله ییزو یا کورنیو سنتي مراسمو کمې د ګډون له کبله ښوونځي ته له تلو څخه پاتې کیږي.
- ان سره له دې چې د کوپانګ په ولسوالۍ کې ډیری مور او پلار واضح کړي دي چې ماشومان ښوونځي ته د تګ لپاره تر د سومبابارات دایا ماشومانو څخه زیات اړ دي چې پلې ولاړ شی خو داسې ښکاري چې واټن په ټولګیو کې د کوپانګ د ماشومانو د حاضریدو پر کچې اغیزه لري هغه ماشومان چې مجبور دي په اوږده لاره پلې ولاړ شی زیاتره ورځې ناسوب وو، داچې د واټن اغیزه له ښوونځي په ټولو ولسوالیو کې نه لیدل کیده داځرګندوي چې آن منځني واټنونه هم څرنګه چې له نورو لاملونو سره یو ځای شي کولی شی چې مخنیوی وکړي.
- په سومبابارات دایا کې هلکان 58% تر نجونو 42% زیاتې (41 ورځې یا زیاتې په کال کې) غیر حاضري کوي او په سرچپه ډول نجونې 29% تر هلکانو زیات ټولګي ته د حاضریدلو میل لري (20% غیر حاضري).

په هر حال جنسیت په ټولو ولسوالیو کې ډیره اغیزه نه لري او یوازې کله چې له ټولو لاملونو سره ترښت مومي مانا ورکوي.

سربیره پر ښوونځیو دغه ټولو ولسوالیو، د ښوونځي په چاروکې د مور او پلار د ګډون د ماشومانو د پرمختګ لپاره د هغوی د ویاړنې فرصتونه نه دي چمتوکړي.

د والدینو او ښوونکو اړیکې په کمې کچې سره امکان لري واټن د اړیکیني د ارتباطی اساس (زیربنا) نشتوالي د کرنیز ژوند سبك او طریقه او د فرهنګي ښوونځي او هغه زده کړې چې پرښوونځي بناوي بیلتون د سیمه ایز ژوند له ټولو اړخونو څخه دغه اړیکه لاستونزوره کړې ده د ښوونځي ته ورځی مګر د هغو د کورته ورتګ اغیزه ډیره لنډ مهالې وه په ډیری مواردو کې ښوونکو او والدینو په ډیرې سادګۍ څرګندوله چې ماشوم ښوونځي ته تلو سره مینه نه لري ځکه نو د هغو موسساتو پر وړاندې. کړنې چې له ښوونځیو او د هغو له انجمنو سره مرسته کوي دادي چېې راځرګنده کړي چې ماشومان دلې نه غواړي ښوونځی ته نه لاړشي او کوښښ دوکړي چې ماشومانو لپاره ټولګي ته په وخت تګ معنا لرونکی او خوندور وسپنیي د ماشومانو د ژغورنې کمیته هڅه کوي هغه ښوونځي چې په دې څیرنیزې طرحې کې ګډون کوي حمایت کړي تر څو د نوموړو خنډونو پر وړاندې د حل لارې و مومي.

میرمن کیم هالتوز، د ماشومانو د ژغورنې انګلیسی کمیتې مشاوره.

Kym_holthouse@yahoo.com

Save the Children UK, Educarion Unit, Jalan Pejatan Barat No. 8, Jakarta Selatan 12550, Indonesia

**د زده کړې موخه څه ده؟**

**د متمرکز ګروپ بحث د بلوچستان د هر اړخیزې زده کړې په برخه کې:**

د 2007 کال په منځنې وخت کې د بلوچستان، پاکستان او IDP Norway د زده کړې اداري هر اړخیزې زده کړې د کویټې په ښار او سیمو کې د لومړنی زدکړو په څلورو ښوونځیو کې پیل کړې دوه د نجونو او دوه د هلکانو ښوونځی و ټاکل شول چې یو له دغو ښوونځیو څخه د کویټې په یو اړخ کې جوړ شوی او نوریې په مرکې کې دي.

د ځینو پوښتنو په لولو سره لکه (ولې خپل ماشومان ښوونځې ته لیږو؟) (د زده کړی له لارې څه شي غواړو ورسیږو؟) د دغو څلورو ښوونځیو له ښوونځیو له ښوونکو او مدیرانو څخه وغوښتل شول چې د زده کړې د موخې په اړه خبرې اترې وکړي، کوم ځوابونه یې چې ترلاسه کړل په لاندې ډول وو:

1. د یووالي رو اچول، د خلکو درککول- ملت لپاره درنښت او مقام ترلاسه کول.
2. د ماشومانو تر مینځ ښاری مسئولیتونو او حقونو په اړه د خبرتیا او د راتلونکی نسل تر مینځ د بشر حقوقو او د بیان آزادی ته د درنښت ایجادول.
3. له ماشومانو سره مرسته د پوهنیزو تولنیزو احساسی او فزیکي پیاوړتیاو د دوې لپاره-د خپل ځآن، ټولو کورنیو او ټولنو د آرامتیا ښه والی.
4. ماشومانو سره مرسته په دې اړه چې ښه انسانان وي او ټولنی، هیواد او انسانیت ته خدمت وکړي-د روښان فکر و ښاریانو منځته راوړل.
5. د ماشومانو چمتو کول چې وکولی شی د ژوند له کړنو سره په بریالیتوب مخامخ شي او له خپلې لارې څخه ټول خنډونه لرې کړي، او نورو ته لار ښوونه وکړي.
6. ټولنې ته ښه متخصصین و روزي چې د پاکستان د پراختیا په لاره ګام واخلي.
7. ماشومانو سره د هغوی د شخصیت جوړوني او په خپل ځان باور لرلو په برخه کې کومك کوي داسې ماشومان و روزي چې قانون منونکی او مسئول ښاریان دي. او کولای شي چې سم او نا سم سره توپیر کړي، فردی انفباط، مهال پیژندنه، په خپل نفس باور او استقلال په ماشومانو کې ایجاد کړي.
8. ماشومانو سره کومك کوي چې سالمه اوبې تاوانه ژوند زلري.
9. ماشومانو سره مرسته کوي چې ښه مسلمانان وي، له اسلامي اصولو، او نورو دیني ښیګړو څخه د ماشومانو خبرتیا ته وده ورکړي.

موږ (د نوموړو څلورو مکتبونو مدیران) په دې باور یو چې د زده کړه ایزو برنامو او ارزیابی په هغو طریقو چې نن ورځې ترې کار اخیستل کیږي نه شو کولې د زده کړې اصلی موخې ته ورسیږو.

د هر اړخیزې زده کړې اجرا او د ماشوم له حال سره سمه زده کړه ددې لامل ده چې ښوونځی د هغوی د کوټی شي ټولنیزو، کورنیو او فردی ضرورتونو ته ځواب زرکړي.

او د پاکستان راتلونکی نسل داسې و روزی چې زموږ ملت جوړ کړي. داسې چې ټول ماشومان پرته د جنسیت، پیاوړتیا، کمزورۍ او ځانګړو زمینو له توپیرونو څخه د زده کړی له کیفیت څخه برخمن شی، ډیر ارزښتناك دی.

د بلوچستان د هر اړخیزې زده کړې په برخه کې د متمرکز ګروپ خبرې اترې د زده کړې سترتوب-کویته.

Pakistan@idp-evrope.org

**اوس هغوی زما درنښت کوي...**

**کریمه**

زمانوم کریمه دی زه د خیرخانی کابل-افغانستان د لومړنیو زده کړو په یو دولتي ښوونځي کي ښوونکي یم. ما دوه کاله مخکی د ښوونې او روزنې وزارت په یو هراړخیزه ښوونیز ټولګي کي چي د یونسکو او یونسف له خوا چلیده ګډون کړی و. زه په دې برنامه کي د ارشد ښوونکي په توګه وټاکل شوم، همدا اوس د ښوونځي 120 ښوونکوته هر اړخیزی زده کړې وربښیم. یو ماشوم په اړه چي نوم یې محمد دی له تاسی سره یو څوخبرې وکړم. هغه دولس کلن او په غوږو کوڼ دی. هغه ښوونځی ډیر زروسته پیل کړی ځکه خو اوس دویم ټولګي کي دی کله چي محمد زما ټولګي ته راننوت په هیڅ ډول ژبې یې نه شو کولای له نورو سره اړیکی ټینګي کړي ده یوازی څو کورنی نغوتې زده کړې وې چي هغه هم د اړیکو ټینګولو لپاره کافی نه وې نوموړې تیر کال زموږ له برنامې سره ګډون وکړ لومړنی د هغه کورنی پر دې ډاډمن نه وه چي کولای شی یو کوڼ ماشوم ښوونځي ته ولیږي هغوی په دې ویره کي وو چي کیدای شي ټول ماشومان هغه وځوروي له هغوي نه پوهیدل چي دی څرنګه کولی شی د ښوونکي په خبرو پوه شی په داسی حال کي چي نه اوري له دې کبله یې ښوونځي ته د هغه له لیږلو څخه ډډه کوله خو زموږ ټیم د هغه له کورنی خصوصاً له پلار سره یې ډېر بحث وکړ چي هغوی راضي کړي، هغه باور درلود چي زوی به یې خیاط شي او زده کړې ته اړتیا نه لري، هغه ویل: (ښوونځي ته دده دلیږلو موخه څه ده؟) هغه څه شی زده کولی شی؟ هغه باید کسبي مهارتونه زده کړي او همدا کار ورته ښه کوي، اصلاً ما هم درس نه دی لوستي خو خپلې ورځي شپې تیرولی شم هغه به هم همداسی وکړي.

وروسته تر ډیرې مودې هغه دا ومنله چي خپل زدی مکتب ته واستوي خو هیڅکله یې نه غوښتله چي د مور او پلار زده کړه ایزو ټولګیو کي ګډون وکړي ځکه چي فکر کوي هغه سپین ږیری دی او که میرمنه یې په دې ټولګیو کي ګډون وکړي نو هغه ته به د خجالت وړ وي هغه ویل: (زه به هیڅکله اجازه ورنکړم چي زما میرمنه په داسي ټولګیو کي ګډون وکړي، زه هم ډېر مصروف یم، موږ وخت نه لرو، ښه به دا وي چي ومږ زوی ښوونځي ته ولاړ نه شي. سره له دی د دوی مشر زوی دې ته چمتو شو چي د والدینو پرځای زده کړه ایزو ټولګیو ته ولاړ شي. نوموړی د هماغه ښوونځي په اووم ټولګي کي درس وایه. هغه د سر ګروپ په راتلو سره د خپل ورور ملاتړ وکړ. هغه ډیر ژر هڅه وکړه چي له خپل ورور سره د لا زیاتو اړیکو لپاره ډول ډول طریقي او ژبنی نغوتي زده کړي اوس هغه په آسانی خپل ورور سره غږیږي او په درسونو کي ورسره مرسته کوي هغه په ټولو رسمی نغوتو نه پوهیږي خو له خپل ورور سره یې د اړیکو نیولو طریقه زده کړي ده.

په لومړیو کي محمد له ټولو ماشومانو او چاپیریال څخه ویریده هغه له دې چي د نغوتو له ژبې څخه کار اخیسته یا یې مرسته غوښتله، خجالت ښکاریده که ورسره د ښیګڼې لپاره هم خبرې کولې، عصباني کیده او د هغوی خبره یې نه منله، هغه د ښوونځی په قوانینو او اړیکو نه پوهیده، کله کله یې سرغړونه کوله له همداسې حال سره یې ډیر ژر زده کړل، هغه اوس په ځان باور لري د ځانګړی او نویو شیانو زده کړې ته هڅه کوي محمد ټولي هغه کورنی دندې چي ښوونکي یې ورته ورکوی، تر سره کوي. هغه د ښوونځي په ټولو فعالیتونو کي ګډون کوي او لیک او لوست یې زده کړی دی محمد هره ورځ ښوونځي ته راځي ان کله چي ناروغ وي ځکه چي په دې باور لري ښوونځي ته تلل د هغه ژوند ته بدلون ورکوي. هغه وایي: (زه اوس ملګری لرم، په کور او ټولګي کي مسئولیت لرم، ځکه چي د ټولګي ترټولو مشر زده کوونکی یم. اوس په کور کي رول لرم او هغوی ماته درنښت لري په نغوتو نه پوهیږي خو د هغوی نظر زما په اړه اووښتی دی. دا چي کوڼ یم خپه نه یم هیله لرم ټولي هغه کورنی کانه ماشومان لري په اړه یې مثبت فکر وکړي او ملاتړ یې وکړي هیله لرم یوه ورځ خپل لوړې زده کړې ترسره کړای شم او ښه دنده وموم.)

اوس د هغه کورنی ډیره خوښه ده او هغه په ټولو هغو کارونو کي چي غواړي ترسره یې کړي هڅوي یې.

تاسی کولي شئ له میرمن کریمي سره د ښوونې او روزنې وزارت-د زده کړه ایزو برنامې ریاست. په کابّ کي د هر اړخیزې زده کړې برخه – افغانستان له لارې اړیکي ونیسئ.

Parzeen-azimi@hotmail.com

## د هند په جنوب خینځو غرنیو ولایاتو کي د ماشومانو د ګډون د کچي لوړوالی:

وارابهایس کوندو

په وروستیو لسیزو کي د ماشومانو د ګډون موضوع تر زیاتي پاملرنې لاندې راغلې ده دغي پاملرنې د دولسمي مادي د اهمیت په زیاتولو سره د ماشومانو حقونه د لاندې شرحې پر اساس زیات اهمیت و موند: (حزبونه باید هغو ماشومانو ته چي د خپل نظریو د وړاندې کولو توان لري، دا حق ورکړي چي هغوي خپلې نظریې د هغو موضوعاتو په اړه چي پردوي یې اغیزه ښندلي وړاندې کړي د دغو ماشومانو نظر نی په د هغوی د سن او فکری بلوغ د کچي پر اساس د پاملرنې وړګرځي.) دغه توافقنامه په 13 ماده کي په خپله دا بحث کوي چي اړینه ده چي ماشوم د خپل نظر د بیان حق ولري. بې له مرزی توپیرونو څخه په پلټنې موندنې او له

هر راز څرګندونو څخه دګټه اخيستنې کې آزادي او په شفاهر، ليکني يا په چاپي ډول د هنر يانورو رسنيو په قالب کې چې ماشوم يې غوره کوي دا حق شامل دی.

که څه هم د ماشومانو ګډون د نن ورځی د بحث موضوع ده خو ليديې او مشاهدې دا څرګندوي چې ماشومانو ته د نظريو د بيانولو او مستقلو تصميم نيولو لپاره زيات زهت نه ورکول کيږي زياتره هغوي داسی زده کړه ورکول کيږي چې د تصميم ننيولو توان نه لري، و په مطلق ډول سره والدين ښوونکي يا ټولنه ورته تصميم نيسي.

په دي وضعی او حالت کې ګاندسميريتی او دارشان ساسيتی (په ډهلی کې د مهاتماګاندی ملي ياد) يونيسيف او د کاستر ملي ياد اتحاديه له ګاندی سره د آسم په ولايت کې د ماشومانو د ګډون رواجولو لپاره او په اروناشال پرداش، مقالا يا او دا سم جنوب ختيځ کې د ماشومانو د حقونو په اړه د ويناوو د بيانولو لپاره يې برنامه پيل کړه دغه ابتکار په دې باور چې ماشومان کولی شی د زده کړې د ټولنيزې سولی او مرستی د ايجادولو په پراختيا کې ځانګړی رول ولري وکارول شو.

د پيل لپاره د ماشومانو د هراړخيزه ګډون برنامې په معمولی ښونځيو او د دهغه فرهنګئ په ايجاد کې چې مور او پلار د ماشومانو خبروته غوږ نيسي او د هغوی عقيدې ته ارزښت ورکوي اغيزمن وي داسې کار ځايونه جوړ شوي دی چې د هغو له لارې ماشومانو ته تعامل ګروپيخبرې اترې آرامي لوبې رسامي د ماشومانو حقونه د زده کړی اهميت سوله او ملګرتيا او له جنګ جګړی څخه ډډه ور زده کيږي چې هغوی له خپلو حقونو او مسئوليتونو څخه خبر کړي او نظريې پراخه کړي.



وارابهايس کوندو لخوا

**مهمې پايلې:**

ماشومانو له يوبل سده د تعمل په لرلو سره وکړای شول د زده کړې په ښوونځيو کې له ياده يادول اوهم په ښوونځيو، ټولنو او آرامتيا د پرمختګ څرنګوالی د وړانديز ډول ته، پراختيا ورکړي. بله مهمه ابتکاری پايله د آسم په څو سيمه ييزو ساحو کې د شيشو ساماګام (د ماشومانو ډله) جوړښت ده. سوبهاليکا باروا د جويتی باليکا ښوونځي زده کوونکی په تيوك، جورهات کې وايي: د موږ د تعامل له لارې ډيرڅه زده کړي دي. او کوليشو خپلی مسئووليتونه د ځانګړو ټولنيزو مسايلو په اړه ووايو او په ښوونځي او ټولنې کې د تصميم نيونې يوه ښه برخه و اوسو موږ د سيمه ييزې ټولنې په سطح يوې پراخې متقابلې اړيکې ته اړتيا لرو چې و کولی شو لا زيات خبرنيا ومومو او لا زيات ماشومان په دې پروسې کې و وروزو زه او زمانوی ملګري د ماشومانو د ساتنې په مرکز کې له ماشومانو سره د چايکاری جورهات په بڼ کې خبرې اترې کوو تر څو د نوموړې سيمې د ماشوومانو نظريې او مسووليتونه څرګند کړو.

همدا راز ماشومان په ټولنې کې زيات ګډون کوي د بيلګی په توګه د ماشومانو د ګډون په يو کار ځآی کې (چې د ښوونځي د زده کوونکو په واسطه پيل شوی و) ماشومان او تنکي ځوانانو غوښتنه وکړه چې د ګواهات ښار والې ورته په ښار کې يو ځآی ورکړي تر څو وکولی شي په نوموړي ځآی کې پوسترونه رسمونه او د نجونو د زده کړې د تبليغ په اړه شعارونه او ټول ټولنيز موضوعات نصب کړي. د ديشايارو‌ما او ساندهيا نار زاری د وينا پر بنسټ د دهلی د دولتي ښوونځي (ګواهايی) د اتم ټولګی زده کوونکي ټولنيزو مسايلو ته په پاملرنې د ګډون په برخه کې داوطلب ماشومانو په را جذبولو کې مرسته کوي.

فعال ماشومانو د ګډون په ابتکاري طحې کې غوښتنه وکړه چې يوه د کار وړ رسانه خپره شي چې هغوی وکولی شي هغه انتقادی کذارش چې له دې لارې خپريږي ووينې پارتاپرانيم ها ېاريکا د يوولسم ټولګي زده کوونکی وايي:( لکه څرنګه چې موږ په کلکه د رسنيو تر اغيزې لاندې يو، ځکه خو د رسنۍ د انتقادی رول درك خورا اهميت لريؤ له رسنيو څخه مناسبه ګټه اخيستنه کولې شي

هغه ټولنيز موضوعات چې زده کړې سره اړيکې لري تبليغ کړي.) هغه موخه لري د زده کوونکو په مرسته د آسم په ټولو سيمو کې يوه ورځپانه خپره کړي چې په ماشومانو پورې د اړوندو مسايلو او مسووليتونو څرګندوی وي.

د برنامې فعاليتونه دا راښيي د ماشومانو ګډون په بيلابيلو سطحو کې د ماشومانو تل ګډون او په تصميم نيولو کې تل څرګنديدلو پر مختګ کړي دی همدا راز د زده کړه بيزو او ټولنيزو مسايلو په اړه د مشرانو او ماشومانو د خبرو اترو او څرګندونو ګډون ته اړتيا لاپسې زياتيږي. واقعي ګډون زده کوونکو ته دا توان ورکوي چې کړنې او پايلې يې وشميري د آسم په ولايت کې د ګاندي سميريتی او دارشان (په ډهلی کې د مهاتماګاندي ملی ياد) يونيسف او دکاسترد ملی يا د اتحاديه له ګاندی سره کولی شې مخ پروړاندې ګام واخلی او ماشومانو د ودې اصلی جريان ته ور د ننه کړي او هغوی له خپلو حقونو څخه خبر کړي. سره له دی د واقعی ګډون پرمختګ د هغو ماشومانو د هر اړخيزو برخمن کولو له لارې چې زمينه ورته برابره شوې ده، اوږد مهاله لاسته راوړنه وي.

له همدې کبله ددی لپاره چې وکولی شو د ماشومانو د ګډون برخه د هغوی د ښوونځي له زده کړی يوځای وساتو يوې آګاهانه پلټنې ته اړتيا لرو.

ښاغلي وادابهايس کوندو.

د ګاندی سميريتي او دارشان ساسيتی د برنامې مدير، تاسی کولی شئ د لاندې پتې له مخې ورسره اړيکې ولرئ:

5 Tees January, Marg. New Delhi, India

vedabhyas@gmail.com

که چيرې مايل ياست خپلې نِظريې مو راوليږی

يا مقاله وراندې کړې د EENET سره اړيکه ونيسي.

په لاندې پتې بريښناليک راوليږي :

asia@eenet.org.uk

يا لاندې پتې ته ليک راوليږي

EENET Asia

Jalan Panglima Polim X No. 9

Kebayoran Baru

Jakarta Selatan 12160

Indonesia



عکس | IDP Norway

په دې موده کې مې خيلی خلک ليدل چې د تاوان پيژندنی موضوع يې تر څيړنې لاندې نيولې وه او همدارنګه د معلولو ماشومانو د ودې او د زده کړو مسئولين تر نظر کيده زياتره په ښوونځی کې کارکوونکي او په خاصو مؤسساتو کې چې د وزيرانو زده کړي او د پخوانی شوروي له خوا په لاره اچول کيده دنده ترسره کوله مخکی د تاوان پيژندی په هکله زده کړې کړې وې تاوان پيژندنه يا هغه څه چې کله ناکله د ترميمی زده کړی په نوم يې يادوو يو اونيز چاپيريال دی چې معلولو ماشومانو ته يو نظام جوړوي دغه

چاپيريال د نه قبلوونکو زده کړو ځينی برخی را پيژني او هغه طبی او د ټولني ساتنيز مؤسساتو ته زرسيزي. دغه کار، دغه تصوير معمول دی خو ناوړه ترسترګو کيږي.

چې په پخواني کمونستی نظام کې ډيری معلوله ماشومانو په خاصو مؤسساتو کې ژوند کاوه سره له دې د زياترو تاوان پيژندونکو توصيه دا ځيرنه ښايي چې په سيمه ييزې ټولني کې په ځانګړی ډول ماشومان بغير له لاسته راوړنی او يا لږې لاسته راوړني سره تحصيلی خدمتونو ته لاس رسي نه لری او د خپل مور او پلاره په نارامه توګه ژوند کوي.

ال.اس. وګونسکی روسی روان پيژندونکی په 19341-1896 کې په لومړي وار په 1920 لسيزه کې د تاوان پيژندني مفهوم مطرح کړ. دا نظريه ددې فکر پربنسټ ويل شوی چې بشري وده داسی وسيله ده چې په هغې کې ماشوم له ټولنيز چاپيريال څخه د تجربو د زده کړی په حال کې دی

په دې لړ کې مشران او د ماشوم همزولي د هغه په دوامداره لاښونه او هدفمنو اړيکو کې مهم رول ترسره کوی په هغه مهال کې وګوتسکی داسی دليل وړاندی کاوه چې تاوان بايد په بد شکل و نه بيژندل شي. بلکې هغه بايد ټولنی ته وړاندې کړو. دا ټکی له دی څخه حکايت کوي چې هغه په خپل زمانه کې ډير پرمخ تللی و. او د هغه نظريې په ډيره ښه توګه په تړيوالي ويشني کې د وروستی لاسته راوړني په ټوګه تر لاسه شوې چې د نړی والی ښکني د سازمان له خوا طراحي شوې او د طبی تشخيصونو په وړاندې محيطی او شخصی لاملونه لری.

تاوان (نقص) پيژندنه د ماشوم د ودې لپاره يو ښه ميتود دی د هغو ماشومانو د زده کړې لپاره چې لږ او متوسی ناتوانی لري او ګوتسکی د غربی ځانګړی برخې نظريې چې د ښه هوښياری سبب ارزيابی او د ودې کچه معلومو ي مخالفه ده. داسی فرضوي چې د ماشومانو بيرته پاتي کيدل (هغه چې له خپله توانه زيات د نورو وندو ته مينه ورکوی) لرونکی د ټولنيز چاپيريال، روزنيز غفلتونه مغزي فلج (ثانوي اختلات دي او داسی تصور کيږي چې که چيری ماشوم په مناسبه چاپيريال کې زده کړې وکړي صحت يې ښه کيږي د دوې په نظريه کې او ګوتسکی د هوشمندۍ د کړنې په خلاف د مثال نقل کړ چې د يو يې تاتاری دوه ژبې انجلی په اړه دلی چې پخوا يې ذهنی بيرته والي درلود په داسي حال کې چې اوګوتسکی ثابتوی له اړيکو څخه د هغې بی ګټې د ژبې، د هغې د ودې رابيرته پاتيکيدو لامل وګرځيد.

دا بېلګه دومره کلکه ده چې د ننی ورځې د عيب پيژندونکو د واټن کچه د هغه له بنسټ اينودونکو سره ښيي. لکه ټ،له ختيځه اروپا، رومانيايي ماشومان هم له دې کبله چې د هغو مورنی ژبی او هغو فرهنګ چې پر دوه ژبې غړي پوري منحصر دی ترې بې پروا دي، د معلولينو په يوې ځانګړې پياوړې مؤسسې کې ژوند کوي.

د دې ارزيابيو له مخې، يو عيب پيژندونکی له بيلابيلو لارو څخه د ځانګړي زده کړه بيز چاپيريال په لټه کې دی چې په دې لړ کې: د تعاملی زده کړې مدلونه، د امکان تر پوړه پر اختلال غلبه، د درسي برنامو په زده کړه کې ماشومانو سره مرسته او ګوتسکي ټولو ښوونکو څخه و غوښتل د (ځانګړي مثبت کړنی) په لرلو سره د ماشومانوپياوړتيا او کمزورۍ د پيژني.

د لومړنيو پرمخ وړونکو رينو او ايديالوژۍ پر وړاندې په ختيځې اروپا يا د مشترك المنافعو مستقلو هيوادونو په يووالی کې، له کارونو څخه لاسته راوړني زموږ لپاره لا منفی دي. آينسکو (Ainscow) له نننی عيب پيژندونکي څخه داسي لاسته راوړنه کوي. (يو عيب پيژندونکی چې تل په ځانګړو ښوونځيو له کمزورو او له نورو څخه جلا ماشومانو سره اړيکي لري.

څرګنده ده چې دغه ښوونځي کله چې د ناحيي په ځينو برخو کې شتون لري، ظاهريږي له ټولني سره هيڅ ډول سمون نه هڅوي.

ځيرونکی په دې و پوهيدل چې عيب پيژندونکی له نويو طريقو يا د سمون په نظر کې نيولو سره مخالف وو.

په صربستان کې عيب پيژندونکو داسي فکر کاوه چې يوازې د معلولو ماشومانو په زده کړه کې صلاحيت لري په بلګراد پوهنتون کې د عيب پيژندني پوهنځی، د هر اړخيزې زده کړې له تغيير سره مخالف وو ځيني له ننني عيب پيژندونکو سره موافق دي. دا چې روان حالات د معلولو ماشومان موخې ته په رسولو کې بريالی نه و او په پايله کې سره له دې چې ګوتسکي ځانګړي زده کړه د ترټولو کمو انتظارونو تړښت او تعديل شوی درسي برنامي تر عنوان لاندې نقد کړی ده چې د هغو راوستل بل ځانګړي چاپيريال ته او له ځانګړو طريقو څخه په کار اخيستنې سره نه شی کولی په يو ټولګي کې تحقق ومومي. زه د هغه له ارزيابي سره موافق نه يم. او په دې باوريم که د هر اړخيزې زده کړې په بنسټه مطالعه کړو ماشومانو ته رسيدل، دغه مسايل د وګوتسکی له آندونو سره سمون لري. زه هڅه لرم چې خپلو ملګرو ته د نړۍ له ټولو سيمو څخه بلنه ورکرم چې له موږ سره په دې خبرو اترو کې يو ځای شي تر څو وپوهيږو چې څرنګه د وګوتسکي اصلي اندونه په ختيځې اروپا او مشترك المنافع مستقل هيوادونو کې د ماشوم محوری

او د هر اړخیزې چټکې زده کړې لامل ګرځي څرنګه چې د پرمختیايي هیوادو دولتونه د بین المللي سیاستونو په ترڅ کې په جدی توګه تعهدات ښیی اړینه ده چې له خپلو میراثونو څخه خبتیا ولري او دا چې د هغو فرهنګ او پوهه په څه ډول سره کولی شي د جنګ جګړې پر ځای د بین المللي موخې پرتینګښت پای و مومي. دغه موخه کولی شي چې په لا ټولو ته زده کړه کې د عیب پیژندونکو مثبت رول او د همدا راز زده کړو ترسره کولو ته ځیر شي. هر اړخیزوالی کولی شي چې د بین المللی موخو د سیمه ییز تحقق بیلګه شي.

د څیړنې آرې پایلې داسې تشریح کوي چې:

د معلولو ماشومانو زده کړی ته لاس رسی په پرمخ تیايي هیوادونو کې هرې ټولنی ته د پاملرنی وړ ده د حل لاری ځینو د دوه ایزوکړنو ردولوته اړتیا لری: هر اړخیزه ټولنیزه پراختیا د بی وزلۍ د ستونزو د له مینځه وړلو په معني ښوونځی او د معلولیت هغه ځانګړی برنامی هر اړخیزه کوی چې ښوونځی د دغه جریان تابع دي. خو ددې بریالیتوب لیکۍ د تاوان (عیب) پیژندونکو د اوسنیو کړنو هر اړخیزول او د حل د لارو مومل چې پر عیب پیژندنې پورې اړوند وي.

میرمن اندریا وګت (Andrea Vagt) له هغې سره په لاندی پته اړیکې نیولی شئ.

avogt@opmercytj.org

او یا د پست له لارې ۳ ګنه د لویك شرالی سړك دوشنبه: پستی کوډ: ۷۳۴۰۰۳ تاجکستان



**هر اړخيزې زده کړې د اوسني وخت اړتياوې:**

**کانچامار اسيمهان**

په تيرو زمانو کې په هند کې زده کړې د وخت د ښوونکي (ګورکول) په واسطی نوروته رسيده، ښوونکی په خپل کور کې په شفاهي ډول زده کوونکی ته زده کړه ورکوله او زده کوونکی له خپلو ښوونکو سره پاتې کيدل په همدې ډول دا نظام په اوسني رسيدلي رسمي نظام بدل شو او ابنبودونکي يې انګريزان و.

د انګريزانو په سلطنت کې، مذهبی تبليغيان هند ته راغلل او د معلولو لپاره ني ځانګړي ښوونځي پرانستل، ميرمن انی شارپ Ammi Sharp په لومړي وار په 1887 کال د ړوندو لپاره په امريتر Amritar کې تاسيس کړ او وروسته له 1903 کال کې دهرا دون Dehradan ته يوړل شو نو د شارپ د ډېدو د يادښت تعمير واړول شو غير دولتی سازمانونه ته دا دنده ورکړه شوه چې د ړندو لپاره د حرفوي زده کړو د انتقال د زده کړې په برخه کې اقدامات وکړي. د زده کړې مشهوره کار پيژندونکی هم ړنده و د زده کړې په لاره کې چې د ړندو لپاره جوړ شوی و سرته رسوني وکړې چې د هغوی د جدي پلټنو د ګډ زده کړو لپاره پايلې ته ورسيد. دغه اقدامات و زده کړی د ښه والی لپاره هر اړخيزه مرسته وه ددې مجموعي په راس کې د هند پياوړتيا بخښنی بهير، د معلولو غړو زده کړې او پياوړتيا بخښنی يې تر آزموينې لاندی راوړ او د ښوونکو د تيارولو او روزنې لپاره د زده کړو د دورې پيل کړې د هر اړخيزې زده کړې مفهوم په 1994 کې د سالامانکا Salamanca په بيانيه کې طح شو زياتره ښوونکي فکر کوی چې هر اړخيزی زده کړی ځانګړې زده کړو بل نوم شو.

هغوی د معلولو ماشمانو او نور سيمه ييزو ماشومانو د کار لپاره اړين چمتوالی نلری دا ځکه چې هغوی خپل ځانونه محدود کړی و چې د هر اړخېزوالی د کړنې له درکۀ کولو څخه غافل پاتې شول هغه څه چې ښوونکي او ټول زده کړه ايز مسئولين چې بايد پرې و پوهيږي دا دی چې ټول ماشومان (معلول يا جوړ) وی د خپلی خوښی په ښوونځي کې حق لري نو ددې لپاره ماشومان د زده کړی د درك لپاره ځانګړی اړتياوې او د ښوونځيو د چمتوالي لپاره اړتيا لري مسئولان د د موضوع د حل لپاره لاچاره دي بايد د هغو ښوونکو چې په هر خيزه زده کړه ايز چاپيريال کې په کار بوخت دی ملاتړ يې وکړې ښوونکو د روزنيزو ميتودونو سره سم د هغه څه چې د زده کوونکو لپاره مناسب دي لاچاره دي.

همدارنګه هغوی بايد د بيلابيل ميتودونو د اصلاحی زده کړی په برنامی وپوهيږی او د ضرورت مطابق مناسبه تغييرات سرته ورسوي دغه کار ټولی هر اړخيزې زده کړې هڅوی. او د زده کړی کيفيت ټولو ماشومانو لپاره غوره کوي.



...کې له مهمو (پټو) کارونو سره مخامخ کيږي چې په زده کړه ايزه نظام کې ستونزې لری.

زه او زما وړوکی ورور ړنده وو او په معمولی ښوونځي کې مو زده کړه کوله زمونږ د ملګرو او ښوونکو ليدنه په ښوونحی او پوهنتون کې موږ ته زموږ د قابليتونو په برخه کې د يو ډول بی اعتمادي او شکل څرګندونه کوي دا ځکه چې ما د دواړو زده کړو لپاره د جغرافيئ څانګه مې پر مخ وړله او ورور مې د اقتصاد څانګه انتخاب کړه بايد ووايم چې ورور مې زما څخه په ښه حالت کې دی او د ښوونکو لخوايي ډېر حمايت کيږي. ما لپاره ډير ګرانه وه ځکه ما جغرافيه د انتخابي ځانګې په توګه پر مخ وړله ما د ښوونځې نهه د دغی مضمون سره مينه لره او دا کار زما په ژوند کې يو محرکه لامل و ما پياوړی ميل او شهامت درلود چې کارونه په معمولی ډول نه بلکلې په بيلابيلو ډولونو ترسره کړم.

د لوړو زده کړو په کارونو کې چې ډير خنډونه درلوده کله چې زما د سترګو ليد کميده او 3 نمرې ته رسيده د يادښت لپاره مې هر شی د نژدی نه د تختي څخه ليکل ښوونکو زما ددې تغيير ته پاملرنه نه کوله زه نشم کولای چې د هغوی بی توجهي (نه پاملرنه) د خپلی زده کړی پايښت کړم.

دا ناشونی تغییر د لومړی ځل لپاره زما د مور د پاملرنې وړ وګرځید کله چې هغې ولید چې زه کتاب خپلو سترګو ته نژدې کوم او نه شم کولای چې کلمې په کتابچه کې په سم ډول ولیکم ډېر وخت نه و تیر شوی چې د طبي معایناتو د تائید وړ وګرځید چې زه توره فاسده لکه (داغ) Macular Degeneration په سترګو کې لرم او ډاکټر وویل: چې زه په ورو ورو خپل لید له لاسه ورکوم په پای کې په شانکارانترالیا Shankara Netralaya چې په چنای هند Chennale-India کې پروت و ماته یې ذره بینې عینکې راکړې ډاکټر زما مور او پلار ته وویل چې خدای مه که چې خپلو زده کړو ته به ادامه ورنه کړم مور او پلار مې دا خبره جدي ونیوله او ددې ویرې سره یې مقابله وکړه که چیری ماشوم د لید د کمزورتیا څخه استفاده وکړی د نورې کمزورتیا سره مخ کیږي هغوی مې د کومې زده کړی د ړندو ماشومانو په اداره کولو کې د فعالیتونو په ترڅ کېږما ملاتړ یې وکړ هغوی په لوړ آواز لولې او غټ تصویرونه په بیلابیلو رنګونو رسموی.

هغوی په ازمېښت او خطا هغه څه چې اغیزمن و زده کړه او هغهع یې تعقیب کړه دا کار مطابقت کوی د یو پیاوړی میل او تشویق سره او د ماشوم د زده کړو لپاره د مناسبه شرایطو برابرول دي زه حیرانه شم چې څرنګه ښوونکو و نه شو کړای چې دا کار ترسره کړی اصلی ستونزه هغه وخت پیل شز چې زه په ښوونځی او پوهنتون کې وم، ډیری ښوونکو په خاص ډول (جغرافیې ښوونکې زماله قابلیتونو شك کاوه په داسی حال کې چې زما مور او پلار ورسره خبری اتری پیل کړی وې او خپل معلومات یې ورته بیانول چې په څه ډول ورو تغیرات او اصلاحات زما سره مرسته کوي. تر هغې چې د ساینس او د انګریزی ژبې او د تاریخ د ښوونکو له خوازما ملاتړ وشو. ډېر ژر یې د نورو زده کوونکو د بیلګې په توګه وګڼلم دغه ښوونکو زما د زده کړی طریقه نه وه لیدلې خو په کراره یې زما پټ فعالیتونه هم تشخیص کړه. هغوی وپوهیدل چې زه کولای شم خپله رشته (د جغرافیې څانګه) پر مخ وړلی شم که دا کار هر څومره ګران وی ولی ناممکنه نه ده.

پکار ده چې ووایم چې زما او زما د ورور لید د 6 کلنې را په دیخوا ثابت پاتې شوی ده. او دا کار مونږ ته لا پیاوړتیا راکوی چې په علاقمندی سره خپلې زده کړی ترسره کړو زه فکر کوم چې د جغرافیې مضمون هر هغه څوك چې ورسره مینه ولری او لږ څه ښه ذهنیت ولری په آرامې سره د پوهیدو وړ دی د رایجو نظریو په خلاف ددې رشتې لوستل د هغو کسانو لپاره چې د سترګو لیدیې لږ وي ممکن دی خو دا کار د ښوونکو او مور او پلار په ملاتړ سرته رسیږي هغوی غټو نقشو او تصویرونو ته اړتیا لري تر څو وکولای شي جغرافیوی جزئیات درك کړی او باید د ګډوډ رنګونو څخه استفاده وشي او نباید په یوه نقشه کې زیات جزئیات ځای شي باید زده کړه ایز مطالب په غټو حرفو چاپ کړی شي.

چاپ شی تر څو د لوست وړ وي دا میتود (کړنې) او تغییرات واړه او ساده دی چې هر اړخیزې زده کړې لاښې او پیاوړې کړي زه عقیده لرم چې ټول د ښوونځې ښوونکې او د پوهنتون استادان د زده کړری د دورو اړین دي چې په ترڅ کې یې نه یواوی د معلولو ماشومانو سره کار وکړی بلکه د ټول ماشومانو سره مرسته وکړي دا زده کړی ښوونکې پیاوړی کوی چې تر څو دا درك کړی هر یو ماشوم د یو غړی پوری اړه لری او داسی قابلیتونه لری چې په مجموعی ډول په مناسبه توګه د ضرورتونو په تحقیق کې ورسره مرسته کوی.

زما باور پر دی دې چې هراړخیزې زده کړی عملاً د فردی توپیرونو پراخه خیالونه چې د جسمی وټه ایز، ټولنیز، فرهنګی، احساسی او قومي ډولونو ته ځواب ورکوونکې دي.

هر اړخیز والی یوازی یو فکري میتود د لیدنه ده چې د شخص فکر او خیال ځکه اړین دی چې څرنګه کولای شو اړیکی او روزنیز مهارتونه د نورو له ځانګړو اړتیاوو څخه لاسته راوړنو سره کړي، هغه له هم یوه لاره پیدا کوي.

او (زړور خلك د زمري زړه لری)!

لاره اوږده ده توانمنه او ماته په انتظار دی

خو هغه لری دی

د ونې سیورې ته په ځیر ګورم

او پوهیرم چې هلته شتون لری

دغه کربنې د خپل مور او پلار او ښوونکو د بې دریغه حمایتو په ویاړ ورته وړاندی کوم

میرمن کانچانا ماراسیمهان په اوس مهالی کې په آدیتی ماهاویدیا لایا کې د ډهلې په پوهنتون کې د جغرافیې د لارښود په توګه کارکوي. او کولای شی په لاندی پته ورسره اړیکې ونیسی.

kanchanadel@rediffmail.com

پستي پته: 122 ګڼه مال آپارتمانونه، مال څلور لاره، دهلي، پستی کوډ 110054 هند.

**د ښوونکو مسلکی معیارونه د زده کړې د کیفیت او برابرتیا په ډیروالی**

د لیکونکي ډلي هیت

د آسیا په بیلابیلو هیوادونو کي د ښوونکو لپاره د معیارونو د مینځ ته راوړني په خاطر د زده کړې د کیفیت د لوړوالي هدف ته اقدام شوی. دا کار ښوونکي د تغییرولو لاملونه بولي، ځکه چي د هغوی کړنلارې، لیدني کولای شی د ماشومانو په زیاتی زده کړی کي د پیاوړتیا سبب وګرځي او یا د هغه مانع شی ددې لپاره د ښوونکو د مهارتونو لپاره پانګه اچونه یو ضروری امر ګڼل کیږي ددي لپاره چي څرنګه وکولای شی ښوونکي د زده کړې لپاره یو مناسبه فضا مینځ ته راوړې چي نه یوازې زده کوونکی د آزموینو لپاره قبول شي. بلکه ښوونکی د ارزښتونو یره بیلګه ده او د ټولو زده کوونکو ګډون او اوسیدنه په نظر کي ونیسی. او په همدی مهال کي د لیشه ئي دیدګاه ونو د انتقاد ترڅنګ ځانګړو نژادونو ته درنښت پلې کړو.

دا چي ماشومان په ښوونځي کي پاتي کیږي اوله هغه څخه ګټه تر لاسه کوی یا هم یي نه ترلاسه کوي د هغه څه سره چي په ښوونځي کي تر سره کیږي تړون لري نو ځکه اړینه ده چي د ښوونکو زده کړې په خپل وار سره په داسی حال کي چي ښوونکو په هغو پوهو متخصصانو بدلون و مومي چي په مینه او پیاوړتیا سره په خپلو کړنوکي فکر کوي

**د کیفیت معیارونه:**

د معیارونو په مینځ ته راوړلو کي دا موضوع د اهمیت وړ ده چي ارزښتونه مهارتونه لاسته راوړني، او پوهه باید د مسلکی زده کړی نوم و نومول شی. ددي لپاره ښوونکو ته د معیارونو ډیر مهم دي معیارونو مرسته کوی تر څو د ښوونکو درنښت وشي لارښووني د کارونو د پرمختګ په ترڅ کي بیانوي زده کړی او یادول د ښوونځي په کچه لوړیزی او د ښوونکو مسئولیت او لازمه ځواب ورکونه زیاتوي د زده کړی په نظام کي معیارونه، د سنجش ار اصل، انتخابول، د اعتیار بیان، لوړوالی، کاری پرمختګ او د ښوونکو څخه حمایت وي.

د ښوونکو د معیارونو ځانګړتیاوې: زیاتره هیوادونه د 9 نه تر 14 کلنه پورې معیارونه لري ددې مقالی د هدف لار د معیارونو بیلګي او ځانګړتیاوی مو په لاندې ډول راوړي چي له بیلابیلو هیوادونو څخه ټول شوي.

اول معیار: د پوهي محتوا

| | |
|---|---|
| آیا ښوونکي اصلی مفهومونه، د اړتیا وړ کړنی او د درس موضوعی جوړښت په بیانولو پوه شوی او آیا پوهیږي چي څرنګه د تجربو معنا لرونکی یادیدنه بیلابیلو زده کوونکو لپاره مینځ ته راوړی ددې تر څنګ دغه تجربی د زده کړې د نظریو د پرمختګ سره اړیکي ولری. | 1.1- هغه خپله پوهه زده کړه ایزو نظریو او ځانګړو روزنیزو موضوعاتو چي پر تحقیقاتو بناوی له وروستیو پرمختګونو څخه ښودلي ده. |
| | 2.1- هغه خپله پوهه په ښوونځي کي د اړتیا وړ درسی برنامی څخه ښایي. |

۲-معیار: د زده کړې د بیانولو کړنلار:

اول پاراګراف.

ښوونکي بيلابيلې استراتيژي د زده کړې پوهه په اختيار کې لري او هغوی د پوهې د تشويقولو په خاطر د انتقادی د فکر دودي، د مسئلې حل، د زده کړې وړ مهارتونه، د نظم او پوهی پر بنا، د پوهې تر لاسه کولو ډولونه، ټولنې د درسي زده کړو برنامې موخې پکارول کيږی.

دويم پاراګراف:

-2.1 هغه پوهيږي چې څرنګه د زده کوونکو، زده کړې د زده کولو له ډول ډول ځانګړنو سره د زده کړه ايزو موادو وقتی او انسانی منابعو څخه په استفادی سره پر مخ يوسي.

-2.2 هغه خپل نقش د زده کړې – له ياد و يادولو ميتود د ښوونکي د آسانتيا ورکوونکی، مشوره ورکوونکي يا مخاطب ته تغير ورکوی په داسی حال کې چې د هغو وضعيتونو او چاپيريال بدلوي. او د زده کوونکو د اړتياوو د پوده کولو لو د هغی د روزنې په لټه کې دي.

-2.3 هغه خپله پوهه د دويمی ژبی د زده کړی او د بيلابيلو مورنی ژبو لرونکو زده کوونکو له زده کړو څخه د ملاتړ لپاره د ستراتيژی په اساس څرګندوی

-3 معيار: کاری او شخصی سلوك او د هغه وده:

ښوونکی د تل لپاره په دی فکر کې دی چې څرنګه کړنې انتخاب کړی چې په زده کوونکو خپله اغيزه واچوی او هغه د ارزيابی لاندی راوړي.

د کاری ودې لپاره فرصتونه لټوي.

-3.1 هغه خپل فرهنګ، دين، جنسيت، د زده کوونکو جنسی ميلونو او کورنيو ته احترام کوي.

-3.2 هغه د درسی ټولګي د لاسته راوړنی، د زده کوونکو په اړه څرګندوني او پلټني او روزنې د پوهې له اظهار څخه چې د فعاله بازتابی، ارزيابی او د خپلو کړو د اصلاح په عنوان دې ترې ګټه اخلي.

-4 معيار: زده کړی او پرمختګ

ښوونکی پوهيږی چې څرنګه غړي (افراد) وده او پرمختګ کوی او زده کړه کوی هغه د فکري ټولنې او شخصی پرمختګ لپاره د زده کولو ځانګړی وخت برابري.

-4.1 هغه خپله پوهه د بيلګو، اړتياوو او د زده کوونکو زده کړې د يادولو استراتيژي او بيلابيلې اړتياوې يې ښيي.

-4.2 هغه د ټولګي د مديريت اغيزمن اصول او استراتيژی درکوی په داسی حال چې رسمی سياستونه او قواعد له ځانه سره ساتي.

-4.3 هغه د کورني معلوماتو، فرهنګ او د زده کوونکو د ټولنو د زده کړو لپاره د اړيکی جوړول او د زده کوونکو د تيرو تجربو او زده کړو څخه استفاده کوي.

-4.4 هغه مفهومونه او اصول پرتاوتوب لامله زده کوونکو ته پيژني. ددې لپاره چې د پوهی په کومی کچې وي د هغوی لپاره معنا لرونکی وي.

-5 معيار: ارتباطی مهارتونه

| | |
|---|---|
| ښوونکی د عملی علم، لیکوالي. کلامی (وینااېز) غیر وینااېز، او ارتباطی تکنیکونو څخه ګټه اخلی تر څو چې د وجود څرګندونه ګډه مرسته او یووالی په ټولګی کې و روزي. | 5.1- هغه د اړیکو نظریې، او د ژبې په پرمختګ پوهیږي او په ژبه راوستلی شي.<br><br>5.2- هغه د ګټورو او پوښتنو له تکنیکونو څخه استفاده کوی او په بیلابیلو متودونو د زده کوونکو د زده کړی هدف ته د رسیدو لپاره خبری اترې کوی.<br><br>5.3- هغه د ګروپي آسانتیایي مهارتونو، د جنګ جګړی مخنیوی او ګټور یادول په کار وړي. |
| ښوونکی د تلخیص او پرمختګ د ارزیابي ستراتیژی څخه خپل پراخ فکر زده کوونکو ته وړاندی کوي. | |

6- معیار: ارزیابی، لیدنه او اغیزمن عکس العمل بیا ځواب ورکونه (Feed Back):

| | |
|---|---|
| او له هغو څخه د زده کوونکو د فکري، ټولنیز، جسمی او عاطفي دوامداره پرمختګ د پایلو په خاوړ ترې استفاده کوي. | 6.1- هغه د موخو، ځانګړنو، او محدودیتونو د بیلابیلی ارزیابی د ډولونو (مثلاً د پرمختګ ارزیابی، تلخیص، او د ښو او لازمه زده کړو د برنامې ارزیابي) درك کړي.<br><br>6.2- هغه درکوي چې څرنګه د ارزیابی پایلې په یادولو لو زده کړی کې منعکس کړی او ورته تغییر ورکړی.<br><br>6.3- هغه د هغو زده کوونکو چې د یادولو ستونزه یا د جزیي یا منځنی ستونزه لری د پرمختګ په طریقه پوهیږي. |
| | |

7- معیار: ګروپی اړیکي

| | |
|---|---|
| ښوونکی خپله پوه په زده کړه کې د ټولنی له رول څخه څرګندوي. او له څېلو مرستیالانو، مور او پلار، مشرانو او ټولنی څخه د زده کوونکي د زده کولو لو آرامتیا څخه د ملاتړ لپاره ګروپي اړیکی ساتلی. | 7.1- هغه په امتیازونو، ځنډونو او د والدینو او په کورنې اړیکو کې د اخته کیدو په تکنیکونو پوهیده.<br><br>7.2- هغه د ګډې تصمیم نیولو او رسائۍ او جنګ جګړی په حلولو کی له بل متخصص سره د زده کوونکی سولې د تر لاسه کولو لپاره ګډون کاوه. |

په کامبوج کې د معلولو ماشومانو د زده کړې په برخه کې د سازمانونو تر منځ همکاري

**ویشتراکونک او کایاکالیالپور**

ټولیزه زده کړه د کم ځواکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو خدمتونو د تامین په موخه د یوه نړیوال لاربنود په توګه په 1994 کال کې د سالمانکا په نړیوال کنفرانس کې مطرح شو.په 2000 کال کې د ((زده کړه د ټولو لپاره)) د موخې د تحقق لپاره د سنګال په داکار کې د زده کړې نړیواله مناظره تر 2015 کال پورې جوړه شوه. په حقیقت کې موخه دا وه چې ټولې ډلې چې د دود له مخې بې برخې دي او په ګوښه یې غوره کړېده، لکه نجونې، بېوزله ماشومان، قومي لږکي او معلول ماشومان، په معمولي ښوونځیو کې د زده کړې څخه برخمن شي. په هماغه کال کې نړیوال بانک استدلال وکړ چې معلولیت هم د بې وزلې علت او هم د هغه معلول دي او لدې کبله باید د هغه د کمولو لپاره هېڅ ډول هڅه دریغ نشي. په همدې برخه کې کامبوج د بېوزلو او کمزورو ماشومانو لپاره د ټولیزې زده کړې د تامین پیل کړ.

د 1992 کال راپېښوا نادولتي سازمانونه لکه کروزرتمي، د لاوال او ربیت ښوونځیو په ځانګړو ښوونځیو کې د معلولو ماشومانو لپاره زده کړه پیل کړه. دغه ټولې ښوونځې د فنوم پنه په سیمه کې واقع دي چې په هغه کې د کروزرتي موسسې خپل فعالیت د لیدو او اورېدو د ستونزو لرونکو ماشومانو پر زده کړې راوڅرخول او د هرې ډلې لپاره یې ځانګړې ښوونځې جوړې کړې. د لاوال ښوونځې خپل فعالیت د حرکي نیمګړتیا لرونکو ماشومانو پر زده کړې متمرکز کړ. پداسې حال کې چې د ربیت ښوونځې خپله وړتیا له زده کړې څخه د بې برخو ماشومانو او یتیمانو چې متوسط یا شدید دماغي کمزورې لري او لدې کبله په عادي ښوونځیو کې ندي منل شوي. که څه هم چې وزارت پر دغه چارو څارنه کوي مګر د څارنې او په چارو کې د مداخلې کچه یې ډېره کمه ده.

په 1998 کال کې د معلولیت د چارو شورا (DAC) د معلولیت د چارو په اړه د یوه سلاکار سازمان په توګه رسماً تاسیس شوه. دغه شورا د نیمه خپلواک واحد په توګه د دولت او نورو اړونده نادولتي سازمانونو د سلایي (مشورتي) اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د ټولنیزو چارو د وزارت لخوا د یوه دولتي حکم له لارې، د لویانو او ځوانانو د پیاوړتیا لپاره رامنځته شوه. د معلولیت د چارو شورا د معلولو ماشومانو د زده کړې لپاره د تر ټولو غوره او مناسبې لارې په توګه د ټولیزې زده کړې ملاتړ وکړ او د دغه مسئلې د پرمخ بېولو لپاره یې د لمړنیو زده کړو د ادارې (PED)، د پوهنې ، سپورټ او ځوانانو د وزارت (MOEYS) سره یې د چارو د همغږۍ لپاره نږدې همکاري پیل کړه.

د کامبوج د معلولینو د سازمان د 1997 کال خپور شوی راپور څرګندوي چې ښوونې او روزنې ته د معلولو ماشومانو د لاسرسي اصلي خنډ په حقیقت کې د روزل شویو ښوونکو کمښت دی. د دغه موندنې او د نادولتي سازمانونو او د وزارتونو د همکارانو څخه د لاسته راغلو مالوماتو په بنسټ د معلولیت د چارو شورا په 1999 کال کې پرېکړه وکړه چې یو شمېر ښوونځیو کې آزمايښتي طرحه پلي کړي. د یوه نړیوال سلاکار مرکز په فني او د استرالیا د کارپوهنې د خدماتو د پروګرام او د InterPART استرالیا لخوا تمویلېدونکی پروګرام خپل فعالیت په ټولیزه زده کړه کې د ګټې اخیستنې په موخه د ښوونکو په روزلو متمرکز کړ.

د ساوي رینګ په ولایت کې د کاي چاي د ښوونځیو ګروپ د آزمايښتي بېلګې په توګه وټاکل شو. ځکه چې منځنی ښوونځی وه او یو روغتیایي مرکز او یو معبد یې درلود او له ټولو مهم د دغه ګروپ ښوونځیو د مرکزي ښوونځې مدیرخپله د یوه معلول زوي لرونکی ؤ، لدې کبله یو مناسب څېړنیز مرکز ګڼل کېده. دغه پروژه د ښوونیزکال په لومړیو کې یعنې د 2001 کال د سپتمبر په میاشت کې په 9 لمړنیو ښوونځیو کې د یوې درې کلنې دورې او د یونیسیف ( د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق)، یونسکو، او د نې پون (Nippon) بنیاد په مالي مرسته پلي شوه. دغه بودیجې د پروژې د پلي کولو لګښتونه پوره کول چې په 2002 کال کې د ساوي رینګ د ولایت د رامدول په ولسوالی کې د ښوونځیو د یوه بل ګروپ په زیاتېدو سره دغه بودیجه هم زیاته شوه. همدارنګه د فعالیتونو او ښوونیزو توکو له لارې د خبرتیا کچه لوړه او ظرفیت جوړونه وشوه.

د خبر رښونې فعالیتونو د فنوم پنه په ولسوالی کې د 2000 کال د جون په میاشت کې پدې اړه د یوه جشن په جوړولو سره دوام وموند، او د دغه جشن په بهیر کې د وزارت لوړپوړې چارواکې، د نادولتي سازمانونو استازې، ښوونکې، دیني پوهان او خلک د معلولو ماشومانو په نڅا او آواز بوخت شول. خبر ورکوونکې معلومات چې د کامبوج د معلولو ماشومانو د وضعیت په اړه د یوه هراړخیزه راپور لرونکی ؤ، هم د معلولیت د چارو د شوراي لخوا چمتو شو. په 2001 کال کې د معلولو ماشومانو د زده کړې لمړنۍ ملي ورکشات د معلولیت د چارو د شورې او د پوهنې، سپورټ او ځوانانو د وزارت لخوا د فنوم پنه په ولسوالی کې دائر

شو. د دغه ښوونيز ورکشاپ موخه د وزارت او ټولني د خبرتيا د کچې لوړول، د ځانګړو ښوونځيو تر منځ د همکارۍ زياتول، او د ښوونکو د روزنې د سرچينو په توګه د هغوي د ودې تېزول او د ټوليزې زده کړې په اړه د نظرونو پراختيا ده.

د ظرفيت د لوړولو په برخه کې د معلوليت د چارو د شوار او د پوهنې، سپورټ او ځوانانو د کارکوونکو د يوې ډلې لپاره د 2000 کال د نومبر په مياشت کې ګاونډې هيواد لائوس (Laos) ته يو علمي سفر وکړل شو ترڅو هلته د ټوليزې زده کړې د بريالۍ تجربې په اړه ځينې شيان زده کړي. په لائوس کې د ښوونکو د روزنې لپاره د کارول شوي موډل سره سم يوه ملي اجرايي ډله چې د معلوليت دچارو د شورا د کارکوونکو او د وزارت د چارواکو څخه جوړه شوې وې د ښوونيزو چارو او د ښوونې د سرچينو د پرمختيا د تامين په موخه جوړه شوه. د ټوليزې زده کړې د لومړنۍ کچې ښوونيزې سرچينې چې دغه ډلې په پام کې نيولې وې، نه يوازې د ټولو هغه ښوونکو په اړه چې په آزمايښتي پلان کې شريک وو، وکارول شوې، بلکه همدارنګه د پوهنې، سپورټ او ځوانانو د وزارت د لومړنيو ښوونځيو د مفتشينو(څېړونکو) د روزنې لپاره هم وکارول شوې. په هغه ولايت کې چې آزمايښتي پلان پلې شوی ؤ، د ښوونکو د اړتيا وړ فني مرستو لپاره يوه اجرايي ولايتي ډله جوړه شوه، چې په دغه ډله کې دا کسان شامل وو: يو استازی د ولايت او د سيمه ييزې زده کړې د دفتر او د ولايت د ټولنيزو چارو د دفتر څخه، د ښوونځی مدير او د کامبوج د معلولينو د سازمان يو استازی.

کله چې د کامبوج دولت د زريزې د پرمختيايي موخو( چې د هغه له مخې د ښوونې او روزنې موخه د ټولو لپاره د زده کړې اوتر 2015 کال پورې د عامه لومړنيو زده کړو بشپړولو څخه عبارت ده) څخه خپل ملاتړ اعلان کړ، د پوهنې، سپورټ او ځوانانو په وزارت کې د ځانګړو زده کړو دفتر (SEO) او د کوچنيانو لپاره د ( د لومړنيو زده کړو د ادارې څخه جلا) د يوې نوې ادارې د جوړېدو په موخه د لومړنيو زده کړو اداره جوړه شوه. د ځانګړو زده کړو د دفتر کارکوونکي د معلوليت د دفتر د اړوند مدير د مرستيال، د دفتر د رئيس او مرستيال څخه عبارت وو. دغه موضوع د معلولو ماشومانو ښوونيزو اړتياوو ته د دولت د ځواب ورکونې د ژمنتيا ځرګندويه وه او پايله يې د زده کړې د ملي پروګرام په کچه کې د دغه شان موضوعاتو رونوالی ؤ.

په وروستنيو کلونو کې د معلولو ماشومانو د زده کړې پروژه په هغه سيمو کې چې د يونيسيف تر ملاتړ لاندې وې، زياته پراختيا موندە او د ځانګړې زده کړې دفتر او د معلوليت د چارو شوراي خپلې فني او تخنيکي مرستې رواني وساتلې. په همدې وخت کې نادولتي سازمانونو د ټوليزې زده کړې په برخه کې خپلې همکارۍ د پوهنې، سپورټ او ځوانانو د وزارت سره پيل کړې. د لاوال ښوونځی داسې تدابير ونيول چې د حرکي نيمګړتياوو لرونکي هغه زده کوونکي چې لومړنۍ زده کړې يې پاي ته رسولې دي، وکولاي شي په دولتي منځنيو ښوونځيو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. په ورته بڼه د کروزرتمي موسسې په ځينو ښوونيزو ورځو کې ګاونډيو دولتي ښوونځيو ته د زده کوونکو په لېږلو لاس پورې کړ. د ليد د ستونزې لرونکي زده کوونکي د دريم ټولګي د پاي ته رسولو څخه وروسته او د اورېدو د ستونزې لرونکي زده کوونکي د پنځم ټولګي د پاي ته رسولو وروسته په دغه پروګرام کې شاملېدل. برسېره پر د د کروزرتمي موسسې په مختلفو ولايتونو کې د لومړنيو ښوونځيو په کچه ادغامي ټولګي جوړ کړل چې په هغوي کې د کروزرتمي د موسسې مجرب ښوونکي د بريل (Braille) د تورو او د موسيقۍ د ژبې په کارولو سره د سمعي او بصري ستونزو لرونکو زده کوونکو ته زده کړه ورکوله.

په 2006 کال کې د سلا ورکونې د يوه نړيوال مرکز په فني او د يونيسيف په مالي مرسته د ځانګړو زده کړو دفتر د پوهنې، سپورټ او ځوانانو د وزارت له لارې د معلولو ماشومانو د ټوليزې زده کړې په اړه ځانګړې پاليسي او عملي طرحه غوره کړه چې په ښوونځی او د هغه څخه بهر د معلولو ماشومانو پر اړتياوو ولاړه وه. د دغه طرحې ځرنګوالی د مناسبې او بسياکوونکي څارنې او د ارزونې د سيستم د پلې کولو له لارې تضمين کېده. پداسې حال کې چې غوره شوې پاليسي وروستني تاييد ته انتظار ويست، دغه عملي طرحه د ((چټک بشپړوونکی نوښت)) په نامه هېوادونو ته دا وړتيا ورکوي چې د ځينو ځانګړو مقرراتو په پيروۍ لکه د ملي زده کړې د يوه پلان درلودل، تر2015 کال پورې زده کړې ته د ټولو د لاسرسي لپاره زياته بوديجه ترلاسه کړي. د دغه پلان پلې کېدل به د سازمانونو او ادارو ترمنځ د لازمي همکارۍ تر رامنځته کېدو پورې دوام ومومي. د پوهنې، سپورټ او ځوانانو په وزارت کې په ښوونځيو کې د روغتيا ساتنې اداره د نادولتي سازمانونو همکارۍ ته اړتيا لري ترڅو د اختلال لرونکو ماشومانو د په وخت پېژندو څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره د پياوړتيا خدمتونه ترسره کړي او همدارنګه د مرستې مناسب وسايل لکه ويلچر، آتل يا سمعک تامين کړي. د ښوونيزو دورو څخه مخکې د ټوليزې زده کړې د رامنځته کولو په موخه او همدارنګه د ښوونيزو دورو لندمهاله پراختيا د بريل او موسيقۍ د ژبې په برخو کې د دولتي مدارکو سره، د ښوونکو د روزنې اداره د ځانګړو زده کړو له دفتر، د معلوليت د چارو له شوراي او نورو نادولتي سازمانونو لکه کروزرتمي، سره همکارۍ ته اړتيا لري. د دغه چارې موخه د داسې ژمن نظام رامنځته کول دي چې وکولاي شي د ټولو ماشومانو که معلول وي او که سالم، برخمنتيا له ټولو مناسبو ملاتړونو څخه تضمين کړي او دوی ته د زده کړې او په ښوونځی کې د پاتې کېدو لاره هواره کړي او ټولنې ته يې د ننوتو لاره هواره کړي.

د کومرپيکار په بنياد کې ښاغلی ويشتراکونګ

برېښناليک: **vichtra2005@yahoo.com**

پروفيسور کاياکاليانپور، د ځانګړو زده کړو ډيپارټمنټ، د توسون پوهنتون

برېښناليک: **makalyanpur@towson.edu**

پستي پته: Dept of Special Education, 419 Hawkins Hall,Towson University, Towson MD 21252, USA

## ديويډ، د تمې سرچينه...

### د ړندو ملي ټولنه، د کرالا څانګه

نړۍ د ديويد په نوم د يوه کوچني ماشوم لپاره تنګه او تياره وه. کوچنی ديويد په يوه بېوزله کارګره کورنۍ کې د تريواندروم په سيمه کې د پونمادي په ښارګوټي کې ژوند کوي. هغه د خپل شاوخوا تورې تيارې ته په انعطاف منني سره غبرګون ښود او د ټينګې ارادې په درلودو سره د ښوونکي کېدو د خوب د پوره کېدو په لورې پر مخ تله.



د ړندو د ملي ټولنې د کرالا څانګه

ديويد د کورنۍ تر ټولو کوچنی ماشوم، ړوند نړۍ ته راغی.دوه ورونه او دوه خورګانې يې روغې وې. هغه ورځنۍ عايد چې پلار او مور يې د پنځو ماشومانو د ورځني لګښتونو د پوره کولو لپاره تر لاسه کاوه، دوي ته يې د ديويد د ملاتړ امکان نه ورکاوه. ديويد له لويانو څخه د اړتيا وړ ملاتړ د نه ترلاسه کولو سره سره منزوي او غمګين نه شو، بلکه د ټينګې ارادې او ژوند مثبت کتنې په وسيله په ټولنه کې د ځان لپاره غوره ځاي تر لاسه کړ. هغه د وارکالا د ښار د (( د ړندو لپاره رڼا)) په ښوونځی کې زده کړه وکړه او د هغه څخه وروسته د اس ام وي (SMV) د هلکانو په

ښوونځی کې ومنل شو. د معمولي لس کلني دورې د پاي ته رسېدو وروسته د رتبې د ترلاسه کولو لمړنی دوره ( Pre-Degree Course) د هنر په دولتي کالج کې پاي ته ورسوله. زيات شمېر محصلينو د هغوي له ډلې بورسيه محصلينو هېڅ باور نه کاوه چې يو نه ليدونکی شخص هلته زده کړه وکړي. مګر ډيويډ اجازه نه ورکوله چې دغه شيان هغه د خپل ټاکل شوي تګلوري څخه منحرف کړي.هغه د کرالا د پوهنتون څخه د ليسانس د درجې او وروسته په ترېواندروم کې د پالود د ټي ټي آي (TTI) په نړيواله موسسه کې د ښوونکي د روزنې دورې  په پاي ته رسولو سره د راتلونکي په لور ګام کېښود.

ډيويډ د دغه دورو د پاي ته رسولو وروسته کور ته راوګرځېد. اوس د مناسبې دندې او برسېره پر هغه د ننګونو ډکه موضوع چې هر نليدونکي (ړوند) ورسره مخ دی، مطرح شوه. اوس نو د هغه ورونو او خورګانو ټولو ودونه کړي وو او د ده د مسئوليت د ېبوزله مور او پلار په غاړه ؤ. مګر انتظار زيات وخت ونيوه. ډېوډ دې موضوع ته د ننګونې په سترګه کتل. هغه غوښتل چې د خپل مور او پلار ساتنه او خدمت وکړي. هغه په 2003 کال کې د ليد د ننګونو سره د مخ کېدو په اړه د خپلې پياوړتيا لپاره د (( الکترونيکي درک نړی)) (Techno savvy world) له لارې د ړندو د ملي ټولنې د کرالا د ښارګوټي د څانګې په مرسته د کمپيوټر د زده کړې په دورو کې ګډون وکړ. مګر په خواشينی سره کورنيو ستونزو هغه د زده کړو له پاي ته رسولو څخه پاتې او کار يې په نيمايي کې پرېښود.

هغه په 2004 کال کې هغه د خپلې ارادې او خوب سره سم د دولت له لارې وګمارل شو او د پونمادي په UPS کې د لمړنی ښوونځی د ښوونکي په توګه جذب شو. پونمادي د کلکي ځمکې او نامناسب سړک لرونکي غونډی ده. دغه غونډۍ په دوو ښارګوټو چاي مرشينستون او پونمادي وېشل شوېده. ډېوډ دغه سړک په خوشالی سره وهي. د هغه لپاره دغه دنده په سترګو لېدونکی خوب دی؛ کور ته نږدې ښوونځی.

ډېوډ په زيات شوق سره په لمړنی ورځ ښوونځی ته حاضر شو. مګر ډېر ژر يې پام شو چې هېڅوک د واټن د ډېروالي له امله خوښ ندي چې دغه ښوونځی او د هغه زده کوونکي اداره کړي. اوس ډېوډ يوه د تر ټولو کمې کچې امکاناتو لرونکي ودانی ته ورته ښوونځی کې چې 22 زده کوونکي له لمړي تر شپږم ټولګي پورې پکې زده کړه کوي. دغه ښوونځی بل څه ندي پرته له يوه مستطيل شکل سالون څخه چې ديوالونه او چتونه يې خراب او وران دي.

ډېوډ په زيات زغم سره زده کوونکي سره راټول کړل او سالون او د هغه ځاي شاوخوا چې ښوونځی نومول کېده، پاک کړل. د سيمې زده کوونکي د ډېوډ لپاره ښه ملاتړي وو.

دا چې ډېوډ په يوازې ځاي ښوونځی اداره کوي، حيرانوونکي ده؟ کيسه داسې ده...

ډېوډ يوازينی شخص دی چې د ښوونځی ټولې چارې د رئيس له مسئوليتونو څخه نيولې د کارګر تر دندو پورې، سرته رسوي. د سهار په 8:30  بجو د ښوونځی ور پرانيزي او د مازديګر په 4:30 بجو يې تړي. هغه د لمړي تر 6 ټولګي پورې ټول ټولګي ته لوست ورکوي. هغه د لوړو ټولګيو د رياضياتو، ساينس په شان د مضامينو د تدريس کولو لپاره د سيمې د لوستو  اشخاصو څخه ګټه اخلي. د لوړو ټولګيو لکه شپږم ټولګي د زده کوونکو څخه د لمړي او دوهم ټولګي زده کوونکو ته د درس ورکولو په موخه کار اخلي. هغه آزموينې چمتو کوي او د لوړو ټولګيو د زده کوونکو او د سيمې د نږدې همکارانو په مرسته د زده کوونکو د ازموينې پاڼې ارزوي.

د کرالا دولت د ښوونځی د زده کوونکو لپاره د غرمې د ډوډۍ د چمتو کولو لپاره د خوراکي توکو په شان آسانتياوې چمتو کړي. دغه خوراکي توکي بايد د تر ټولو نږدې دولتي زيرمتون (ويدهورا) څخه چې 25 کيلومتره واټن لري، ترلاسه کړل شي. ډېوډ دغه چاره د سيمه ييزو افرادو په مرسته اداره کوي. د خوراکي توکو د چمتو کولو څخه وروسته ډوډۍ د سيمې د يوې زړې ښځې په وسيله چمتو کېږي. د ښوونځی ټول زده کوونکي د چاي د ښارګوټي د کارګرو کورنيو سره اړوند دي. دوي د زده کړې په برخه کې د خپلو ماشومانو د بريالیتوب څخه خوښ دي.

د دغه شان اختلال لرونکی يو شخص څرنګه کولاي شي دغه ټول کارونه په يوازيتوب سره سرته ورسوي؟ زغم، ژوند ته مثبت کتنه او نورو ته د يو شي د عرضه کولو شوق، نورو ته د تمې په ځاي د ډېوډ په ژوند کې برياليتوب راوړی دی. ډېوډ د خپلې دندې او مسئوليتونو څخه ډېر خوښ او راضي دی. په پاي کې له ځانه زړورتيا ښيي او هغه حوزې ته

ننوزي چې هېڅوک خوښ نه وو هلته کار وکړي. ډيويډ خېل ځان وقف کړی او له ځانه د ايثار په ښودو سره، همدارنګه مونږ ته الهام رابښي.

د ړندو ملي ټولنې د کرالا څانګې پدې وروستيو کې دېوېډ ته يو کمپيوټر ورکړی تر څو د هغه د اوږدې مودې هيلې يعني له کمپيوټري زده کړې څخه برخمنتيا ته ورسيږي. زمونږ ډېرو لپاره د دېوېډ پرمختګ د هغه ړندو کسانو په پرتله چې په ژوند کې يې لوې بريالیتوبونه تر لاسه کړي، لويه موضوع نده، مګر مونږ د ړندو په ملي ټولنه کې پدې باور يو چې بايد حقيقي ارزښت ته پاملرنه وشي.

د دېوېډ کيسه د هيلې پاې ته نه رسېدونکي سرچينه ده. پر ټولو خنډونو او ستونزو د غلبې سره هغه د ګټونکي په توګه بېلګه کېداي شي.

د هند د ړندو ملي ټولنه، د کرالا څانګه

د لاندې پتې له لارې اړيکه نيولاي شئ:

**National Association for the Blind, Kerala, Branch; 80, Manjadivila Road, Plamood; Trivandrum-695003; Kerala - India**

يا د لاندې برښناليک له لارې:

**nabkeral@gmail.com**



د ړندو د ملي ټولنې د کرالا د څانګې لخوا

ټولنيز
ژوند
د ژ
ټوليز
ټوليز
کړې

بېوزلی، جنسيت، معلوليت، قوميت يا هر بل عامل له کبله منزوي شوي دي) خنډونه رفع يا تر ټولو ټيټې کچې ته ورسوي. په ښوونيزو نظامونو او ښوونځيو کې د شته ټوليزې زده کړې ننګوني ښوونيز فعاليتونه د محور_ زده کوونکي، انعطاف منونکي او رنګارنګ کوي. په ښوونيزو ټولګيو کې د ټوليزې زده کړې او رنګارنګۍ د ترويج له لارې ټول ماشومان د ښوونې او روزنې د سبکونو له رنګارنګۍ څخه برخمن کېږي. ټوليزه زده کړه دمعمولې زده کړې او د پرمختګ د حق څخه د ماشومانو پر برخمنتيا ټينګار کوي. د ژغورنې نړيواله کمېټه پدې باور ده چې ټوليزه زده کړه د ټوليزې ټولنې په لور يو بنسټيز ګام دی.

> (( ټولیزې ښوونځې چې د تبعیض څخه د ډکو کتنو سره د مبارزې تر ټولو غوره لاره ده، منونکې ټولنې او ټولیزه ټولنه رامنځته کوي او د ټولو لپاره د زده کړې لاره هواروي.)) ( یونسکو، د سالامانکا وینا، 1994)

## د ژغورنې د نړیوالې کمیټې اقدامات د ټولیزې زده کړې په برخه کې پر معلولیت راڅرخي

په افغانستان کې شاوخوا 196000 د ښوونځې په عمر معلول ماشومان شته، چې 34700 تنه یې حسي نیمګړتیاوې لري؛ او 64 په سلو کې دغه ماشومان ښوونیزو آسانتیاوو ته لاسرسی نلري. حسي معلول ماشومان په ځانګړې توګه نجونې د ټولنیزو تعصباتو له امله له زده کړې څخه تر ټولو لویه بې برخې ډله ده. د معلولو ماشومانو د اړتیاوو د پوره کولو د مهارتونو څخه د روزونکو او مجریانو نه برخمنتیا دغه ستونزه لاپراخه کړېده. په ښوونځیو کې ددغه ماشومانو منل کېدل او ښوونکو ته د زده کړې د مناسبو کړنلارو وربښودل پداسې توګه چې د ټولګې د ټولو زده کوونکو لپاره د پوهېدو وړ وي، اوسمهال یوه جدي اړتیا ګڼل کېږي.

د 2005 کال راپدېخوا د ژغورنې نړیواله کمیټه په افغانستان کې د ټولیزې زده کړې د پیاوړتیا په برخه کې په ځانګړې توګه د معلولو ماشومانو لپاره، ځینې هڅې کړې دي. د ژغورنې نړیواله کمیټه د ټولیزې زده کړې پروګرام د هرات په ولایت کې د یوې پروژې په وسیله پیل کړ چې پقه هغه کې د لید او اورېدو د معلولیت لرونکې ماشومان دولتې ښوونځیو ته وارد کړل شول. دغه چاره په 2006 کال کې متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا د بې ځایه شویو ماشومانو او یتیمانو د وجهي صندوق په مرسته پراختیا ومونده. په 2007 کال کې د نجات ملي کمیټې دغه پروژه د اروپایي کمیسیون په ملاتړ څلورو نورو ولایتونو (کابل، پکتیا، لغمان او ننګرهار) ته پراخه کړه او د ټولیزې زده کړې اقدامات یې په هره ټولنه کې د ښوونیزې پروژې سره یو ځای کړل.

اوس مهال د نجات ملي ټولنه د یوه کورنې همکار (یعني د ړندو ملي ټولنه NAB) په همکارۍ سره دولتي او سیمه ییزو ښوونځیو سره د حسي معلولیت د لرونکو کابو 200 ماشومانو د یو ځای کېدو کار په 80 سیمه ییزو ټولنو کې سرته رسوي. د ژغورنې نړیواله کمیټه همدارنګه د معلولینو له سازمانونو (DPOs) سره مرسته کوي چې د سازماني ظرفیتونو د پیاوړتیا په برخه کې بریال[illegible] زیاتې شي.



د IRC

### د ټولیز کولو په لور لمړني ګامونه: خبر رسونه او ټولنیز چمتووالی

**عمومي خبر** رسونه د ټولنې غړو ته د خبر رسونه په معمولي ښوونځیو، د غیر معلولو ماشومانو سره په لوبو او په نورو ټولنیزو فعالیتونو کې د حسي نیمګړتیالرونکو ماشومانو د ګډون لپاره دهغوي د وړتیاوو د درک د کچې د زیاتوالي لپاره د لومړنیو بنسټیزو ګامونو څخه دي.

د ارتباطي مهارتونو (بریل یا نښې) او د شخړو د حل د مهارتونو په غونډو کې د غړو او میندو او پلرونو ګډون ترڅو د ادغام په بهیر کې د حسي نیمګړتیا لرونکې ماشومان وکولاې شي په معمولي ښوونځیو کې په هماغه لومړیو کې منځګړیتوب وکړي.

د ټولیزې زده کړې د ټولګیو رامنځته کول: د ټولو زده کوونکو لپاره د ښې زده کړې د لارې اوارول

د ښوونې په اړه د ښوونیزو سرچینو چمتو کول: د ژغورني نړیوالې ټولني د ښوونکو لپاره داسې ښوونیزې سرچینې په پام کې نیولې چې د ماشوم د حال سره سمې او د روښې اونوښت له پلو د ښوونې او زده کړې په بېلګ کې نه یوازې د حسي نیمګړتیاوو لرونکو ماشومانو بلکه د ټولو ماشومانو لپاره ګټور وي. دغه ښوونیزې سرچینې د فعالو ډلو لخوا د موسساتو تر منځ کتل کېږي او د هڅوې د ګډو تجربو په بنسټ تل د نویو بدلونونو سره مخ کېږي.

ټولګیوالو ته د خبر رسولو فعالیتونه لدې موضوع څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره ترسره کېږي چې آیا د بریالي یو ځای کولو د بهیر ارزښتناکې برخې د همزولو په منځ کې د ټولنیزې منلتیا په توګه د بېلګې په توګه لوبې او ټولنیزې ژمنې د ټولګیوالو لخوا ترسره کېږي او که نه.

د ښوونکو روزنه او صنفي مرستې دمعلولو ماشومانو په وړاندې د منفي لیدنې د رفع کولو لپاره د ښوونکو لپاره د مهارتونو په رامنځته کولو متمرکزه ده.د نجات د نړیوالې کمیټې ښوونیزې دورې په درسي ټولګې کې د ښوونکو پوهه او مهارت ( لکه بریل یا د اشاروي ژبې مهارتونه او د تدریس دودونه)، د ماشومانو د ملاتړ په اړه، په ځانګړې توګه د حسي نیمګړتیاوو لرونکو ماشومانو لپاره، زیاتوي. ښوونکې د بحث او خبرو اترو او د لوستونو د ښودنې له لارې زده کړه کوي چې د حسي نیمګړتیالرونکو ماشومانو وړتیاوې درک کړي تر څو وکولای شي په بشپړه توګه د معمولي ټولګیو په چاپېریال کې ګډون ولري.

د ښوونې او روزنې سرچینې د حسي نیمګړتیاوو لرونکو ماشومانو د ګډون د زیاتوالي په موخه په ټولګې کې چمتو کېږي. په دغو ښوونیزو سرچینو کې ښوونیز کارتونه، حجمي شکلونه، پوسترونه او مرستندویه بصري توکي، د بریل ماشین، د ثبت دستګاه او د نښو د ژبې اړوند کتابونه او پوسترونه شامل دي.

### د ماشومانو د بریالي ګډون سره مرسته

د نوم ثبتولو څخه مخکې د ماشومانو سره مرسته د ارتباطي مهارتونو(بریل او د نښانونو ژبه) برسېره حرکتي (په ځانګړې توګه د لید د ستونزې لرونکو زده کوونکو لپاره)،معمولي ټولګیو ته د ننوتو د وخت د ننګونو سره د مخ کېدو لپاره اروایي چمتو کول او د ټولګې تعلیمي نصاب سره سم ځانګړي تعلیمات، د ادغام او ګډون څخه مخکې د اړینو مواردو څخه دي.

د ژغورنې نړیواله کمیټه د کورنیو کتنو او ځانګړو ښوونو له لارې د معلولو ماشومانو ملاتړ کوي، د کورنیو، ټولګیوالو، ښوونکو او د ټولنې د غړو سره د کار له لارې دوی ته دا وړتیا ورکوي چې په ښوونځیو کې د منل شویو ماشومانو د زده کړې او شخصي اړتیاوې پوره کړي.

د ((له ماشوم څخه ماشوم ته)) (Child-to-Child) د ډلو په قالب کې د همزولو ملاتړ ماشومانو ته دا امکان برابروي چې خپلې تجربې د یو بل په واک کې ورکړي او له یو بل څخه ځېزونه زده کړي.



د IRC په

د ټولیزې زده کړې د همکارانو شبکه

د ژغورنې نړیواله ټولنه په ملي او ولایتي کچه د ځواکمنې او شبکه یې همکارۍ د رامنځته کولو او پرمختیا په برخه کې کار کوي. د شبکه یې اړیکې له لارې همکاران دا وړتیا مومي چې سرچینې، بشپړوونکې طرحې، ګډ فعالیتونه د نورو په واک کې ورکړي او ملاتړ او د ملي سیاست جوړونې اقداماتو ته پراختیا ورکړي.

اوس مهال د اصلي فعالانو په شبکه کې لاندې موارد راځي: د ملګرو ملتونو دفترونه د هغوي له ډلې یونیسیف، یونسکو، یونماکا(UNMACA)، نادولتي موسسي لکه د ماشومانو ژغورنه، د افغانستان لپاره د سویس کمیټه، سرو (SERVE) او آي سي آر سي (ICRC) او نادولتي سیمه ییزې موسسې او د داخلي معلولینو اړوند خصوصي موسسې لکه افغان معلول بایسکل چلوونکي د پیاوړتیا او د ځواک د نوښت په لور (AABRAR) ، د ړندو ملي ټولنه (NAB)، د کورنی سوکالۍ ټولنه او د افغانستان د کڼو ملي ټولنه (ANAD).

په افغانستان کې د ژغورنې د نړیوالې کمیټې په اړه د زیاتو مالوماتو لپاره په مهربانۍ سره د مېرمن نیکول والدن سره د لاندې پتې له لارې اړیکه ونیسئ:

Nicole.Walden@theIRC.org

یا هم د لاندې پتې له لارې:

د نړیوالې ژغورنې کمیټه

افغانستان ، کابل، 9 ناحیه، شش درک، د افغانانو کوڅه، کور ګڼه 61

## زما هیله ...

مدینه غفوروه

هر څوک په نړۍ کې یوه هیله لري، ماشومان هم همدارنګه. زه هم یوه هیله لرم. ما له ماشومتوب څخه هیله درلوده چې د اندراګاندي د هند د افسانوي لاربنود په شان لوی لاربنود شم. هغه په نړۍ کې د لمړنیو ښځینه لاربښودونکو څخه ده او زه هم غواړم د هغه پر پل پښه کېږدم. فکر کوم ښایي په خپل ژوند کې دغه هیلې ته و نه رسېږم، او دا یوازې د یوې هیلې په توګه پاتې شي. که څوک وغواړي لاربنود شي باید په لمړۍ درجه سالم، د مالوماتو کچه یې لوړه او لوستی وي. زه غواړم د نړۍ نوي علوم زده کړم او د زیاتو معلوماتو لرونکی او مدرن شخص شم. مګر اړین مالومات او زده کړه څرنګه ترلاسه کولاي شم؟

وایي ښوونځی د کلتور او زده کړې لپاره تر ټولو غوره ځاي دی. مګر په خواشینی سره زمونږ ښوونځی د زده کړې لپاره دغه ډول مناسب امکانات نلري. قصد نلرم ووایم چې زمونږ ښوونځی بده ښوونځی ده مګر زمونږ اړتیاوې او غوښتنې نه پوره کوي. زه زمونږ د ښوونځی په شرایطو ښه پوهېږم او پوهېږم چې ښوونکي هڅه کوي تر چو شرایط ښه کړي مګر د دغه ستونزو سرچینه ، زمونږ د هېواد کمزوری اقتصاد دی. ښوونځی د درس ویلو لپاره ښه شرایط نلري، په ځانګړي ډول په ژمي کې. زیات شمېر زده کوونکي د زده کړې په تمه په سره هوا کې زیات واټن وهي ترڅو ښوونځی ته راشي، مګرویني چې ښوونکی نشته چې دوي ته درس ورکړي. زمونږ په ښوونځی کې تجربه لرونکي او کارپوه ښوونکي کم دي او زیات شمېر باتجربه معلمینو تقاعد کړي دی.

لکه چې پوهېږم چې انګریزي ژبه د نړۍ تر ټولو معموله او مروجه ژبه ده، لدې کبله ټول هڅه کوي چې هغه زده کړي. زه هیله لرم وکولاي شم دغه ژبه زده کړم او خبرې پرې وکړم. زما په اند پدې ژبه پوهېدل یو فرصت دی او ټولو پرمخ تللو هېوادونو ته سفر کول آسانه کوي. نن ورځ زمونږ په هېواد کې خلک په انګریزي او روسي له یو بل سره خبرې کوي. لکه څرنګه چې انګریزي په تاجکستان کې یوه نوې ژبه ده لدې کبله په تاجکستان کې زیات شمېر ښوونځی او زمونږ ښوونځی د انګریزي ښوونکی نلري. زه اوس مهال د 11 ټولګي زده کوونکي یم او زما ځینې ټولګیوال د ښوونکي د نشتوالي له کبله غوره ګڼي چې نور نو ښوونځی ته را نشي. څرنګه چې زده کوونکي احساس کوي چې د ښوونځی ښوونیزه کچه ټیټه ده ښایي په کور کې پاتې شي او له میندو او پلرونو سره په کارونو کې مرسته وکړي.

مګر زه او نور ټولګیوال هڅه کوو هغه مختلف موضوعات چې په ښوونځی کې لوستل کېږي زده کړو او نیت لرو پر دغه ټولو ستونزو لاسبري شو. د نړیوالو موسساتو لکه یونیسیف، د ماشومانو د ژغورنې کمیټه او د دل افروز د انجمن د شته والي له برکته مونږ اوس په خپله ښوونځی کې د ماشومانو د هدایت یو سازمان لرو، چې د تعلیمي نصاب بهر چارې پرمخ بیایي. د مونږ نجونو او هلکانو یوه ډله هڅه کوو له هغه زده کوونکو سره چې نه غواړي نور نو ښوونځی ته راشي مرسته وکړو تر څو دوباره فعال شي. هغه هلکان چې د ماشومانو د هدایت په سازمان کې کار کوي خوښوي چې نامتو لوبغاړي، فوټبالر او بسکټبالیسټان شي او نجونې خوښوي چې ډاکټرې، ژورنالیستانې، ښوونکې او خیاطانې شي.

مېرمن مدینه غفوروا د رودکي په ولسوالۍ کې د 11 ټولګي زده کوونکې او د پرستو د ماشومانو د هدایت د سازمان غړې ده. له هغې سره د اړیکې نیولو د لپاره په صورت کې EENET Asia ته برښنالیک ولېږئ.

## ولې باید یو ځانګړی او جلا ښوونیز نظام ولرو؟

ذکیه میناس

وروسته لدې چې د ناروې آي ډي پي د فدرال ښوونیز مدیره هیئت په ګډون په اسلام آباد کې ټولیزه زده کړه معرفي کړه، د ښووني د څانګې زیات شمېر افراد د ښوونیز نظام د ابعادي څېړنې په اړه په فکر کې شول.

له یو پلوه د پاکستان اساسي قانون ماشومانو ته د باکیفیته زده کړې او سالم او امن چاپېریال ته د لاسرسي برابر حقوق ورکړي دي مګر له بل پلوه کابو ټول لوی ښارونه د معلولو لپاره (( ځانګړې ښوونځی)) لري. دغه توپیر پدې اړه زیاتې پوښتنې راپورته کوي چې مونږ څرنګه د ټولنې په قالب کې ماشومانو ته ځانګړی عنوان ورکوو؛ په حقیقت کې غوره داده چې پوښتنه داسې طرحه کړو چې آیا دوي د ټولې همغږۍ یوه برخه ندي چې مونږ یې له ټولنې څخه نوموو؟

دغه ټولنه د راتلونکي نسل د ټولنیزې، اخلاقي، جسمي او رواني ودې لپاره یو ښوونیز نظام چمتو کړي. که مونږ یوه ټولنه یو نو ولې د هغوي لپاره چې خاص ماشومان یې بولو، جلا نظام لرو؟ آیا دوي په راتلونکې کې د زده کړو د پاي ته رسولو وروسته غواړي په جلا ټولنه او نظام کې ژوند وکړي؟ څرګنده ده چې نه. نو ولې مونږ دغه کوچنې غنچې له ګلونو څخه لیرې کړو؟ آیا د ښوونیز نظام دنده دا نده چې د ورو ماشومانو په څېر په مختلفو مواردو کې د دغه ماشومانو استقبال وکړي.

زمونږ ښوونځی او ټولګي د هغه ټولنو کوچنۍ شوې بڼه ده چې په هغوي کې د مختلفو قومي، دیني او ټولنیزو برخو څخه راپورته شوي د مختلفو وړتیاوو لرونکي ماشومان لرو. هغه ماشوم چې په درسي ټولګي کې یو پرمخ تلونکی فرد دي، په راتلونکي کې هم ښایي د مترقي او پرمختللي په توګه راڅرګند شي. له بل پلوه هغه ماشوم چې منزوي شوی دی او یا پدې ندی توانېدلی چې په ټولګي کې پر خپلې کمزورۍ بریالی شي، د راتلونکي ژوند په پراخه ټولنه کې د خپل حق څخه د دفاع وړتیا نلري.

زیاتره ښوونکي په درسي ټولګیو کې د زده کوونکو د شمېر له زیاتوالي څخه ګیله لري. مګر په حقیقت کې دغه د ښوونکو او زده کوونکو لپاره پټه نیکبختي ده. ځکه چې مزدحم درسي ټولګی د کوچنیو ټولګیو په پرتله د دواړ په واک کې ګټوره فضا ورکوي. پدې توګه چې ښوونکی زده کوونکي یوې له نفوس ډلې ټولنې ته چمتو کوي او نه د ګل او بلبل خیالي نړۍ ته چې هېڅوک د حقوقو د احقاق لپاره هڅې ته اړتیا نلري. د مزدحمو درسي ټولګیو څخه جلا مونږ مزدحم سړکونه، بازارونه او روغتونونه هم لرو. برسېره پر دې له نفوسه ډکه پدې ټولنه کې مونږ داسې معلول کسان وینو چې مختلفې دندې پر مخ وړي او کولای شي کمپیوټر کار، ساتونکی، ښوونکی، او د فابریکې کارګر و اوسي او یا په مقابل کې په خواشینۍ سره ګدا (خیرغوښتونکی ) وي. که دا واقعیت ومنو چې ټول ماشومان د دوي د زده کړو د پاي ته رسولو وروسته غواړي د دغه ټولنې یوه برخه شي، نو ولې زمونږ ښوونیزې موسسې د دوي استقبال نه کوي؟ که

غواړي په خپل ژوند کې له نورو معلولو کسانو سره سروکار ولري، ولې د هغه ورځې څخه چې د زده کړې په بهير کې دغه چاره نه ترسره کېږي؟ له بل لوري مونږ. يوازې په اصلي ښارونو کې دغه ځانګړې ښوونېزې موسسې لرو، د هغه ماشومانو په اړه چې په کليوالي سيمو کې ژوند کوي ، څرنګه؟ دغه ماشومان (( ځانګړي)) چېرته لاړ شي؟ د حل لاره ، د ټوليزې زده کړې د جريان په رامنځته کولو کې د ټولو ماشومانو د درک او پېژندنې په بنسټ د هېڅ يوه منزوي کولو او د دوي کورونو ته نږدې ښوونځيو کې په لوړ کيفيت د زده کړې د حق درلودلو کې پټه ده.

مېرمن زکيه ميناس، د پاکستان د اسلام آباد د ځانګړو زده کړو د آزمايښتي ښوونځۍ ښوونکې ده. د هغوي سره د اړيکې لپاره په لاندې برښناليک پيغام ولېږئ:

pakistan@idp-europ.org




د پروژې د لېږد د بهيرد يوې برخې په توګه د پروژې د اغېزو د ارزونې او د زده کړل شويو ټکو او لوستونو او د هغه د پلي کولو په بهير کې د مثبتو تجربو د راغونډولو لپاره يوه پروسه پيل کړېده چې په2009 کال کې به په راتلونکو خپرونو کې چاپ شي.

پدې مقاله کې نیت لرو چې په لنډه توګه دغه پروژه د هغه کسانو لپاره معرفي کړو چې احیاناً له هغه څخه بې خبره دي او ورسره به ځیني وروستني فعالیتونه هم توضیح کړو.



د پیټر ګریس، خومو انج سایا رس
او سیاس اوتایتانی ځوا

په 1992 کال کې د نه لیدونکو او نه ا جوړېدو څخه مخکې، د لائو په پلازموینه د وینتیان په ښار کې د ځانګړو اړتیاوو لرونکو ماشومانو لپاره هېڅ ډول ښوونیز امکانات نه وو. دغه ټکي ته په پام د ټولیزې زده کړې پروژه د 1993 په نومبر کې پیل شوه چې په خپل ډول کې د ماشومامونو د حقوقو د کنوانسیون او همدارنګه د معلولینو په اړه د ملګرو ملتونو د پروګرام د تطبیق په لور یو ارزښتناک ګام ؤ، د یونسکو او د بریټانیا د ماشومانو د ژغورنې د موسسې (Save the Children UK) په مرسته پروژه په لمړیو کې په آزمایښتي توګه د ښاروالۍ په یوه لمړنۍ ښوونځۍ کې پلې شوه. د 1995-96 کلونو تر منځ د ښوونځیو شمېر 9 لمړنیو او 3 د چمتووالي ښوونځیو ته زیات شو. له هغه کاله وروسته او ورسته لدې چې د(SIDA) موسسه د دغه پروژې د اصلي مرستندوې په توګه وپېژندل شوه، پروژه په نورو ولایتونو او ولسوالیو کې نورو ښوونځیو ته پراخه شوه. اوس مهال په ټول هېواد کې 583 ښوونځۍ د ټولیزې زده کړې د پروژې تر پوښښ لاندې دي. په پام کې ده چې د 2009 کال د مي په میاشت کې د دغه پروژې اجرایي او اداري مسئولیت د ناروې د ماشوم ژغورنې له موسسې ( Save the Children Norway) څخه د لائو د پوهنې وزارت ته ولېږدول شي.

د لائو د ټولیزې زده کړې پروژې چې په لمړیو کې د ځانګړو اړتیاوو لرونکي ماشومان معمولي ښوونځیو ته لېږدول، اوس په داسې یوه پروژه بدله شوې ده چې هڅه کوي په ښوونځیو کې د ګډون د خنډونو د پېژندنې او حل کولو له لارې د ښوونځیو سره د ډول ډول زده کوونکو په منلو کې مرسته وکړي. د ځانګړو ښوونیزو اړتیاوو کړنلاره چې د ښوونیزو میتودونو لا تخصصي والی او د پېچلو سرچینو د چمتو کولو غوښتونکې ده ، په حقیقت کې د عملي کولو وړ نده. په حقیقت کې د ماشومانو د زیات شمېر مرکزونو جوړول او په روزنیزو ټولګیو کې د فعالو ښوونیزو کړنلارو پلي کولو په صنفي مباحثو کې د ماشومانو د ورګډولو تر ټولو غوره لاره ده.

پدې اړه دوې وروستنۍ نوښتې چارې دادي: د ټولیزې زده کړې په ښوونځیو کې د ګټې اخیستنې لپاره د یوې ټولیزې ځان سنجونې د وسیلې چمتو کول او همدارنګه د ټولیزې زده کړې د ښوونځیو څخه د معلوماتو د غونډولو لپاره د یوې پروژې پلان کول تر څو د پروژې اغېزې و ارزوي.

د ځان سنجولو د وسیلې اړوند فعالیت د دریو ولایتونو د دریو ولسوالیوکې 9 ښوونځۍ تر پوښښ لاندې نیسي. د ټاکل شویو ولایتونو ښوونکو او سلاکارانو د زده کړې پر بنسټ د یوې وسیلې(Booth and Ainscow T 2002) په پراخولو کې له یو بل سره مرسته کړېده. دغه وسیله په حقیقت کې په ښوونځیو کې د ټولیزې زده کړې د عملي طرحې د پراخولو لپاره د ځانګړیتاوو یوه ټولګه ده چې په نړیواله کچه په زیات شمېر هېوادونو کې تعدیل او د ګټې وړ ګرځېدلې ده، موخه یې د داسې وسیلې تولید دی چې د لائد د شرایطو سره همغږي ولري او وکولای شي په ښوونځیو کې د ځان سنجولو د یوې وسیلې په توګه ترې ګټه واخیستل شي. دغه وسیله د 2005-2008 ترمنځ د دریو کلونو په بهیر کې جوړه شوه. د دغه مودې په بهیر کې ښوونځۍ د هغه اوزارونو په ټاکنه او آزمایښت پیل وکړ چې د ټولو خلکو له ښوونکو نیولې تر زده کوونکو او په پراخه کچه په ټوله ټولنه کې د ګډون لپاره اړین وو. دوې دغه اصل په اړونده ښوونځیو کې د ټولیزکولو د ځانګړتیاوو په اړه د قضاوت په کولو سره تر سره کړل. وروسته دغه بهیر د ښوونځۍ د عملي لمړنۍ طرحې او د ښه کولو په چارو کې وکارول شو.

په ښوونځيو کې د فعاليتونو د کولو په اړه هم ځيني ستونزې موجودې وې. تجربې ښيې چې په انګريزي کې د هغه ښوونکو لپاره چې خپله يې کمه زده کړه کړې، د زده کړې مقياس ډېر پېچلی دی. لدې کبله پدې اړه اړين تعديلونه ترسره شول. اصلي بېلګه په حقيقت کې 44 مقياسونه لري، په داسې حا کې چې په لائو کې کارول شوې نسخه د 14 مقياسونو لرونکې ده. په اصلي بيلګه کې هر مقياس د 8 تر 17 څرګنده پوښتنې د هغوې څخه د ګټې اخيستنې د ملاتړ په اړه او همدارنګه د مباحثو او پوښتنو تودېدل مطرح کوې، مګر د لائو په نسخه کې يوازې 8 پوښتنې.

ښوونکو او سلاکاران پدې وپوهېدل چې ارزښت لري چې دغه وسيله د ادارې او هدايت وړ وې او همدارنګه د لائو د ښوونځيو د موصوعاتو د تر پوښښ لاندې راوستو لپاره په بسياکوونکې کچه منعطف وې، مګر په عين حال کې بايد دومره لنډ وي چې ښوونځی احساس کړي چې دهغه د پرمخ وړلو وړتيا لري. د دغه وسيلې ترڅنګ مفاهيم بايد په داسې کچه بسياکوونکې ، لنډ او څرګند وي  څکه دغه مفاهيم او تعبيرونه دکلتورونو تر منځ خورېږي . د هغه ګډونوالو برسېره چې دغه وسيلې په ښوونځيو کې د دوې په واک کې ورکول کېږي، بايد د دغه عمل د نسبت په اړه پوهول شوې وې، د بېلګې په توګه دا چې: دا د ځان سنجولو يو تمرين دې نه د بل سنجولو.

د دغه وسيلې ارتقاء د لائو د پوهنې د وزارت د لاسته راوړنو څخه يوه ده او هيله ده چې په راتلونکې کال کې به د لائو په ټولو ښوونځيو کې ترې ګټه واخيستل شي .د دغه پروژې نوم (( په لائو کې د ټولو لپاره د ښوونځيو د کيفيت لوړوالی)) څخه (( د ښوونځيو د ښه کولو او ځان سنجولو پروسه)) باندې بدل شوی دی، تر څو دا واقعيت منعکس کړي چې دغه وسيله د ښوونځی د پرمختګ د يوه جامع او ټوليز بهير ملاتړ کوي. د وسيلو د ارتقا په اړه زيات ليدلوري به د ماشومانو د ژغورنې د موسسې په خپرونو کې چې مخکې ورته اشاره وشوه خپاره شي. همدارنګه د 2009 کال د جون په مياشت کې به د لائو د ټوليزې ز ده کړې د اغېزو په اړه د ونکوور په نړيواله کنګره کې د ښوونځيو د اغېز او ښه والي تر موضوع لاندې نندارتون جوړ شي. (http://www.icsei2009.org/index.html). د 2007 کال د جون تر مياشتې پورې د وسيلې دارتقا په اړه راپور په لاندې پته موندل کېداي شي:

http:/www.fm-kp.si/zalozba/ISBN/978-961-6573-65-8/117-131.pdf

د ټوليزې زده کړې د کمزورۍ د ټکو څخه يو هم د کميتې معلوماتو د مرکز لرونکو ښوونځيو نشتوالی يا کمښت دی چې دوې ته دا وړتيا ورکوي چې په ښوونځيو کې د پروژو د اغېز په اړه لا ژوره څېړنه او شننه وکړي. لدې کبله د ټوليزې زده کړې د خروجې استراتيژۍ د يوې برخې په توګه د ماشومانو د ژغورنې موسسه د پوهنې د وزارت په همکارۍ د پروژې د ګټورتيا په اړه د معلوماتو د راغونډولو لپاره او همدارنګه د زده کوونکو د ډلو او د ځانګړو اړتياوو لرونکو ماشومانو ستونزو ته په پام  ځيني فورمې ښوونځيو کې توزيع کړې. دغه فورمې ټولو 538 ښوونځيو ته چې پروژه پکې پلې کېږي په 17 ولايتې دفترونو ته ولېږل شوې. د معلوماتو د راغونډولو پروسه د هغو ښوونځيو د مديرانو لخوا د معلوماتو وړاندې کولو ته اړتيا درلوده چې په هغوې کې داسې افراد چې تر ټولو زيات د ګډون او پرمختګ د خنډونو په وړاندې زيان منونکې و، ګروپ بندي کېدل.

د 538 ښوونځيو له لارې راغونډ شوې معلومات د 2008 کال د جون په پاي کې ولېږل شول او ددې لپاره چې اوسنی سيستم د معلوماتو د راغونډولو او تشريح لپاره پرمختللی نه ؤ، ويې ښوده چې د ښوونځيو په کچه ترسره شوې زده کړې او ملاتړ تل او په هر حال بسياکوونکې نه وو، لدې کبله ولايتې ډلې چې د ښوونځيو او سيمه ييزو دفترونو څخه يې د معلوماتو په را غونډولو د څارنې دنده درلوده، وپوهېدل چې د راغونډولو د کيفيت په اړه ځيني پوښتنې مطرح دي. دغه کار سيستماټيکې زده کړې او د معلوماتو په راغونډولو، ثبت او شننه او تحليل  کې د ښوونځيو سره زياتې مرستې ته اړتيا څرګنده کړه.

د معلوماتو د شننې او څېړنې په بهير کې د 2008 د اکتوبر په مياشت کې به د ارزولو په موخه چې د پام وړ ښوونځيو ته د ثبت شويو معلوماتو د اعتبار د کنترول لپاره ځيني سفرونه تر سره شي. د دغه سفرونو اصلي موخه په ښوونځيو او ټولنو کې د ټوليزې زده کړې د اغېز په اړه د ژورې څېړنې او شننې تر سره کول دي. مونږ هڅه کوو د دغه کتنو زيات جزئيات او د ټوليزې زده کړې نور اړخونه د EENET Asia په راتلونکو خپرونو کې خپاره کړو.

ښاغلي پترګریمس، د انګلستان د Canterbury Christ church پوهنتون سلاکار او د ټولیزې زده کړې سلاکار، د ماشومانو د ژغورنې موسسه. برېښنالیک peter.grimes@caterbury.ac.uk

مېرمن خوموانه سایرات په لائو کې د ناروې د ماشوم ژغورنې د موسسې همغږې کوونکې

برېښنالیک:khomvanh@scn.laopdr.org

او ښاغلی سیتات اوتیاتاني د لمړنیو زده کړو د څانګې مرستیال او د پوهنې په وزارت کې د اجرایي څانګې رئیس

برېښنالیک: ielao_st@yahoo.com

## په پاکستان کې د ښوونځیو د حفظ الصحې لپاره د اړینو سرچینو په اړه د ښوونکو اخیستنه (برداشت)

د دغه څېړنیز متن کوچنی مقیاس د لندن په ښوونیزه موسسه کې د خپلې ماسترۍ په دوره کې د پخل کار د یوې برخې په توګه ترسره کړی چې پایلې یې په لاندې ډول دي:

د ښوونځیو د حفظ الصحې لپاره د سرچینو تخصیص په پرمختللو هېوادونو کې د ماشومانو د روغتیایي وضعیت د ښه کولو لپاره د ارزښت وړ چوکاټ چمتو کوي. په ښوونځیو کې ګټورې روغتیا ساتنې څلور اصلي عناصر دادي: 1- د روغتیایي وضعیت په اړه د ښوونځی کړنلاره، 2- د اوبو د او د ناپاکو اوبو د سیستم چمتو کول، 3- د روغتیایي مسائلو په اړه زده کړه، 4- په ښوونځیو کې د خوراک او روغتیا خدمتونه، په ټولو ښوونځیو کې د ماشومانو د ملاتړ او د روغتیا د پیاوړتیا لپاره د ډېر اهمیت وړ دي، ځکه روغ ماشومان خوشاله وي او ښه زده کړه کوي او په پایله کې سالمه ټولنه رامنځته کېږي.

دغه څېړنه په ښوونځیو کې د روغتیا ساتنې لپاره د سرچینو د تخصیص د ارزښت په اړه او د بېوزله هېوادونو په لمړنیو ښوونځیو کې د روغتیاساتنې د سرچینو د پېژندنې په موخه طرحه شوېده. پدې څېړنه کې لاندې پوښتنې مطرح دي:

1. د پاکستان د دولتي لمړنیو ښوونځیو د روغتیا ساتنې د تامین لپاره د کومو سرچینو روزونکي اړین ګڼل کېږي.
2. د روزونکو په اند دغه سرچینو ته لاسرسي له کومو لارو شوني ده؟

معلومات د کوچنی سروې له لارې د کیفي او کمیتي روښونو د ترکیب له لارې راغونډ شویدي. یوه نیمه جوړه شوې پوښتنپاڼه چمتو شوه او د برېښنالیک له لارې ځواب ورکوونکو ته ولېږل شوه ترڅو هغه ډکه کړي. د څېړنې ځواب ورکوونکي هغه روزونکي وو چې د روغتیایي ښوونې تجربه یې درلوده. په لمړیو کې له هغوې سره اړیکه ونیول شوه او د دوی موافقه ترلاسه شوه. د 35 کسانو له ډلې چې ورسره اړیکه ونیول شوه، 20 کسانو لېوالتیا وښوده چې 18 کسانو یې بشپړې پوښتنپاڼې بېرته راولېږلې (10 نارینه او 8 ښځینه) .



موندنې:

په پاکستان کې د روغتیایي ښووني ارزښت

له ځواب ورکوونکو څخه مو وغوښتل چې خپل نظرونه د (( د پاکستان په دولتي لمړنیو ښوونځیو کې د روغتیا ساتنې ښوونه او ترویج یوه د ارزښت څخه ډکه چاره )) په اړه بیا ن کړي. د 18 کسانو له ډلې 16 تنیو یې د بشپړ موافق ټاکنه نښاني کړېده. دا چاره په څرګنده ښیي چې ښوونکي، د پاکستان په دولتي لمړنیو ښوونځیو کې د روغتیا ساتنې زده کړه او ترویج ډېر اړین ګڼي.

په پاکستان کې اوسمهالنی روغتیایي وضعه

ټولو 18 ځواب ورکوونکو د کمزوري یا ډېر کمزوري خوښنه ټاکلې ده. د څښاک پاکو اوبو، عمومي تشناب ته نه لاسرسی د اوسني دولت په ریاستونو کې د روغتیایي زده کړو نشتوالی او بدني تنبیه په ښوونځیو کې چې د ماشومانو په روحي روغتیا اغېزه کوي، د دغه انتخاب د ټاکنې لاملونه دي.

د سرچینو راغونډول

د روغتیایي ښوونو لپاره د لوستو ښوونکو نشتوالی، د ښوونیزنصاب او پالیسیو نشتوالي د سرچینو د کمزورۍ د بېلګو څخه دي. زیات شمېر روزونکي پدې اند دي چې په دولتي ښوونځیو کې روغتیایي وضعه ښه کېږي کله لاندې موارد د لاسرسی وړ وي:

- لوستي او انګېزه لرونکي ښوونکي د روغتیايي ښوونو لپاره
- په ټولو دولتي لمړنیو ښوونځیو کې د روغتیایي زده کړو د اجباري کولو سیاست
- د روغتیایي ښوونو اړوند تعلیمي نصاب
- پاکو اوبو ته لاسرسی او د ناپاکو اوبو سیستم
- د ښوونځی روغتیایي خدمتونه\
- د ښوونځی او ټولنې پیاوړې اړیکې
- د روغتیایي چاپېریال رامنځته کول

## پایله

ټول ګډون کوونکي روزونکي د پاکستان په دولتي لمړنیو ښوونځیو کې د روغتیایي زده کړې په ارزښت ټینګار کوي. دوی پدې اند دي چې د ښوونځیو په کچه روغتیایي زده کړو ته شدیده اړتیا ده. ځینې ځواب ورکوونکي د ښوونکو او زده کوونکو سره زیاتې تجربې درلودې او شرایط یې ډېر ښه درک کول. د هغوي نظرونه او وړاندیزونه د راتلونکو پلانونو لپاره ډېر د ارزښت وړ دي .د دوي نظرونه د پاکستان په ښوونځیو کې د معقولې مداخلې له لارې د روغتیایي وضعې د ښه کولو لپاره د سرچینو د تخصیص سره اړوند دي. د ګډون کوونکو لخوا وړاندیز شوې سرچینې د دغه چوکاټ له ذکر شویو توکو سره ورته دي. په ښوونځیو کې سیستماتیکه او رسمي روغتیایي ښوونه پدې اړه د دولت ژمنتیا ته اړتیا لري. د بېلګې په توګه که دولت روغتیایي زده کړه په لمړنیو ښوونځیو کې اجباري کړي او هره ښوونځۍ کم تر کمه 30 دقیقې په هره اوونۍ کې دغه موضوع ته ځانګړې کړي، ښوونکي به د روغتیایي زده کړو په اړه د مسئولیت احساس وکړي.

د پلان کوونکو ا وپلي کوونکو تر منځ د اړیکې د رامنځته کولو لپاره باید د ښوونکو نظرونه سیاست جوړوونکو ته ولېږدول شي. ارزښتناکه ده چې سیاست جوړوونکي پوه شي چې عام خلک په ښوونځیو کې د روغتیایي ښوونو او

وضعیت د ښه والي په ارزښت پوهېږي، لدې کبله به د پاکستان په لمړنیو دولتي ښوونځیو کې د روغتیایي زده کړو د اجباري کولو په هڅه کې شي. دغه چاره به ټولنه د یوې سالمې ټولنې په لور راکاږي.

ښاغلی پرویز پیرزادو، د ښووني او روزنې د پراختیا لپاره د آغاخان موسسه ، کراچی، پاکستان. له ده سره پدې برښنالیک یا پستي پته اړیکه نیولای شئ:


Parvez.pirzado@aku.edu

AGA KHAN UNIVERSITY; IED-PDC ; 1_5 /B, VII F.B.AREA; KARIMABAD;


| |
|---|
| د ښوونځیو د اغیزمن ښه والي لپاره د سرچینو ځانګړتیا |

| |
|---|
| څلور اصلي عنصرونه: |

1. د ښوونځی روغتیایي پالیسیانې
2. اوبه، کارول شوې اوبه او چاپیریال
3. روغتیایي زده کړې
4. په ښوونځی کې روغتیایي خدمتونه

| |
|---|
| د ملاتړ وړ درې ستراتیژیانې |

1. روغتیا، ښه والی او زده کړې
2. د خلکو ګډون
3. خبرتیا او د زده کوونکو ګډون

آنلاین مالومات

UNESCO: http://www.unesco.org/education/fresh

UNICEF: http://www.unicef.org/lifeskills/index_7262.html

## زده کړه نیز فلمونه

## پروفیسر ام. چادري

مارشال مك لوهان یو د لویو فیلسوفانو او لیکونکو څخه وایي: یوه ورځ به مونږ ټول خپل ژوند په خپله ښوونځی یعنې نړی کې تیر کړو او زده کړه په معنا د مینې زده کړې کول، پرمختګ او بدلون او د هغې دندې لپاره چې مونږ یې د هغه څخه کم چې مو کولای شو بدل کړې یو غمناکه تیاري نیول نه وي بلکه یو جوهر او په خپله یوه خوندوره هستي وي.

جیدو کرشنامورتي د اوسنی زماني یو متفکر ډیرې ښوونځی د ماشومانو د خپلواکی په ډول په هند کې جوړې کړې دي. د ماشوم د خپلواکی څخه د هغه تعبیر له کتاب، ښوونکي او آزمویني څخه نه ویریدل دي.

دغه خپلواکي ورکول د خوښي او نوښت له ځان سره لري. او د مینه کولو پیاوړی ځواك د موندلو، ودې، زده کړې او سوله غوښتنې لپاره ډیر اړین بریښي.

اونګ سان سوکي وايي:

## يوازې ريښتينى زندان ويره ده، او يوازې ريښتنې خپلواکي له ويرې څخه خپلواکي ده.

نو څوک دا خپلواکي راکوي؟ دا مور او پلار او ښوونکي دي چې د ټولنې د نبوکې برخې ګرځيدلې. نو دا ښکاره ده چې په کوم شي نه پوهيږي بل ته يې وښايي او دا شی کولای شي پيسې، علم، ځارنه او د ويرې څخه ژغورنه وي. اصلي پوښتنه خو هغه وخت په معما ن بدلون مومي چې څرنګه کولای شو خپلواکي او د نيوکو د ارزښتونو برخې چې لازمه ده مشران يې ولري تر څو وکولای شي ماشومان په خپلو اړيکو کې خپلواك وساتي. او د هغوي په ذهنونو کې ورته ځاي ورکړي.

په ورستيو څلور کلونو کې فلمونه د اخلاقي درسونو لرونکي وو چې هر څوك د هرې ژبې، مليت او د شتمنی کچه ولري له ليدلو څخه يې خوند اخيسته.

دا فلمونه کولاي شي چې د ماشومانو او لويانو په مناسبه پرمختګ کې يو پياوړی ګام وي. د هر هيواد ځوانان د کارتوني فلمونو سره ډيره مينه لري.

ورستيو اوړدو فلمونو ښودلې ده چې د يوې واقعي کيسې ټاکل د انساني ارزښت ( خپلواکي، مينه، سوله، حقيقت، عدالت او زړورتيا) ته د رسيدلو لپاره چې د نړی په کچه دي د زده کړې اصلي ځانګړتيا ده. مونږ مينه ناکه فلمونه چې ډير مشهور دي په ياد لرو ( به من تکيه کن، جامعه شاعران مرده، نجات جنګل بان)له هغو فلمونو څخه دي چې د زده کړې چاپيريال وکړې. او مور او پلار او ښوونکي هڅوي تر څو ماشومانو ته ارزښت ورکړي.

نوی فلم ( نوپسندګان آزادي) چې د خپلواکی ليکونو د يادښت د کتاب پر بنسټ ليکلی دی، د موسي او د سپين پوستي ځوان ښوونکي تر مينځ جنګ جګړه ښايي. او لوبغاړي يې د آسکر ګټونکی وهيلاري سوان ( د فلم لوبغاړی ميليون ډالري زوی، او ميړني نه ژاړي ) دي. د هغه مرستيالان او رئيسان نه غواړي ورته اجازه ورکړي. او د ښوونځي د درسي خپروونې څخه بې لارې شي. په دې حال کې هغه يوازې په لومړی کې د ځوانو زده کوونکو د پيژندو پسې وو. هغوي د انګليسي ټولګي زده کوونکي وو، او د قومي او کورني واقعاتو چاپيريال او د جنګ جګړو آثار يې د ټولګي دننه په ځان کې ښکاره کيدل، هغوي سپين پوستي خپل دښمنان پيژندل او د درس د ويلو سره يې شوق نه درلود.

د هغه پلټنه په فلم کې په درې قالبونو کې ښکاره کيږي. لومړی هغه مجبور وو په يو ګډ ټولګي کې چې هلکان او انجوني سره په خپلو کې کرکه لري او د جنګ حګړې په حال کې دی کنټرول کړي. دويم دا چې د مرستيالانو او اداري کادرونو د بيانونو په نسبت بې تفاوته وي. په پاي کې دا چې د کور په چاپيريال کې د ژوند ملګري يې احساسوي چې د کومې پاملرنې لاندې نيول شوی او د هغه پايله پريږدي.

ښوونکی په خپلو کړو اخته وو او د زده کوونکو او د زده کړې د آراموو څخه يې ورو ورو ځان ګوښه کاوه تر څو د بل ماموريت لپاره اضافه وخت پيدا کړي. کله چې زده کوونکي د هغه اخلاص احساسوي نو په تدريج سره له هغه او له يو بل سره سازش کوي. د هغه نه وروسته د هغه له ټولګي څخه خوند اخلي او د هغه د پلټنې پايله د آرامي او خوند اخيستونکي زده کړې لپاره وو. او هغه په دې حالت کې يو رويه پيژندونه او محتوا په کار کړه تر څو د هغوي څخه وغواړي چې د خپل تير وخت په هکله وليکي. او ارزښتمنه ډالۍ ورته چې فردي هويت دی ورکړي.

اودامپتود ددې سبب ګرځي ترڅوخپل غملرونکي او نورزده کونکی وبخښي،ز کله چې ښوونکی يې دهغوی دژوندليك په يوکتاب کې چاپ کړی نه يوازی حيرانيګي بلکې کوم حيثيت يې چې په ژوند کې له لاسه ورکړی وبياتر لاسه کړی .

ډايرکټرسره ددې چې ديوجالبه داستان يې په يوجذابه فلم تبديل کړداوقعيت ښيي کله چې يوښوونکی له خپل نفس څخه تيريږي او په مينه،خلوص او مهربانۍ سره خپل کارته دوام ورکوی دهغه ماموريت ديردروند، ارزښتناکه او خوندورکيږي.

هندی فلم چې د ( ستوري دزمکی پرمخ) په نوم نه يوازی يومسنه فلم دی بلکې دښه ټکي بدليدل دي دلويان لپاره چې څرنګه له ماشومانو سره ناسته پاسته ولری. روان پيژندونکي او زده کړه ايزمتخصص له لس ګونوکلونو را هيسې په دې باوردی. چې هرماشوم دنوروسره په توپيرکې دی. حتی غبرګونی، خوهغوی(زده کړه ايزمتخصصين) ټولی نړی کې غلی اوحق په جانب دي چې دخپلواصلاح طريقو اوليدنواوبدلون راوړلو لپاره پلټنې نه دي کړی ترڅوماشومان ته اجازه ورکړی خپل استعدادکشف کړی اووده ورکړی.

عامرخان ددې فلم لوبغاړی اوتولیدکوونکی چې دترکیبی فلم په جوړولوچې دروحي ضربي اودماشوم زوړولوپه هکله ده چې ددیسلکسی ( په لوستلوکې اختلال) څخه زوریږي او ناتوانه موراوپلاراوښوونکي هغه نه شي درك کولی لومړن ګام اوچت کړی کله چې داماشوم شپې ورځې ښوونځی ته ولیږل شی.زتات یوازې والی ښایي، لویان داموضوع دانضباطی ستونزې څخه ډك بولي.

دهنرښوونکی چېنوی استخدام شوی وروسته له لرې لاسته راوړنې لاسته راوړي چې داماشوم دتتله والی څخه بدوړی کله چې لویان ومني چې که درسامي په مسابقه کې ګډون وکړي.خپلومحدودیتوته پاملرنه کوي په داسی حال کې چې هنرمندنړۍ ته راغلي دی. کولای شی په تتله والی غلبه وکړی همدارنګه لویان کولای شی چې دماشومانوپه توګه رسامی وکړی نه داتجربه دهغوی مشروایی نسبت ماشومانوته تغییر ورکړی. دفلم پای کله چې روح بریالی شو ډیر اغیزمن دی برسیره ددې پو هیږوچې ژوند تل مدام ګټل نه دي.

افلاطون ویلی دي : مونږ به رامتحد سره کولای شودماشوم ویره له تاریکي څخه نالیدلی وبولوخو واقعی تراژي په ژوند کې هغه وخت مخ ته راځی چې لویان له روښنایی څخه په ویره ولړی.

دارنګه فلمونه بایددښوونکو لپاره زده کړه ایزې برنامی اودموراوپلاراو ښوونکو ترمنځ غونډې وي. ددې فلمونوپه هکله بایدخبرې اترې اجباری شي ترڅو دفلم ټول پیامونه او عناصر کورنۍ ته انتقال کړي.

پروفیسور ام چادری یو پوه (عالم) او فلم جوړونکی و هغه په IIT Kanpu, NCert کې زده کړوته مخه وکړه او مشهوره علمی ډرامه ( دبیاستنیدنې ټکی) یې جوړه کړه هغه په اوسني حال کې آزادی، خلاقیت،اودزده کوونکودخوښۍ سره دکارځایونه ښوونکولپاره جوړه کړی ده. اودفلم اوکتاب کانون اداره کوي.

EENET Asia



مصاحبه(خبرې اترې) له خوزه داسیلوامونتریو سره، دهر اړخیزې زده کړې دیوځای کوونکی،دپوهنې وزارت دتیمورلست جمهوری دموکراتیك دوروستی سیمه بیزې چمتووالی کنفرانس په ترڅ کې چې داندونیزیا په بالی کې دهراړخیزې زده کړې په اړه واو اسیا اقیانوسیه سیمی پورې اړوند موضوعات هم په کې مطرح شوي وو



sia

له ښ... ...رخیزې زده کړې همآهنګ کوونکی "یوځای کوونکی" سره ملاقات وکړ.
او ت... ...د پرمختګ په اړه پوښتنې وکړې. همداوس په ختیځ تیمورکې دالتهاب
اوچ... ...ې ځولسیزه جنګ تیرکړی دې. په لاندې مصاحبه (خبرواندو) کې ښاغلی
داسیلو... ...کي په اړه خپل نظروړاندی کړی دی.

ځرنګ... ...ه مسئلې باندې بدله شوه؟

دغه موضوع زمونږ تیرووختونوپورې اړوندیږي. زمونږ هیواد۲۴ کاله داندونیزیا او تردې دمخه ۴۵۰ کاله د پرتګال تر یرغل لاندې وان تردې چې زمونږ هیوادماشومان اوس هم زده کړی لپاره امکانات نه لري.زما هیواد نوی ښتیزهیواد دی اوتراوسه هم زده کړه او تحصیل دپرمختګ لپاره کافی اواړین وخت ن لرو،اوس پوښتنه داده چې هراړخیزې زده کړی ته ځرنګه وده او پرمختیاورکړو چې هراړخیزه زده کړې ته ځرنګه وده اوپرمختیا ورکړوچې زیاتره ماشومان ترې برخمن شي، هغه چې تراوسه تحصیل نه دی کړی،معلول ماشومان او هغه چې په کورکي پاتي دي،په څه ډول سره برنامه ورته مهمه ده، اوزمونږ دهیوادپوهنې وزارت په کلکه دهراړخیزی زده کړې غوښتونکی دی.

- تاسي په ختیځ تیمورکې دهراړخیزې زده کړی دپراختیا په برخه کي څه ستونزو سره مخامخ یئ؟

په اوس مها کې ترټولولویه ستونزه دانسان منابعواونورو امکاناتوکمښت دی، اوپه راتلونکې کېډ هراړخیزېدزده کړې لپاره دبرنامه جوړولوځرنګوالی چې ټول ماشومان ورڅخه برخمن شی.

- په ختیځ تیمورکې دمعلولواوبیلابیل قومی اقلیتونوماشومانولپاره دښوونځیواوتحصیل اوسنی حالت څه ډول دی؟

په اوسمهال کې ډیرمعلول ماشومان تحصیل او ښوونځې ته لاس رسی لري.

